# د عیسی مسیح په هکله د لوقا انجیل

## د کتاب پېژندنه

د لوقا انجیل د ۶۰ نه تر ۷۰ میلادي کلونو پورې د لوقا په نامه یو سړي لیکلی دی. لوقا یو غیریهودي ډاکتر او د پولوس رسول د نژدې ملګرو څخه ؤ. لوقا د پولوس سره د عیسی مسیح د زېري په رسولو کې مرسته کوله او زیات سفرونه یې ورسره کړي دي. هغه دا زېری چې د عیسی مسیح په هکله دی، د تیوفیلوس په نوم یو سړي ته چې یو لوړرتبه مامور ؤ، لیکلی ؤ (لوقا ۱:۱-۴). لوقا د څو عیني شاهدانو څخه معلومات راټول کړ او د روح القدس په لارښوونه یې د هغه څخه یو منظم او سم راپور د عیسی د ژوند په هکله جوړ کړ.

لوقا په دې انجیل کې دا بیانوي چې انسان څرنګه د عیسی مسیح په وسیله خلاصون ومومي. وروسته له هغې چې لومړني انسان ګناه وکړه او د خدای څخه لرې شو، هغه الهي نقشه چې د انسان د خلاصون په خاطر جوړه شوې وه او نبیانو د هغې په هکله نبوت کړی ؤ، د عیسی مسیح د ژوندانه په پېښو کې عملي شو.

د لوقا انجیل د عیسی مسیح په ژوند کې د هغه د زیږېدنې د وخت نه د اسمان تر ختلو پورې مهمې پېښې بیانوي. هغه په دې انجیل کې عیسی هم د یهودیانو او هم د نورو خلکو د خلاصوونکي په توګه وړپېژني. همدارنګه د لوقا انجیل د ټولنې د ټیټ موقف خلکو لکه غیریهودیانو، ښځو، کوشنیو، د ټولنې نه شړل شویو خلکو، غریبانو، محتاجو او معیوبو خلکو ته د عیسی په خدمت باندې ټینګار کوي. ټول انسانان مینې ته اړتیا لري او عیسی د مینې او محبت سرچینه ده. د انسان ډېر مهم او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اساسي درد ګناه ده او عیسی انسان ته د ګناه څخه خلاصون ورکوي. همدارنګه د لوقا په انجیل کې
په دعا، روح القدس، د عیسی په ماموریت یا خدمت کولو کې د ښځو په ونډه او د خدای له خوا د
ګناهونو په بخښنې باندې زیات ټینګار شوی دی.

د لوقا په انجیل کې اساسي ټینګار د خدای په پاچاهی باندې دی. دا هغه وخت دی چې خدای په
خلکو باندې حکومت کوي چې د خلکو او د ټولنې په ژوند کې مهم بدلونونه رامنځته کیږي. عیسی
د خدای په حکومت یا واکمنۍ کې ځانګړی ارزښت لري. هغه د مسیح یا وعده شوي پاچا په توګه
راغی، ترڅو په نړۍ کې د خدای حکومت رامنځته کړي.

## د موضوعګانو لست

سریزه: ۱:۱–۴

د تعمید غسل ورکوونکي یحیی او د عیسی مسیح زیږېدنه او ماشومتوب: ۱:۵ – ۲:۵۲

د تعمید غسل ورکوونکي یحیی ماموریت: ۳:۱–۲۰

د عیسی مسیح تعمید او ازمېښتونه: ۳:۲۱ – ۴:۱۳

په جلیل کې د عیسی مسیح خدمتونه: ۴:۱۴ – ۹:۵۰

له جلیل څخه تر اورشلیمه د عیسی مسیح تعلیم او معجزې: ۹:۵۱ – ۱۹:۲۷

په اورشلیم او د هغه په شاوخوا سیمو کې وروستنۍ هفته: ۱۹:۲۸ – ۲۳:۵۶

د عیسی بیا راژوندي کېدل، راښکاره کېدل او پورته ختل: ۲۴:۱–۵۳

# ۱

۱ ښاغلی تیوفیلوسه:

ډېرو خلکو کوښښ کړی دی ترڅو هغه پېښې بیان کړي چې زمونږ په منځ کې رامنځته شوې دي.
۲ هغوی هغه څه لیکلي دي چې مونږ ته د عیني شاهدانو او د خدای د کلام د خدمتګارانو له
خوا رارسېدلي دي. ۳ ښاغلی تیوفیلوسه، ما هم په خپل وار سره دا ټولې پېښې له پیل څخه په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غور سره وځېرلې، نو دا راته ښه ښکاره شوه چې هغه تاسو ته په ترتیب سره ولیکم. ۴ دا کار د
دې دپاره کوم ترڅو ته د هغو ټولو شیانو په هکله چې ورڅخه خبر شوی یې، په حقیقت پوه شې.

## د یحیی د زېږېدنې په هکله پېشګویي

۵ د یهودیې د پاچا هیرودیس په زمانه کې یو یهودي کاهن ؤ چې زکریا نومېده او د ابیا د ډلې
څخه ؤ. د هغه ښځه الیزابت نومېدله او هغه هم د هارون کاهن د کورنۍ څخه وه. ۶ هغوی دواړه
د خدای په نظر کې عادلان خلک وو او په پوره توګه یې د څښتن په ټولو قوانینو او حکمونو باندې
عمل کاوه. ۷ خو هغوی اولاد نه درلود، ځکه چې الیزابت شنډه وه او دواړه ډېر زاړه وو.

۸ کله چې د خدای په کور کې د خدمت وار د زکریا ډلې ته ورسېده، نو زکریا د کاهن په توګه
په خپله وظیفه کې بوخت شو. ۹ د کاهنانو د دود له مخې هغه د پچې په وسیله غوره شو، ترڅو
د خدای کور ته ننوځي او خوشبویي وسوځوي. ۱۰ د خوشبویۍ د سوځولو په وخت کې ګڼ
شمېر عبادت کوونکي دباندې ولاړ وو او دعا یې کوله. ۱۱ په دې وخت کې د څښتن یوه فرښته
زکریا ته ورښکاره شوه چې د قربانۍ د ځای ښي خواته چې خوشبویي په کې سوځېدله، ولاړه وه.
۱۲ کله چې زکریا هغه ولیدله، نو ټکان یې وخوړ او وېره ورباندې راغله. ۱۳ خو فرښتې هغه
ته وویل: «ای زکریا، مه وېرېږه! ستا دعا قبوله شوې ده او ستا ښځه الیزابت به تاته یو زوی
وزېږوي او ته به په هغه باندې یحیی نوم کېږدې. ۱۴ هغه به ستا دپاره د خوښۍ او خوشحالۍ
سبب شي او ډېر خلک به د هغه په زېږېدلو خوشحالي وکړي. ۱۵ ځکه چې هغه به د څښتن په
نظر کې لوی سړی وي. هغه باید هېڅکله شراب او یا داسې کوم شی ونه څښي چې ورباندې نشه
شي. هغه به د مور د ګېډې نه د روح القدس څخه ډک وي، ۱۶ او ډېر اسراییلیان به د خپل
څښتن خدای خواته راواړوي. ۱۷ یحیی به په هماغه روح او قدرت سره چې الیاس نبي درلود د
څښتن په مخکې روان وي، ترڅو پلرونه او اولادونه سره پخلا کړي، سرکښه کسان د نېکانو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حکمت نه ډکې لارې ته راوګرځوي او خلک د څښتن راتللو ته تيار کړي.»

۱۸ زکريا فرښتې ته وويل: «زه څنګه په دې باور کولای شم چې داسې به وشي؟ ځکه چې زه
زوړ سړی يم او ښځه مې هم زړه ده.» ۱۹ فرښتې په ځواب کې وويل: «زه جبراييل يم چې د
خدای په حضور کې ودرېږم. زه رالېږل شوی يم چې ستا سره خبرې وکړم او دا زېری درته درکړم.
۲۰ خو ګوره، ته به ګونګ شې او د دې شيانو تر پېښېدلو پورې به خبرې نه شې کولای، ځکه
چې تا زما په خبرو چې په ټاکلي وخت کې به رښتيا شي، باور ونه کړ.»

۲۱ په دې وخت کې خلکو د زکريا دپاره انتظار کاوه او حيران وو چې هغه ولې د خدای په کور
کې دومره زيات وخت تېر کړ. ۲۲ کله چې هغه راووت، د هغوی سره يې خبرې نه شوې کولای.
نو دوی پوه شول چې هغه د خدای په کور کې کومه رويا ليدلې، ځکه چې هغوی ته يې په لاسونو
اشارې کولې، خو خبرې يې نه شوې کولای.

۲۳ کله چې د خدای په کور کې د زکريا د خدمت موده پای ته ورسېدله، نو هغه بېرته خپل کور
ته لاړ. ۲۴ څه موده وروسته د هغه ښځه اليزابت اميدواره شوه او پنځه مياشتې يې خپل ځان د
خلکو څخه پټ وساته او د خپل ځان سره به يې ويل: ۲۵ «څښتن اوس زما دپاره دا کار وکړ او
په ما يې رحم وکړ او زه يې د خلکو په مخکې د شرم څخه خلاصه کړم.»

## د عيسی مسيح د زېږېدنې په هکله پېشګويي

۲۶ د اليزابت د اميدوارۍ په شپږمه مياشت خدای جبراييل فرښته د جليل په ولايت کې د ناصرې
په نوم يو ښار ته ولېږله، ۲۷ ترڅو يوې پېغلې ته چې د يوسف نومې سړي سره يې چې د داود
پاچا د کورنۍ څخه ؤ کوژدن شوې وه، ورشي. د هغې پېغلې نوم مريم ؤ. ۲۸ فرښته هغې ته راغله
او ورې ويل: «سلام په تا چې ډېر فضل درباندې شوی دی، څښتن ستا سره مل دی.» ۲۹ مريم د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرښتې په خبره ډېره وارخطا شوه او په فکر کې ډوبه شوه چې د دې خبرو معنی به څه وي. ۳۰
فرښتې هغې ته وویل: «ای مریمې، مه ویرېږه! خدای په تا مهربانه شوی دی. ۳۱ ګوره، ته به
امیدواره شې او زوی به دې وشي او د هغه نوم به عیسی کېږدې. ۳۲ هغه به لوی شخصیت وي او
د خدای تعالی د زوی په نوم به یاد شي. څښتن خدای به د هغه د نیکه داود تخت هغه ته ورکړي.
۳۳ هغه به د تل دپاره د یعقوب په اولادې باندې پاچاهي کوي او د هغه پاچاهي به هېڅکله نه
ختمېږي.» ۳۴ مریم فرښتې ته وویل: «داسې څنګه کېدای شي؟ زه لا پېغله یم او تراوسه واده
شوې نه یم.» ۳۵ فرښتې په ځواب کې وویل: «په تا به روح القدس نازل شي او د خدای تعالی
قدرت به په تا باندې سیوری وکړي او له دې امله به هغه سپېڅلی ماشوم د خدای تعالی د زوی په
نوم یاد شي. ۳۶ وګوره، ستا خپلوانه الیزابت به هم په زاړه عمر کې زوی راوړي. سره له دې چې
هغې ته شنډه ویل کېدله، خو اوس شپږ میاشتې کېږي چې امیدواره ده. ۳۷ ځکه چې د خدای
دپاره هېڅ کار ناشونی نه دی.» ۳۸ مریم وویل: «زه د څښتن خدمتګاره یم. تا چې څه وویل
هماغسې دې وشي.» او فرښته ورڅخه لاړه.

## مریم د الیزابت لیدلو ته ورځي

۳۹ څه موده وروسته مریم روانه شوه او په بیړه یو ښار ته چې د یهودیې په غرنۍ سیمه کې ؤ،
لاړه. ۴۰ هغه د زکریا کور ته ورننوتله او په الیزابت یې سلام واچاوه. ۴۱ کله چې الیزابت د
مریم سلام واورېد، نو په ګېډه کې یې ماشوم ټوپونه ووهل. الیزابت د روح القدس نه ډکه شوه ۴۲
او په لوړ اواز سره یې وویل: «ته په ټولو ښځو کې ډېره مبارکه ښځه یې او هغه ماشوم مبارک دی
چې ستا نه به پیدا شي! ۴۳ زه څوک یم چې زما د بادار مور دې زما لیدلو ته راشي؟ ۴۴ کله
چې ستا د سلام اواز زما تر غوږ شو، نو ماشوم له خوشحالۍ نه زما په ګېډه کې ټوپونه ووهل. ۴۵
ته څومره بختوره یې چې په دې باندې دې باور وکړ چې څښتن درته څه ویلي وو هغه به پوره
شي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مریم د ثنا او صفت سندره

۴۶ مریم وویل:

«بیانوي مې زړه لویي د څښتن

۴۷ دی زما روح خوشحاله

ځکه خدای مې دی ژغورونکی

۴۸ ځکه زه یې کړمه یاده، خپله عاجزه خدمتګاره

له همدې اوس نه به ټول خلک ما بختوره بولي

۴۹ ځکه قادر خدای کړي لوی کارونه ماته

چې سپېڅلی یې دی نوم

۵۰ د یو نسل نه تر بله کړي رحمت

په هغو خلکو باندې چې کوي وېره ځینې

۵۱ هغه کړي دي قوي کارونه په خپلو متو

کبرجن خلک یې خواره واره کړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپلو زړونو د خیالونو سره

٥٢ راغورځولي يې شاهان خپلو تختونو څخه

سرلوړي کړي يې دي عاجزه خلک

٥٣ ماړه کړي يې دي وږي په ښو شيانو

شتمن خلک يې شړلي تش لاسونه

٥٤ مرسته يې کړې د خپل خادم اسراييلو سره

رحم يې کړی تل په خپلو خلکو

٥٥ لکه يې څنګه چې وعده کړې وه زمونږ نيکونو،

ابراهيم او اولادې سره يې د تل دپاره»

٥٦ مريم نژدې درې مياشتې د اليزابت سره پاتې شوه او بيا بېرته خپل کور ته لاړه.

## د يحيی زېږېدنه

٥٧ هغه وخت راورسېد چې اليزابت ماشوم وزېږوي او د هغې زوی پيدا شو. ٥٨ ګاونډيانو او
خپلوانو يې واورېدل چې څښتن په هغې باندې ډېر رحم کړی دی او ټولو ورسره خوشحالي وکړه.
٥٩ کله چې ماشوم د اتو ورځو شو، نو هغوی راغلل چې سنت يې کړي او غوښتل يې چې د
خپل پلار زکريا نوم پرې کېږدي. ٦٠ خو مور يې وويل: «نه، د هغه نوم به يحيی وي.» ٦١

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ورته وویل: «خو ستاسو په خپلوانو کې په دې نوم څوک نشته.» ۶۲ بیا هغوی د هغه پلار
ته اشاره وکړه او پوښتنه یې ترې وکړه چې په ماشوم باندې کوم نوم غواړي کېږدي. ۶۳ زکریا یوه
تخته راوغوښتله او په هغې باندې یې ولیکل: «د هغه نوم یحیی دی.» هغوی ټول ډېر حیران شول.
۶۴ زکریا سمدلاسه بېرته په خبرو راغی او خدای ته په ثنا ویلو یې پیل وکړ. ۶۵ ټول ګاونډیان
ووېرېدل او د یهودیې په ټوله غرنۍ سیمه کې خلکو د دې شیانو په هکله خبرې کولې. ۶۶ هرچا
چې دا خبره اورېدله، نو د هغې په هکله یې فکر کاوه او پوښتنه یې کوله: «د دې ماشوم څخه به څه
جوړ شي؟» ځکه چې د څښتن لاس د هغه په سر باندې ؤ.

## د زکریا پېشګویي

۶۷ د یحیی پلار زکریا د روح القدس نه ډک شو او د خدای پیغام یې ورکړ:

۶۸ «ثنا او صفت دې وي څښتن ته چې دی خدای د اسراییلو

ځکه راغی چې وکړي مرسته د خپل قوم سره چې کړي ازاد هغوی

۶۹ هغه پیدا کړ مونږ ته زورور ژغورونکی

د اولادې نه د داود چې خدمتګار یې ؤ خپل

۷۰ لکه څنګه چې پخوا یې وو ویلي

په خوله د سپېڅلو پخوانیو پیغمبرانو

۷۱ چې مو خلاص کړي د خپلو دښمنانو څیني

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغو خلکو څخه چې کوي کرکه له مونږ

۷۲ رحم به وکړي هغه زمونږ نيکونو باندې

او رايادوي به خپل سپېڅلی لوظ

۷۳ هغه قسم چې ؤ خوړلی هغه

زمونږ د نيکه ابراهيمه سره

۷۴ چې به کړي خلاص هغه مونږ له دښمنانو ځينې

چې بې له وېرې وکړو مونږه خدمت د هغه

۷۵ په ټول ژوندون کې د پاکۍ او عدالت سره

۷۶ او ای ماشومه زما

ته به يادېږې پيغمبر د خدای تعالی

ځکه چې ځې به له څښتنه مخکې

چې کړې تياره لاره ته د هغه دپاره

۷۷ چې په دې پوه کړې قوم د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې دوی به ومومي خلاصون

د خپلو ګناهونو په بخښلو سره

۷۸ زمونږ د خدای د رحم او مهربانی په سبب

په مونږ را وبه خيږي لمر د سهار

پاس له اسمانه څخه

۷۹ ترڅو چې راولي رڼا په هغو خلکو باندې

چې تيروي ژوند په تيارو کې د مرګ

او برابر کړي قدمونه زمونږ د سولې او سلامتی په لاره»

۸۰ هغه ماشوم غټيده او په روحاني توګه قوي کيده او تر هغه وخته پورې په دښته کې اوسيده،
ترڅو د اسراييلو خلکو ته په څرګنده توګه ورښکاره شو.

## د عيسی زيږيدنه

(متي ۱:۱۸-۲۵)

۲ ۱ په هغه وخت کې امپراتور اګوستوس د روم په ټوله امپراتورئ کې د سرشميرنې په خاطر
يو فرمان جاري کړ. ۲ دا لومړنی سرشميرنه وه چې د سوريې د والي کرينوس په وخت کې
وشوه. ۳ هرڅوک خپل ښار ته لاړ چې خپل نوم وليکي. ۴ نو يوسف هم د جليل د ناصرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښار ښخه د یهودیې د ولایت د بیت‌لحم ښار ته چې د داود پاچا د زېږېدنې ځای ؤ لاړ، ځکه
چې هغه د داود د کورنۍ ښخه ؤ. ۵ یوسف د مریم سره چې کوژدنه یې وه او امیدواره وه، د نوم
لیکنې دپاره هلته لاړ. ۶ او کله چې هغوی په بیت‌لحم کې وو د هغې د ماشوم د زېږېدلو وخت
راورسېد. ۷ هغې خپل لومړنی اولاد چې هلک ؤ، وزېږاوه. هغه یې په اورنې کې تاو کړ او په
آخور کې یې کېښود، ځکه چې په مسافرخانه کې د هغوی دپاره ځای نه ؤ.

## شپنو ته د فرښتو زېری

۸ په هغې سیمه کې څو شپانه وو چې په شاوخوا ځمکو کې اوسېدل او د شپې به یې په خپلو
رمو باندې پام کاوه. ۹ د څښتن فرښته هغوی ته ښکاره شوه او د څښتن د جلال رڼا په هغوی
باندې وځلېدله. هغوی سختووېرېدل. ۱۰ خو فرښتې هغوی ته وویل: «مه وېرېږئ، ما تاسو ته
یو زېری راوړی چې د ټولو خلکو دپاره به یوه لویه خوشحالي وي. ۱۱ همدا نن د داود په ښار
کې ستاسو دپاره یو خلاصوونکی زېږېدلی دی چې هغه مسیح او څښتن دی. ۱۲ او ستاسو دپاره
به دا نښه وي چې یو ماشوم به پیدا کړئ چې په اورنې کې به تاو شوی وي او په آخور کې به
پروت وي.» ۱۳ ناڅاپه د هغې فرښتې سره یو لوی اسمانې لښکر راښکاره شو چې د خدای دا ثنا
یې ویله:

۱۴ «خدای ته دې وي جلال په لوړو اسمانونو کې

او سوله او سلامتي دې وي په ځمکه باندې

په هغو خلکو باندې چې ترې راضي دی هغه»

۱۵ کله چې فرښتې هغوی پرېښودل او بېرته اسمان ته لاړې، نو شپنو یو بل ته سره وویل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«راځئ چې بیت‌لحم ته لاړ شو او هغه څه چې پېښ شوي دي او څښتن موږ د هغې څخه خبر
کړي يو، ووينو.» ۱۶ نو هغوی په منډه لاړل، مريم او يوسف يې پيدا کړل او ويې ليدل چې ماشوم
په آخور کې پروت دی. ۱۷ کله چې شپنو هغه ماشوم وليده، نو څه چې يې د هغه په هکله
اورېدلي وو، ټول يې خبر کړل. ۱۸ هرچا چې د شپنو خبرې اورېدلې، نو حيران پاتې کېدل. ۱۹
خو مريم دا ټول شيان په خپل زړه کې ساتل او د هغو په هکله يې ډېر فکر کاوه. ۲۰ شپانه بېرته
لاړل او څه چې يې اورېدلي او ليدلي وو د هغې دپاره يې د خدای لويې بيانوله او ثنا يې ويله، ځکه
دا هغه څه وو چې فرښتې هغوی ته ويلي وو.

## په عيسی باندې نوم اېښودل

۲۱ په اتمه ورځ کله چې د ماشوم د سنتولو وخت راورسېد، نو په هغه يې عيسی نوم کېښود. دا
هغه نوم ؤ چې مخکې له دې چې مريم اميدواره شي فرښتې ورباندې اېښی ؤ.

## خدای ته د عيسی وقف کېدل

۲۲ کله چې د موسی د شريعت له مخې د يوسف او مريم د پاکوالي د مراسمو وخت راورسېد، نو
هغوی هغه ماشوم اورشليم ته بوته چې څښتن ته يې وړاندې کړي. ۲۳ لکه څنګه چې په شريعت
کې ليکل شوي دي: «هر لومړنی نر ماشوم چې پيدا شي بايد څښتن ته وقف شي.» ۲۴ نو هغوی
د شريعت له مخې قرباني وکړه يعنې يوه جوړه کوترې يا دوه ځوانې قمري‌ګانې.

۲۵ په هغه وخت کې په اورشليم کې د شمعون په نوم يو سړی اوسېده. هغه يو عادل او پرهېزګاره
سړی ؤ او د اسراييلو د ژغورنې انتظار يې کاوه او روح القدس ورسره ؤ. ۲۶ روح القدس شمعون
ته دا په ښکاره ويلي وو چې ترڅو پورې د څښتن له خوا وعده شوی مسيح ونه ويني، ته به نه مړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کیږي. ۲۷ شمعون د روح القدس په لارښوونه دننه د خدای کور ته راغی. کله چې د عیسی مور
او پلار ماشوم هلته راوست ترڅو د هغه دپاره هغه څه وکړي چې د موسی شریعت یې غوښتنه
کوله، ۲۸ نو شمعون هغه ماشوم په غېږ کې واخیست او د خدای ثنا یې وویله:

۲۹ «ای څښتن تعالی، اوس دې رخصت کړه

خپل خادم د دې نړۍ نه په سلامتۍ سره

لکه چې څنګه تا وعده کړې وه

۳۰ ځکه چې ما ستا خلاصون ولیده په خپلو سترګو

۳۱ هغه خلاصون چې تیار کړی دی تا

د ټولو خلکو په حضور کې

۳۲ یوه رڼا چې به ښکاره کړي اراده ستا

غیریهودو ته

او ستا قوم اسراییل به کړي سرلوړی»

۳۳ د ماشوم مور او پلار په هغو خبرو چې شمعون د هغه په هکله وکړې، حیران شول. ۳۴
شمعون د هغوی دپاره د خیر دعا وکړه او د عیسی مور مریم ته یې وویل: «دا ماشوم په اسراییلو کې
د ډېرو د بربادۍ او یا سرلوړۍ دپاره د خدای له خوا غوره شوی دی. هغه د خدای له خوا یوه نښه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده چې ډېر خلک به يې مخالفت وکړي ۳۵ او په دې ډول به د ډېرو زړونو پټ خيالونه ښکاره شي. او ای مريمې، غم به لکه د تېرې تورې په شان ستا زړه هم سوری سوری کړي.»

۳۶ هلته يوه پيغمبره وه چې حنا نومېدله او ډېره زړه وه، هغه د فنوييل لور وه او د اشير د قبيلې ښځه وه. هغه د واده ښځه وروسته يوازې اووه کاله د خپل مېړه سره واوسېدله او له هغې وروسته يې مېړه مړ شو. ۳۷ په هغه وخت کې هغه تر څلوراتيا کلونو پورې کونډه وه. هغه هېڅکله د خدای د کور څخه نه وتله، بلکې شپه او ورځ به يې په روژه نيولو او دعا کولو سره د خدای عبادت کاوه. ۳۸ حنا په هماغه وخت کې يوسف او مريم ته راغله، د خدای شکر يې وويست او د هغو ټولو خلکو سره يې چې د اورشليم د ازادۍ په تمه وو د هغه ماشوم په هکله خبرې وکړې.

## عيسی په ناصرې کې لوی شو

۳۹ کله چې يوسف او مريم هرڅه د شريعت له مخې سرته ورسول، نو بېرته خپل ښار ناصرې ته چې په جليل کې ؤ، راستانه شول. ۴۰ هغه ماشوم لوی او قوي شو، هغه د حکمت څخه ډک ؤ او د خدای فضل ورسره ؤ.

## دولس کلن عيسی د خدای په کور کې

۴۱ د عيسی مور او پلار به هر کال د فسحې د اختر دپاره اورشليم ته تلل. ۴۲ کله چې عيسی دولس کلن شو، نو هغوی د خپل دود او دستور له مخې د اختر دپاره اورشليم ته لاړل. ۴۳ کله چې د اختر ورځې پای ته ورسېدلې، هغوی بېرته خپل کور ته روان شول او عيسی چې لا کوچنی هلک ؤ په اورشليم کې پاتې شو، خو د هغه مور او پلار ترې خبر نه وو. ۴۴ هغوی ګومان کاوه چې عيسی د نورو مسافرو په ډله کې روان دی. هغوی ټوله ورځ سفر وکړ او بيا يې د خپلو خپلوانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ملګرو په منځ کې د هغه په لټولو پیل وکړ. ۴۵ کله یې چې هغه پیدا نه کړ، نو بېرته اورشلیم ته
لاړل ترڅو هغه ولټوي. ۴۶ درې ورځې وروسته یې هغه د خدای په کور کې پیدا کړ چې د دیني
عالمانو سره ناست ؤ، هغوی ته یې غوږ نیولی ؤ او پوښتنې یې ترې کولې. ۴۷ هرچا چې د عیسی
خبرې اورېدلې، نو د هغه پوهې او ځوابونو ته حیران پاتې کېدل. ۴۸ کله چې مور او پلار یې هغه
ولیده، نو حیران شول او مور یې ورته وویل: «ګوره زویه، مونږ سره دې ولې داسې وکړل؟ ما او
پلار دې په ډېرې اندېښنې سره ته لټولې.» ۴۹ هغه ورته وویل: «تاسو ولې زه لټولم؟ ایا په دې نه
پوهېدلئ چې زه باید د خپل پلار په کور کې واوسم؟» ۵۰ خو هغوی د هغه د خبرې په مقصد پوه
نه شول. ۵۱ نو عیسی د هغوی سره بېرته ناصرې ته لاړ او د هغوی تابع ؤ. مور یې دا ټولې
خبرې په خپل زړه کې ساتلې. ۵۲ عیسی د قد او حکمت په لحاظ لویېده او د خدای او خلکو
خوښېده.

## د تعمید غسل ورکوونکي یحیی وعظ

(متي ۳:۱–۱۲ او مرقوس ۱:۱–۸ او یوحنا ۱:۱۹–۲۸)

۳ ۱ د تیبریوس امپراتور د حکومت په پنځلسم کال کله چې پانتیاس پیلاتوس د یهودیې والي
ؤ او هیرودیس د جلیل حاکم ؤ او د هغه ورور فیلیپوس د ایتوریې او ترخونیتس د سیمو حاکم او
لیسانیوس د آبیلینې حاکم ؤ، ۲ او حناس او قیافا لوی کاهنان وو، په هغه وخت کې د خدای
کلام په دښته کې د زکریا په زوی یحیی باندې نازل شو. ۳ نو یحیی د اردن د سیند شاوخوا ټوله
سیمه کې ګرځېده او وعظ یې کاوه چې د خپلو ګناهونو د بخښنې په خاطر توبه وباسئ او د تعمید
غسل واخلئ. ۴ لکه څنګه چې د اشعیا پیغمبر په کتاب کې لیکل شوي دي:

یو څوک چیغې وهي دښته کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کږئ تیاره د ښښتن دپاره لاره

لاره کږئ سمه د هغه دپاره

۵ ډکه به شي هره دره

هواره به شي هره غونډۍ او غر

کږې لارې به شي سمې

او شي به هوار کنډ او کپر ځایونه

۶ بیا به وویني ټول انسانان د خدای خلاصون

۷ یحیی هغو ګڼ شمیر خلکو ته چې د هغه په لاس د تعمید غسل اخیستلو ته راغلي وو، وویل:
«ای د مارانو بچیانو! تاسو چا خبر کړئ چې د راتلونکي غضب څخه وتښتئ؟ ۸ نو بیا داسې
کارونه وکړئ، ترڅو دا وښايي چې تاسو د ګناهونو نه توبه ویستلې ده. د خپلو ځانونو سره داسې مه
وایئ چې ابراهیم زمونږ پلار دی. ځکه چې زه درته وایم چې خدای کولای شي د دې تیږو څخه
هم ابراهیم ته اولادونه پیدا کړي. ۹ همدااوس د ونو بېخونو ته تبر نیول شوی دی او هره ونه
چې ښه مېوه نه نیسي، هغه به ووهل شي او په اور کې به واچول شي.»

۱۰ خلکو د هغه څخه پوښتنه وکړه: «نو بیا مونږ څه وکړو؟» ۱۱ هغه ځواب ورکړ: «څوک چې
دوه کمیسونه لري، نو یو دې هغه چاته ورکړي چې نه یې لري او همدارنګه چا سره چې خواړه وي
هغه دې هم د نورو سره ووېشي.» ۱۲ مالیه ټولوونکي هم د تعمید د غسل اخیستلو دپاره راغلل
او پوښتنه یې ترې وکړه: «ای استاذه! مونږ باید څه وکړو؟» ۱۳ هغه ځواب ورکړ: «د ټاکل شوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اندازې څخه زیاته مالیه مه اخلئ.» ۱۴ همدارنګه ځینو عسکرو هم ورڅخه پوښتنه وکړه: «او
مونږ څه وکړو؟» هغوی ته یې وویل: «د چا څخه په زوره پیسې مه اخلئ او په هیچا باندې په
دروغو تور مه لګوئ. په خپله تنخوا باندې قناعت وکړئ.»

۱۵ خلکو انتظار کاوه او په خپلو زړونو کې یې د یحیی په هکله فکر کاوه چې هغه به مسیح وي
که نه. ۱۶ نو یحیی هغوی ټولو ته وویل: «زه تاسو ته په اوبو باندې د تعمید غسل درکوم، خو یو
څوک راروان دی چې هغه زما څخه ډېر زورور دی. زه حتی د دې لایق هم نه یم چې د هغه د
څپلیو تسمې خلاصې کړم. هغه به تاسو ته په روح القدس او په اور باندې د تعمید غسل درکوي.
۱۷ هغه خپله ښاخی په لاس کې نیولې ده چې خپل درمند پاک کړي او غنم په خپل ګودام کې
سره راټول کړي، خو بوس به په هغه اور کې سوځوي چې هېڅکله نه مړ کیږي.»

۱۸ یحیی په ډېرو نورو طریقو خلک هڅول او هغوی ته یې زیری اوراوه. ۱۹ خو یحیی
هیرودیس والي د خپلې ورېنداري هیرودیا سره د ناروا اړیکو درلودلو او نورو ټولو بدو کارونو له
امله ملامت کړ. ۲۰ بیا زندان ته د یحیی په اچولو سره هیرودیس یو بل بد کار هم وکړ.

## عیسی د تعمید غسل اخلي

(متي ۳:۱۳-۱۷ او مرقوس ۱:۹-۱۱)

۲۱ کله چې ټولو خلکو ته د تعمید غسل ورکړل شو، نو عیسی ته هم د تعمید غسل ورکړل شو.
کله چې هغه دعا کوله نو د اسمان دروازه پرانیستل شوه ۲۲ او روح القدس په هغه باندې د
کوترې په شکل رانازل شو او د اسمان څخه یو اواز راغی: «ته زما ګران زوی یې. زه ستا نه
خوشحاله یم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسی شجره

(متي ۱:۱–۱۷)

۲۳ عیسی شاوخوا د دېرشو کالو په عمر ؤ چې خپل خدمت يې پيل کړ او خلکو ګومان کاوه چې
هغه د يوسف زوی دی. يوسف د هالي زوی ؤ، ۲۴ هالي د متات زوی ؤ، متات د لاوي زوی ؤ،
لاوي د ملکي زوی ؤ، ملکي د ينا زوی ؤ، ينا د يوسف زوی ؤ، ۲۵ يوسف د متاتيا زوی ؤ، متاتيا
د عاموس زوی ؤ، عاموس د ناحوم زوی ؤ، ناحوم د حسلي زوی ؤ، حسلي د نجي زوی ؤ، ۲۶
نجي د مات زوی ؤ، مات د متاتيا زوی ؤ، متاتيا د شمعي زوی ؤ، شمعي د يوسک زوی ؤ، يوسک
د يوداه زوی ؤ، ۲۷ يوداه د يوحنا زوی ؤ، يوحنا د ريسا زوی ؤ، ريسا د زروبابل زوی ؤ،
زروبابل د شالتي‌ييل زوی ؤ، شالتي‌ييل د نيري زوی ؤ، ۲۸ نيري د ملکي زوی ؤ، ملکي د آدي
زوی ؤ، آدي د قوسام زوی ؤ، قوسام د ايلمودام زوی ؤ، ايلمودام د عير زوی ؤ، ۲۹ عير د يوشع
زوی ؤ، يوشع د ايلعازر زوی ؤ، ايلعازر د يوريم زوی ؤ، يوريم د متات زوی ؤ، متات د لاوي زوی
ؤ، ۳۰ لاوي د شمعون زوی ؤ، شمعون د يهودا زوی ؤ، يهودا د يوسف زوی ؤ، يوسف د يونان
زوی ؤ، يونان د ايلياقيم زوی ؤ، ۳۱ ايلياقيم د مليا زوی ؤ، مليا د مينان زوی ؤ، مينان د متاتا
زوی ؤ، متاتا د ناتان زوی ؤ، ناتان د داود زوی ؤ، ۳۲ داود د يسي زوی ؤ، يسي د عوبيد زوی ؤ،
عوبيد د بوعز زوی ؤ، بوعز د شلمون زوی ؤ، شلمون د نحشون زوی ؤ، ۳۳ نحشون د عميناداب
زوی ؤ، عميناداب د ادمين زوی ؤ، ادمين د ارام زوی ؤ، آرام د حزرون زوی ؤ، حزرون د فارز
زوی ؤ، فارز د يهودا زوی ؤ، ۳۴ يهودا د يعقوب زوی ؤ، يعقوب د اسحاق زوی ؤ، اسحاق د
ابراهيم زوی ؤ، ابراهيم د تارح زوی ؤ، تارح د ناحور زوی ؤ، ۳۵ ناحور د سروج زوی ؤ، سروج
د رعو زوی ؤ، رعو د فلج زوی ؤ، فلج د عابر زوی ؤ، عابر د صالح زوی ؤ، ۳۶ صالح د قينان
زوی ؤ، قينان د ارفکشاد زوی ؤ، ارفکشاد د سام زوی ؤ، سام د نوح زوی ؤ، نوح د لامک زوی ؤ،
۳۷ لامک د متوشالح زوی ؤ، متوشالح د خنوخ زوی ؤ، خنوخ د يارد زوی ؤ، يارد د مهللييل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوی ؤ، مهللييل د قينان زوی ؤ، ۳۸ قينان د انوش زوی ؤ، انوش د شيت زوی ؤ، شيت د آدم
زوی ؤ، او آدم د خدای له طرفه ؤ.

## د عيسى ازمېښت

(متي ۱:۴-۱۱ او مرقوس ۱:۱۲-۱۳)

۴ ۱ عيسى چې د روح القدس څخه ډک ؤ، د اردن د سيند څخه راستون شو او هماغه روح
هغه دښتې ته بوته ۲ او په هغه ځای کې څلوېښت ورځې د شيطان تر ازمېښت لاندې ؤ. په هغو
ورځو کې هغه هېڅ ونه خوړل او په پای کې ډېر وږی شو. ۳ شيطان هغه ته وويل: «که ته د
خدای زوی يې، نو دې تيږې ته ووايه چې په ډوډۍ بدله شي.» ۴ خو عيسى ځواب ورکړ: «د
خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

انسان يوازې په ډوډۍ باندې ژوندی نه دی.»

۵ بيا شيطان هغه يو لوړ ځای ته بوته او د سترګو په رپ کې يې ورته د ټولې نړۍ پاچاهۍ
وروښودلې. ۶ شيطان هغه ته وويل: «زه به د دې ټولو واک او اختيار او د هغو شان او شوکت
تاته درکړم، ځکه چې دا ماته راکړل شوي دي او هرچا ته چې زه وغواړم هغه ته يې ورکوم. ۷
که چېرې ته ماته سجده وکړې، نو دا ټول به ستا شي.» ۸ عيسى په ځواب کې وويل:

د خدای په کلام کې ليکل شوي دي چې خپل څښتن خدای ته عبادت کوه او يوازې د هغه خدمت
کوه.

۹ بيا شيطان هغه اورشليم ته بوته او د خدای د کور په مناره يې ودراوه او ورته ويې ويل: «که

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرې ته د خدای زوی یې، نو خپل ځان له دې ځای نه ښکته وغورځوه. ۱۰ ځکه چې د خدای
په کلام کې لیکل شوي دي:

خدای به خپلو فرښتو ته حکم وکړي چې تا وساتي.

۱۱ همدارنګه لیکل شوي دي:

هغوی به تا په خپلو لاسونو کې پورته کړي، ترڅو ستا پښه په تیږه ونه لګېږي.»

۱۲ خو عیسی په ځواب کې ووېل:

د خدای په کلام کې وېل شوي دي چې خپل څښتن خدای مه ازمایئ.

۱۳ کله چې شیطان ټولې وسوسې پای ته ورسولې، نو هغه یې د یو څه وخت دپاره پرېښود.

## په جلیل کې د عیسی د کار پیل

(متي ۴:۱۲–۱۷ او مرقوس ۱:۱۴–۱۵)

۱۴ عیسی د روح القدس په قدرت سره جلیل ته راستون شو. د هغه په هکله په ټوله سیمه کې
اوازه خپره شوه. ۱۵ هغه د یهودیانو په کنیسو کې تعلیم ورکاوه او ټولو خلکو د هغه ستاینه کوله.

## د ناصرې خلک عیسی نه مني

(متي ۱۳:۵۳–۵۸ او مرقوس ۶:۱–۶)

۱۶ بیا عیسی د ناصرې ښار ته، یعنې هغه ځای ته چې هغه په کې لوی شوی ؤ راغی او لکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځنګه چې د هغه عادت ؤ، نو د سبت په ورځ کنيسې ته لاړ. هغه هلته ودرېده چې د خدای کلام
ولولي ۱۷ او د اشعيا پيغمبر طومار ورته ورکړل شو. هغه يې پرانيست او هغه ځای يې پيدا کړ
چې په کې ليکل شوي وو:

۱۸ «د څښتن روح په ما باندې نازل شوی دی

ځکه چې زه يې مسح کړی يم

ترڅو غريبانو ته زېرې ورسوم

هغه زه رالېږلی يم چې اعلان وکړم

چې بنديان به ازاد شي

ړانده به بينا شي او مظلومان به ازاد شي

۱۹ او دا اعلان کړم چې د څښتن د مهربانۍ وخت رارسېدلی دی.»

۲۰ عيسی طومار بند کړ او هغه يې بېرته د کنيسې مسوول کس ته ورکړ او کښېناست. ټولو خلکو
په کنيسه کې د هغه خواته سترګې نيولې وې. ۲۱ عيسی هغوی ته وويل: «نن چې تاسو د خدای د
کلام دا ليکنه واورېدله، هغه رښتيا شوه.» ۲۲ هغوی ټولو په هغه باندې ښه وويل او په دې حيران
شول چې داسې د فضل خبرې د هغه د خولې څخه راووتلې او ويل يې: «ايا دا د يوسف زوی نه
دی؟» ۲۳ عيسی هغوی ته وويل: «بې له شکه چې تاسو به ماته دا متل ووايئ: ‹ای ډاکتره! خپل
ځان روغ کړه.› دا به هم راته ووايئ چې کوم کارونه چې تا د کپرناحوم په ښار کې کړي دي او
مونږ د هغو په هکله اورېدلي، هماغه کارونه په خپل ښار کې هم وکړه.» ۲۴ عيسی زياته کړه: «په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې هيڅ پيغمبر په خپل وطن کې چا نه دی منلی. ۲۵ دا رښتيا دي
چې د الياس پيغمبر په زمانه کې په اسراييلو کې ډېرې کونډې وې. په هغه وخت کې درې نيم کاله
بارانونه نه وو شوي او په ټول وطن کې سخته قحطي راغلې وه. ۲۶ خو الياس په هغو کونډو کې
يوې ته هم د مرستې دپاره ونه لېږل شو، خو يوازې هغې کونډې ته ولېږل شو چې د صيدون د
زرفت په سيمه کې وه. ۲۷ همدارنګه د اليشع نبي په زمانه کې په اسراييلو کې ډېر خلک وو چې
د جذام په ناروغۍ اخته وو، خو د هغوی څخه يو هم پاک او روغ نه شو، يوازې نعمان چې
سوريايي وُ، روغ شو.» ۲۸ کله چې په کنيسه کې خلکو دا خبرې واورېدلې نو ډېر په قهر شول.
۲۹ هغوی راپاڅېدل او عيسی يې د ښار څخه وويست او د هغې غونډۍ سرته يې وخېژاوه چې دا
ښار ورباندې جوړ شوی وُ، ترڅو لاندې يې وغورځوي. ۳۰ خو هغه د هغوی له منځ څخه تېر
شو او لاړ.

## عيسی پېريانو نيولي سړي ته شفا ورکوي

(مرقوس ۱:۲۱–۲۸)

۳۱ بيا عيسی کپرناحوم ته چې د جليل يو ښار وُ لاړ او د سبت په ورځ يې خلکو ته تعليم
ورکاوه. ۳۲ خلک د هغه په تعليم حيران شول، ځکه چې په پوره اختيار سره يې خبرې کولې.
۳۳ په کنيسه کې يو سړی وُ چې پېريانو نيولی وُ او په لوړ اواز يې چيغې ووهلې: ۳۴ «ای
ناصري عيسی! زمونږ سره څه کار لرې؟ ته راغلی يې چې مونږ تباه کړې؟ زه دې پېژنم چې ته
څوک يې، ته د خدای سپېڅلی يې.» ۳۵ عيسی پېري ته حکم وکړ: «غلی شه او د دې سړي
څخه راووځه.» پېري هغه سړی د هغوی په مخکې په ځمکه راوويشت او بې له دې چې کوم زيان
ورته ورسوي ورڅخه ووت. ۳۶ ټول خلک حيران شول او يو بل ته يې ويل: «دا څه خبره ده
چې دا سړی په پوره اختيار او قدرت سره پېريانو ته امر کوي او هغوی وځي؟» ۳۷ او په دې
ډول دا خبره په ټوله سيمه کې خپره شوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی ډېرو خلکو ته شفا ورکوي

(متي ۸:۱۴-۱۷ او مرقوس ۱:۲۹-۳۴)

۳۸ عیسی د کنیسې څخه راووت او د شمعون کور ته لاړ. د شمعون خواښې سختې تبې نیولې وه
او هغوی د عیسی څخه وغوښتل چې د هغې سره مرسته وکړي. ۳۹ عیسی لاړ او د هغې په خوا
کې ودرېده او تبې ته یې امر وکړ چې هغه پرېږدي. تبې هغه ښځه پرېښودله، بیا ښځه سمدلاسه
پاڅېدله او د هغوی خدمت یې پیل کړ.

۴۰ د لمر پرېوتولو په وخت کې ٱخلکو خپل ناروغان چې په ډول ډول ناروغیو اخته وو عیسی ته
راوستل. هغه په هر یو باندې خپل لاس کېښود او ټول یې روغ کړل. ۴۱ د ډېرو خلکو څخه
پېریان ووتل او چیغې یې وهلې: «ته د خدای زوی یې.» خو عیسی پېریانو ته حکم وکړ او هغوی
یې پرېنښودل چې خبرې وکړي، ځکه هغوی پوهېدل چې هغه مسیح دی.

## عیسی په کنیسه کې وعظ کوي

(مرقوس ۱:۳۵-۳۹)

۴۲ کله چې سهار شو، نو عیسی د ښار څخه روان شو او یو ګوښه ځای ته لاړ. خلکو هغه لټاوه
او چې کله یې پیدا کړ، نو کوښښ یې وکړ چې د هغه د تللو مخه ونیسي. ۴۳ خو هغه ورته وویل:
«زه باید نورو ښارونو ته هم د خدای د پاچاهۍ زېری ورسوم، ځکه چې د همدې کار دپاره رالېږل
شوی یم.» ۴۴ نو هغه د یهودیې په ټولو کنیسو کې وعظ کاوه.

## عیسی خپل لومړني شاګردان ټاکي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۴:۱۸–۲۲ او مرقوس ۱:۱۶–۲۰)

**۵** ۱ يوه ورځ عيسی د جنيسارت د بحيرې په غاړه ولاړ ؤ او خلکو يو بل سره ټېله کول چې
ځانونه هغه ته ورسوي، ترڅو د خدای کلام واوري. ۲ هغه وليدل چې د بحيرې په غاړه دوه
کشتۍ ولاړې وې، خو ماهيګيران ترې راښکته شوي وو او جالونه يې وينځل. ۳ عيسی يوې
کشتۍ ته چې د شمعون وه، وروختوت او د هغه څخه يې وغوښتل چې کشتۍ د غاړې څخه لږه
لېرې بوځي. عيسی په کشتۍ کې ناست ؤ او له هغه ځای څخه يې خلکو ته تعليم ورکاوه. ۴ کله
چې هغه خبرې پای ته ورسولې، نو شمعون ته يې وويل: «کشتۍ د اوبو منځ ته يو ژور ځای ته
بوځه او تاسو خپل جالونه اوبو ته وغورځوئ چې ماهيان ونيسئ.» ۵ شمعون ورته په ځواب
کې وويل: «ای باداره! مونږ ټوله شپه خواري وکړه او هېڅ مو ونه نيول. خو که چېرې ته وايې، نو زه
به جالونه ورواچوم.» ۶ هغوی همداسې وکړل او دومره زيات ماهيان يې ونيول چې نژدې ؤ
جالونه وشلېږي. ۷ نو هغوی خپلو ملګرو ته چې په بلې کشتۍ کې وو، اشاره وکړه چې راشي او
مرسته ورسره وکړي. هغوی راغلل او دواړه کشتۍ يې له ماهيانو څخه داسې ډکې کړې چې نژدې
وې ډوبې شي. ۸ کله چې شمعون پطروس وليدل چې څه وشول، هغه د عيسی پښو ته پرېوت
او ويې ويل: «ای پاکه استاذه! زما څخه لېرې شه. ځکه چې زه يو ګناهکار انسان يم.» ۹
پطروس او ټول ملګري يې د دومره زياتو ماهيانو په نيولو حيران پاتې شول. ۱۰ همدارنګه د
شمعون شريکان يعقوب او يوحنا چې د زبدي زامن وو، هم حيران شول. عيسی شمعون ته وويل:
«مه وېرېږه، له دې وروسته به ته ماهيان نه بلکې انسانان رانيسې.» ۱۱ کله چې هغوی خپلې
کشتۍ وچې ته راوستلې، نو هرڅه يې پرېښودل او د عيسی پسې روان شول.

## عيسی يو جذامي ته شفا ورکوي

(متي ۸:۱–۴ او مرقوس ۱:۴۰–۴۵)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ یوځل عیسی په یو ښار کې ؤ، هلته یو سړی ؤ چې د جذام په ناروغۍ اخته ؤ. کله چې هغه
سړي عیسی ولیده، نو په پښو کې یې پرېوت او زاری یې ورته وکړې: «ای ښاغلیه! که چېرې ته
وغواړې، نو کولای شې چې ما پاک او روغ کړې.» ۱۳ عیسی خپل لاس وراوږد کړ او په هغه
باندې یې کېښود او ویې ویل: «هو، زه غواړم، پاک او روغ شه.» نو هغه ناروغي سمدلاسه ورڅخه
لیرې شوه. ۱۴ عیسی هغه ته امر وکړ: «په دې هکله هېچا ته څه ونه وایې، خو لاړ شه او کاهن
ته خپل ځان وروښایه او کومه قرباني چې موسی یې حکم کړی دی وړاندې کړه، د دې دپاره چې
خلکو ته ثابته شي چې ته پاک او روغ شوی یې.» ۱۵ خو د عیسی په هکله خبر نور هم زیات
خپور شو او ډېر خلک راغلل چې د هغه خبرې واوري او د خپلو ناروغیو څخه شفا ومومي. ۱۶
خو هغه به ګوښه ځایونو ته تللو چې هلته دعا وکړي.

## عیسی یو شل سړي ته شفا ورکوي

(متي ۹:۱–۸ او مرقوس ۲:۱–۱۲)

۱۷ یوه ورځ کله چې عیسی تعلیم ورکاوه، ځینې فریسیان او د شریعت عالمان چې د جلیل د هر
کلي، یهودیې او اورشلیم څخه راغلي وو، هلته ناست وو او عیسی د خدای په قدرت سره ناروغان
روغول. ۱۸ په دې وخت کې څو کسانو یو شل سړی په کټ کې راوړ. هغوی هڅه کوله چې هغه
دننه کور ته بوځي او د عیسی په مخکې یې کېږدي. ۱۹ خو د ګڼېګوڼې له امله یې لاره ونه
موندله ترڅو هغه دننه بوځي. نو هغه شل سړی یې پاس بام ته پورته کړ، د پخو خښتو په منځ کې
یې یو سوری جوړ کړ او هغه یې په کټ کې لاندې راښکته کړ او د ګڼېګوڼې په منځ کې یې د عیسی
په مخکې کېښود. ۲۰ کله چې عیسی د هغوی ایمان ولیده، نو هغه سړي ته یې وویل: «وروره!
ستا ګناهونه وبخښل شول.» ۲۱ هغه وخت د شریعت عالمانو او فریسیانو یو له بله سره بحث پیل
کړ: «دا سړی څوک دی چې کفر وایي؟ ایا بې له خدایه څوک کولای شي چې ګناهونه وبخښي؟»
۲۲ عیسی د هغوی په خیالونو پوه شو او ورته ویې ویل: «تاسو ولې په خپلو زړونو کې داسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فکرونه کوئ؟ ۲۳ ايا دا خبره اسانه ده چې وويل شي چې ستا ګناهونه وبخښل شول يا وويل شي
چې پاڅېږه او وګرځه؟ ۲۴ خو زه به تاسو ته ثابته کړم چې د انسان زوی د ځمکې په مخ دا
اختيار لري چې ګناهونه وبخښي.» نو هغه شل سړي ته يې وويل: «زه تاته وايم پاڅېږه، کټ دې
واخله او خپل کور ته لاړ شه.» ۲۵ نو سمدلاسه هغه سړی د ټولو خلکو په مخکې پاڅېد، خپل
کټ يې چې ورباندې پروت ؤ واخيست او په داسې حال کې چې د خدای ثنا يې ويله، خپل کور ته
روان شو. ۲۶ هغوی ټول حيران پاتې شول، وېرې واخيستل او د خدای ثنا او صفت يې کاوه او
ويل يې: «مونږ نن څه حيرانوونکي شيان وليدل.»

## عيسی لاوي خپل شاګرد ټاکي

(متي ۹:۹–۱۳ او مرقوس ۲:۱۳–۱۷)

۲۷ له هغې وروسته عيسی دباندې ووت او د لاوي په نوم يو ماليه ټولوونکی يې وليده چې د
ماليې راټولولو په ځای کې ناست ؤ. عيسی هغه ته وويل: «ما پسې راځه.» ۲۸ لاوي راپاڅېد،
هرڅه يې پرېښودل او په هغه پسې روان شو. ۲۹ بيا لاوي په خپل کور کې د عيسی دپاره يوه
لويه مېلمستيا جوړه کړه او په مېلمنو کې زيات شمېر ماليه ټولوونکي او نور خلک هم وو. ۳۰ خو
ځينو فريسيانو او د شريعت عالمان چې د هغوی د ډلې څخه وو د عيسی په شاګردانو اعتراض وکړ
او پوښتنه يې وکړه: «تاسو ولې د ماليه ټولوونکو او نورو ګناهکارانو سره يوځای خورئ او څښئ؟»
۳۱ عيسی ورته په ځواب کې وويل: «روغ خلک ډاکټر ته اړتيا نه لري، بلکې ناروغان ورته اړتيا
لري. ۳۲ زه د پرهېزګارانو دپاره نه يم راغلی، بلکې د ګناهکارانو دپاره ترڅو هغوی توبه وباسي.»

## د روژې په هکله پوښتنه

(متي ۹:۱۴–۱۷ او مرقوس ۲:۱۸–۲۲)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ ځينو خلکو عيسی ته ووېل: «د يحيی شاګردان زيات وخت روژه نيسي او دعاګانې کوي او د
فريسيانو شاګردان هم همداسې کوي، خو ستا شاګردان خوري او څښي.» ۳۴ عيسی ځواب ورکړ:
«ايا تاسو کولای شئ چې د زوم ملګري د واده په مېلمستيا کې په داسې حال کې چې زوم ورسره
وي مجبور کړئ چې روژه ونيسي؟ بې له شکه چې نه. ۳۵ خو داسې وخت به راشي چې زوم به
له هغوی څخه بوتلل شي او په هغه وخت کې به هغوی روژه نيسي.»

۳۶ همدارنګه عيسی هغوی ته دا مثال راوړ: «هېڅوک د نويو کاليو څخه يوه ټوټه نه شلوي چې
په زړو کاليو باندې يې پيوند کړي. که داسې وکړي، نو هم به هغه نوي کالي وشلېږي او هم به د نويو
کاليو ټوټه د زړې ټوټې سره جوړه رانه شي. ۳۷ نه به څوک تازه شراب په زړو مشکونو کې
واچوي، ځکه چې تازه شراب به هغه مشکونه وشلوي، شراب به توی شي او مشکونه به له منځه
لاړ شي. ۳۸ خو تازه شراب بايد په نويو مشکونو کې واچول شي. ۳۹ هېڅوک نه غواړي چې
د زړو شرابو له څښلو وروسته تازه شراب وڅښي، ځکه داسې وايي چې زاړه شراب ډېر ښه دي.»

## د سبت په هکله پوښتنه

(متي ۱۲:۱–۸ او مرقوس ۲:۲۳–۲۸)

۶ ۱ د سبت په يوه ورځ عيسی د خپلو شاګردانو سره د غنمو په پټيو تېرېده. شاګردانو يې د
غنمو وږي راشکول او په لاسونو کې يې موږل او خوړل يې. ۲ ځينو فريسيانو پوښتنه وکړه:
«تاسو ولې داسې کار کوئ چې د سبت په ورځ ناروا دی؟» ۳ عيسی هغوی ته په ځواب کې
ووېل: «ايا تاسو دا نه دي لوستلي کله چې داود او ملګري يې وږي شوي وو، نو هغه څه وکړل؟
۴ هغه د خدای کور ته ننوت، سپېڅلې ډوډۍ يې راواخيستله او ويې خوړه او خپلو ملګرو ته يې
هم ورکړه، که څه هم د هغې ډوډۍ خوړل له کاهنانو پرته بل چاته روا نه وو.» ۵ بيا عيسی
ووېل: «د انسان زوی د سبت د ورځې خاوند هم دی.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د سبت په ورځ ناروغانو ته شفا ورکوي

(متي ۱۲:۹-۱۴ او مرقوس ۳:۱-۶)

۶ د بل سبت په ورځ عیسی کنیسې ته ننوت او تعلیم یې ورکاوه. هلته یو سړی ؤ چې ښي لاس
یې وچ شوی ؤ. ۷ د شریعت ځینو عالمانو او فریسیانو په ځیر سره هغه ته کتل چې ووینې ایا
عیسی به د سبت په ورځ چاته شفا ورکوي که نه، ترڅو په هغه باندې د تور لګولو دپاره یو دلیل
پیدا کړي. ۸ عیسی د هغوی په فکرونو پوه شو او هغه سړي ته چې لاس یې وچ شوی ؤ وویل:
«راپاڅېږه او د ټولو په مخکې ودرېږه.» نو هغه راپاڅېد او هلته ودرېده. ۹ بیا عیسی هغوی ته
وویل: «زه ستاسو څخه پوښتنه کوم: ایا د سبت په ورځ نېکي کول روا دي که بدي کول؟ د یو چا
ژوند ژغورل، که له منځه وړل؟» ۱۰ عیسی ګردچاپېره هغوی ټولو ته وکتل او بیا یې هغه سړي ته
وویل: «خپل لاس دې وغزوه.» هغه خپل لاس وغزاوه او لاس یې روغ شو. ۱۱ خو د شریعت
عالمان او فریسیان ډېر په قهر شول او یو بل ته یې وویل چې د عیسی سره څه وکړو.

## عیسی د خپلو شاګردانو څخه دولس رسولان ټاکي

(متي ۱۰:۱-۴ او مرقوس ۳:۱۳-۱۹)

۱۲ په هغو ورځو کې عیسی د دعا دپاره غره ته لاړ او ټوله شپه یې خدای ته په دعا کولو تېره
کړه. ۱۳ کله چې سهار شو، نو خپل شاګردان یې راوغوښتل او د هغوی له منځ نه یې دولس تنه
غوره کړل او هغوی یې د رسولانو په نوم یاد کړل: ۱۴ شمعون چې عیسی ورباندې پطروس نوم
کېښود او د هغه ورور اندریاس، یعقوب، یوحنا، فیلیپوس او بارتولما، ۱۵ متي، توما، یعقوب د
حلفي زوی او شمعون چې په سرتېري مشهور ؤ ۱۶ او یهودا د یعقوب زوی او یهودا اسخریوتي
چې وروسته خاین شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی خلکو ته تعلیم او شفا ورکوي

(متي ۴:۲۳-۲۵)

۱۷ عیسی د خپلو رسولانو سره د غره څخه راښکته شو او په یو هوار ځای کې ودرېده. په هغه
ځای کې د هغه د پیروانو یوه لویه ډله او د ټولې یهودیې، اورشلیم او د صور او صیدون د ساحلي
ښارونو څخه ګڼ شمېر خلک موجود وو. ۱۸ دا خلک د دې دپاره راغلي وو چې د هغه خبرې
واوري او د خپلو ناروغیو څخه روغ شي. همدارنګه هغه خلک چې پېریانو نیولي وو هم راغلي وو
او روغ شول. ۱۹ ټولو خلکو کوښښ کاوه چې عیسی ته لاس وروړي، ځکه چې د هغه څخه به
یو قدرت راوته او ټول به یې روغول.

## خوشحالي او غم

(متي ۵:۱-۱۲)

۲۰ بیا عیسی خپلو شاګردانو ته مخ راواړاوه او ویې ویل:

«بختور یئ تاسو چې اوس غریبان یئ،

ځکه چې د خدای پاچاهي ستاسو ده.

۲۱ بختور یئ تاسو چې اوس وږي یئ، ځکه چې تاسو به ماړه شئ.

بختور یئ چې اوس ژاړئ، ځکه چې تاسو به وخاندئ.

۲۲ بختور یئ تاسو چې خلک درڅخه د انسان د زوی په خاطر کرکه کوي او خپل منځ کې مو نه
پرېږدي، سپکاوی درته کوي او تاسو بدناموي. ۲۳ نو په هغه وخت کې خوښي وکړئ او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالۍ ټوپونه ووهئ، ځکه چې په جنت کې به لوی اجر ولرئ. د هغوی نیکونو هم د پیغمبرانو
سره همداسې چلند کړی ؤ.

۲۴ خو افسوس دې وي ستاسو شتمنو په حال!

ځکه چې تاسو خپل د سوکالۍ وخت تېر کړی دی.

۲۵ افسوس دې وي ستاسو په حال چې اوس ماړه يئ،

ځکه چې تاسو به وږي شئ

افسوس دې وي په تاسو چې اوس خاندئ،

ځکه چې ستاسو خندا به په وير او ژړا بدله شي

۲۶ افسوس دې وي ستاسو په حال کله چې ټول ستاسو صفت کوي.

ځکه چې د هغوی نیکونو هم د جعلي پيغمبرانو صفت کاوه.

## د دښمنانو سره مينه

(متي ۵:۳۸–۴۸، ۷:۱۲)

۲۷ خو زه تاسو ته چې زما خبرې اورئ، وايم چې د خپلو دښمنانو سره مينه کوئ، څوک چې
ستاسو څخه کرکه کوي د هغوی سره ښه کوئ. ۲۸ د هغو خلکو دپاره چې په تاسو لعنت وايي،
برکت وغواړئ او د هغو خلکو دپاره چې ستاسو سره بد چلند کوي، دعا وکړئ. ۲۹ که چېرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک تاته په یو مخ څپېړه درکړي، نو خپل بل مخ هم ورته ورواړوه. که څوک درڅخه چپنه
واخلي، نو پرېږده چي ستا کمیس هم واخلي. ۳۰ که څوک درڅخه کوم شی وغواړي نو ورته
وريې کړه او که چېرې څوک ستا څخه کوم شی چي هغه ستا وي واخلي، نو بېرته يې ورڅخه مه
غواړه. ۳۱ د نورو سره داسې چلند کوئ لکه څنګه چي تاسو يې د ځان دپاره د هغوی څخه
غواړئ.

۳۲ که چېرې يوازې د هغو خلکو سره مینه کوئ چي ستاسو سره مینه کوي، نو په دې کې به
ستاسو دپاره څه اجر وي؟ ځکه ګناهکاران هم د هغه چا سره مینه کوي څوک چي د هغوی سره
مینه کوي. ۳۳ که چېرې تاسو يوازې د هغو خلکو سره نېکي کوئ چي ستاسو سره نېکي کوي، نو
په دې کې به ستاسو دپاره څه اجر وي؟ ځکه چي ګناهکاران هم همداسې کوي. ۳۴ که چېرې
هغو خلکو ته پور ورکوئ چي د بېرته اخیستلو تمه يې لرئ، نو په دې کې به ستاسو دپاره څه اجر
وي؟ ځکه چي ګناهکاران هم نورو ګناهکارنو ته پور ورکوي چي بېرته يې ترې پوره واخلي. ۳۵
خو تاسو د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ او د هغوی سره نېکي کوئ. پور ورکړئ او د بېرته
اخیستلو تمه ورڅخه مه کوئ. نو دا به ستاسو دپاره لوی اجر وي او تاسو به د خدای تعالی اولادونه
يئ، ځکه چي هغه په ناشکره او بدکارو خلکو هم مهربانه دی. ۳۶ لکه څنګه چي ستاسو اسماني
پلار زړه سواندی دی، نو تاسو هم زړه سواندي اوسئ.

## د نورو په هکله قضاوت کول

(متي ۱:۷–۵)

۳۷ د نورو په هکله قضاوت مه کوئ، نو تاسو به تر قضاوت لاندې نه نیول کېږئ. نور خلک مه
ملامتوئ، نو خدای به تاسو نه ملامتوي. نور خلک وبخښئ، نو خدای به تاسو وبخښي. ۳۸ نورو
ته څه شی ورکړئ، نو تاسو ته به هم درکړل شي. تاسو ته به په ډکې پیمانې، په زور ځای شوې او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تر خولې پورې ډکه ستاسو په لمنه کې واچول شي. ځکه په هره پیمانه چې تاسو یې نورو ته
ورکوئ، په هماغه پیمانه به تاسو ته هم درکول کیږي.»

۳۹ نو عیسی هغوی ته دا مثال ووایه: «ایا یو ړوند بل ړوند ته لاره ښودلی شي؟ ایا دواړه به په
کنده کې ونه غورځیږي؟ ۴۰ شاګرد د خپل استاذ څخه لوی نه دی، خو کله چې یو شاګرد خپلې
زده کړې پوره کړي، نو د خپل استاذ په شان به شي. ۴۱ ته ولې د خپل ورور په سترګه کې
خسنۍ لیدلی شې خو په خپله سترګه کې غټ لرګی لیدلی نه شې؟ ۴۲ څنګه کولای شې خپل
ورور ته ووایې چې ای وروره، اجازه راکړه ستا د سترګې څخه خسنۍ وباسم، خو په خپله سترګه
کې غټ لرګی لیدلی نه شې؟ ای منافقه! ته باید لومړی د خپلې سترګې څخه لرګی وباسې، بیا کولای
شې چې په ښکاره توګه ووینې چې څنګه د خپل ورور د سترګې څخه خسنۍ وباسې.

## ونه د خپلې مېوې څخه پېژندل کیږي

(متي ۷:۱۷–۲۰، ۱۲:۳۳–۳۵)

۴۳ ښه ونه خرابه مېوه نه نیسي او نه به خرابه ونه ښه مېوه ونیسي. ۴۴ هره ونه د خپلې مېوې
څخه پېژندل کیږي. د اغزو د بوټو څخه انځر او د ځنګلي بوټي څخه انګور نه شئ راټولولی. ۴۵
ښه سړی د خپل زړه د ښې خزانې څخه ښه شیان راوباسي او بد سړی د خپل زړه د بدې خزانې
څخه بد شیان راوباسي، ځکه کومې خبرې چې په زړه کې وي هغه په خوله راوځي.

## دوه ډوله بنیادونه

(متي ۷:۲۴–۲۷)

۴۶ تاسو ولې ماته استاذه، استاذه وایئ، خو څه چې درته وایم هغه نه کوئ؟ ۴۷ هرڅوک چې
ماته راشي او زما خبرو ته غوږ ونیسي او په هغو باندې عمل وکړي، نو زه به تاسو ته وښایم چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د چا په شان دی. ۴۸ هغه د يو داسې سړي په شان دی چې د خپل کور د جوړولو دپاره يې
ځمکه ښه ژوره کړه او بنياد يې په تيږو کېښود. کله چې سېلاب راغی او په هغه کور ورغی، خو
هغه يې له ځايه ونه شو خوځولی، ځکه چې هغه يې کلک جوړ کړی ؤ. ۴۹ خو څوک چې زما
خبرې اوري او عمل ورباندې نه کوي، نو هغه د هغه سړي په شان دی چې خپل کور يې داسې
جوړ کړی ؤ چې بنياد يې نه ؤ. کله چې په هغه کور باندې سېلاب راغی، نو هغه سمدلاسه راولوېد
او بيخي وران شو.»

## عيسی د رومي منصبدار نوکر ته شفا ورکوي

(متي ۸:۵-۱۳)

۷ ۱ کله چې عيسی خلکو ته خپلې ټولې خبرې وکړې، نو کپرناحوم ته لاړ. ۲ هلته يو
رومي منصبدار ؤ او يو نوکر يې درلود چې په هغه ډېر ګران ؤ. هغه نوکر ناروغ ؤ او مرګ ته نژدې
ؤ. ۳ کله چې هغه منصبدار د عيسی په هکله واورېدل، نو يو څو يهودي مشران يې ورولېږل،
ترڅو د هغه څخه وغواړي چې راشي او نوکر يې روغ کړي. ۴ هغوی عيسی ته راغلل او سختې
زارۍ يې ورته وکړې او ورته ويې ويل: «دا سړی په رښتيا د دې وړ دی چې مرسته ورسره وکړې،
۵ ځکه چې هغه زمونږ د خلکو سره مينه لري او مونږ ته يې کنيسه هم جوړه کړې ده.» ۶ نو
عيسی د هغوی سره لاړ. خو کله چې د هغه کور ته نژدې شو، نو هغه منصبدار خپل څو ملګري
ورولېږل چې هغه ته ووايي: «ښاغليه! خپل ځان دې مه په تکليفوه، زه د دې لايق نه يم چې زما
کور ته راشې ۷ او دا مې هم غوره ونه ګڼله چې خپله تاسو ته راشم. ته يوازې حکم وکړه، نو
زما نوکر به روغ شي. ۸ ځکه چې زه هم د بل د امر لاندې يم او عسکر زما د امر لاندې دي.
کله چې کوم يو ته ووايم چې لاړ شه، نو هغه ځي او بل ته ووايم راشه، نو راځي او خپل نوکر ته
ووايم چې دا کار وکړه، نو هغه يې کوي.» ۹ کله چې عيسی دا واورېدل، نو حيران شو او خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته يې چې ورپسې روان وو، مخ راواړاوه او ويې ويل: «زه تاسو ته وايم چې ما په اسراييلو کې هم
داسې ايمان نه دی ليدلی.» ١٠ کله چې لېږل شوي کسان بېرته کور ته راستانه شول، نو هغه نوکر
يې روغ رمټ وليده.

## عيسی د يوې کونډې زوی راژوندی کوي

١١ بله ورځ عيسی د خپلو شاګردانو او د خلکو د يوې لويې ډلې سره نايين نومي ښار ته لاړ.
١٢ کله چې د ښار دروازې ته نژدې شو، نو يوه جنازه يې وليدله چې راووتله. دا مړی د يوې
کونډې ښځې ‌يوازېنی زوی ؤ او د هغې سره د ښار ګڼ شمېر خلک ملګري وو. ١٣ کله چې
عيسی هغه ښځه وليدله، نو زړه يې ورباندې وسوځېده او ورته ويې ويل: «نوره مه ژاړه.» ١٤ بيا
هغه وروړاندې شو او په تابوت باندې يې لاس کېښود او کومو خلکو چې تابوت وړلو، ودرېدل.
عيسی وويل: «ای ځوانه! تاته وايم راپاڅېږه.» ١٥ هغه مړی کېنېناست او په خبرو يې پيل وکړ او
عيسی هغه بېرته خپلې مور ته وسپاره. ١٦ هغوی ټول وېرې واخيستل او د خدای ثنا يې وويله او
ويې ويل: «په مونږ کې يو لوی پيغمبر پيدا شوی دی. خدای راغلی چې د خپل قوم سره مرسته
وکړي.» ١٧ عيسی چې څه کړي وو د هغو خبر په ټولې يهوديې او شاوخوا سيمو کې خپور شو.

## د عيسی په هکله د يحيی پوښتنه

(متي ٢:١١-١٩)

١٨ د يحيی شاګردانو هغه د دې ټولو کارونو څخه خبر کړ. نو يحيی د هغوی څخه دوه تنه
راوغوښتل ١٩ او هغوی يې عيسی ته ورولېږل چې پوښتنه ورڅخه وکړي: «ايا ته هغه څوک يې
چې ويل شوي وو بايد راغلی وای، يا د کوم بل چا په تمه واوسو؟» ٢٠ کله چې هغوی عيسی ته
ورغلل، ورته ويې ويل: «مونږ تعميد ورکوونکي يحيی تاته رالېږلي يو چې پوښتنه وکړو چې ته هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک يې چې باید راغلی وای یا د کوم بل چا په تمه واوسو؟» ۲۱ په هماغه ساعت عیسی ډېر
خلک د ډول ډول ناروغیو، طاعون او پېریانو ځخه روغ کړل او ډېر ړانده يې بینا کړل. ۲۲ هغه د
یحیی استازو ته په ځواب کې وویل: «بېرته لاړ شئ او څه مو چې لیدلي او اورېدلي، هغه یحیی ته
ووایئ چې ځنګه ړانده بینا کیږي، ګوډان کولای شي وګرځي، کوم خلک چې په جذام باندې اخته
وو هغه پاک او روغ شوي دي او کاڼه اوري، مړي راژوندي کیږي او غریبانو ته زیری ورکول کیږي.
۲۳ بختور دی هغه ځوک چې په ما شک ونه کړي.»

۲۴ کله چې د یحیی استازي لاړل، نو عیسی د یحیی په هکله د خلکو سره خبرې پیل کړې او
ویې ویل: «تاسو د څه شي د لیدلو دپاره دښتې ته تللي وئ؟ ایا د هغې لوخې د لیدلو دپاره چې باد
يې خوځوي؟ ۲۵ نو بیا د څه شي د لیدلو دپاره تللي وئ؟ ایا د هغه چا د لیدلو دپاره چې ښکلي
کالي يې اغوستي وو؟ ګورئ، کوم خلک چې قیمتي کالي اغوندي، هغوی په عیش او عشرت کې
ژوند تېروي او په ماڼیو کې اوسیږي. ۲۶ نو بیا د څه شي د لیدلو دپاره وتلي وئ؟ ایا د یو پیغمبر
د لیدلو دپاره؟ هو، زه تاسو ته وایم چې هغه د یو پیغمبر نه هم ډېر لوی دی. ۲۷ دا هغه ځوک دی
چې د هغه په هکله د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

ګورئ، زه به خپل استازی ستا ځخه مخکې ولیږم

چې ستا دپاره لاره تیاره کړي.»

۲۸ عیسی زیاته کړه: «زه تاسو ته وایم چې په دې نړۍ کې د یحیی ځخه بل ځوک لوی نه دی
زیږول شوی، خو بیاهم د خدای په پاچاهۍ کې تر ټولو کوچنی د هغه نه لوی دی.»

۲۹ کله چې ټولو خلکو او حتی مالیه ټولوونکو د عیسی خبرې واورېدلې، نو په دې يې اقرار وکړ
چې د خدای لاره سمه ده، ځکه چې هغوی د یحیی په لاس د تعمید غسل اخیستی ؤ. ۳۰ خو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فریسیانو او د شریعت عالمانو د خدای هغه مقصد چې د هغوی دپاره یې درلود رد کړ، ځکه چې
هغوی د یحیی په لاس د تعمید غسل نه ؤ اخیستی.

۳۱ عیسی وویل: «د دې زمانې خلک د څه شي سره پرتله کړم؟ دا څه ډول خلک دي؟ ۳۲
دوی د هغو ماشومانو په شان دي چې په بازار کې ناست وي او یو بل ته چیغې وهي او وایي: ‹مونږ
تاسو ته شپیلۍ ووهله، خو تاسو ګډا ونه کړه. مونږ درته د غم سندرې وویلې، خو تاسو ونه ژړل.›
۳۳ ځکه کله چې تعمید ورکوونکی یحیی راغی هغه به نه ډوډۍ خوړله او نه یې شراب څښل، نو
تاسو به ویل چې هغه پېریانو نیولی دی. ۳۴ د انسان زوی راغی چې هم خوري او هم څښي نو
تاسو وایئ چې دې سړي ته وګورئ، هغه خېټور، شرابي او د مالیه ټولوونکو او ګناهکارانو ملګری
دی. ۳۵ خو بیاهم د خدای حکمت د هغو خلکو په وسیله چې هغه یې منلی دی، رښتینی ثابت
شو.»

## عیسی د فریسي شمعون په کور کې

۳۶ یو فریسي عیسی ته بلنه ورکړه چې د هغه سره ډوډۍ وخوري، نو عیسی د هغه کور ته ورغی
او د هغه سره دسترخوان ته کښېناست. ۳۷ په هغه ښار کې یوه بدکاره ښځه اوسېدله. هغه خبره
شوه چې عیسی د هغه فریسي په کور کې ډوډۍ خوري، نو د عطرو ډکه شخه د مرمرو د بوتل سره
راغله. ۳۸ هغه ښځه د عیسی شاته د هغه د پښو سره ودرېدله او ژړل یې. د هغې اوښکې د عیسی
په پښو باندې توییې شوې او هغه لمدې شوې. ښځې هغه په خپلو ویښتانو باندې وچې کړلې، د هغه
پښې یې ښکل کړې او عطر یې ورباندې واچول. ۳۹ کله چې هغه فریسي چې عیسی یې مېلمه
کړی ؤ دا ولیدل، نو د خپل ځان سره یې وویل: «که چېرې دا سړی په رښتیا پیغمبر وای نو هغه
باید په دې پوه شوی وای چې دا ښځه چې هغه ته لاس وروړي، څوک ده او څنګه ښځه ده. هغه
یوه ګناهکاره ښځه ده.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۰ نو عیسی هغه فریسي ته وویل: «ای شمعونه! زه غواړم تاته یو څه ووایم.» هغه وویل: «ښه
استاذه! ووایه.» ۴۱ عیسی وویل: «دوه کسانو د یو چا څخه پور اخیستی ؤ، د هغو څخه یو یې
پنځه سوه د سپینو زرو سکې پوروړی ؤ او بل یې پنځوس سکې. ۴۲ هغوی دواړو هیڅ نه لرل
چې خپل پور ورکړي، نو پور ورکوونکي هغو دواړو ته خپل پورونه ورووبخښل. نو اوس په دې
دواړو کې به کوم یو د هغه سره زیاته مینه وکړي؟» ۴۳ شمعون په ځواب کې وویل: «زما په خیال
کوم سړي ته چې زیات پور وبخښل شو.» عیسی وویل: «تا سم قضاوت وکړ.» ۴۴ بیا یې ښځې
ته مخ راواړاوه او شمعون ته یې وویل: «دا ښځه وینې؟ زه ستا کور ته راغلم خو تا زما د پښو دپاره
اوبه رانه وړلې، خو هغې په خپلو اوښکو باندې زما پښې وینځلې او په خپلو ویښتانو یې وچې
کړلې. ۴۵ تا زه ښکل نه کړم، خو د کوم وخت نه چې زه دلته راغلی یم دا ښځه لګیا ده زما پښې
ښکلوي. ۴۶ تا زما سر په تېلو غوړ نه کړ، خو هغې زما په پښو عطر واچول. ۴۷ نو زه تاته
وایم چې هغې زما سره ډېره مینه وښوده، ځکه چې د هغې ډېر ګناهونه وبخښل شول. خو د چا
چې لږ بخښل شوي هغه لږه مینه کوي.» ۴۸ بیا عیسی هغې ښځې ته وویل: «ستا ګناهونه وبخښل
شول.» ۴۹ دسترخوان ته نورو ناستو مېلمنو په خپلو کې سره وویل: «دا څوک دی چې حتی
ګناهونه هم بخښي؟» ۵۰ خو عیسی هغې ښځې ته وویل: «ته خپل ایمان وژغورلې. په خیر لاړه
شه.»

## هغو ښځو چې د عیسی سره یې مرسته وکړه

۸ ۱ څه موده وروسته عیسی ښار په ښار او کلي په کلي ګرځېده، وعظ یې کاوه او د خدای د
پاچاهۍ زېری یې ورکاوه او هغه دولس شاګردان هم ورسره وو. ۲ یو څو ښځې چې د پېریانو
څخه خلاصې شوې وې او د ناروغیو څخه یې شفا موندلې وه هم ورسره وې: لکه مریم چې په
مجدلیه مشهوره وه چې اووه پېریان ورڅخه وتلي وو، ۳ یونا د خوزا ښځه چې مېړه یې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیرودیس د دربار ناظر ؤ، سوسن او نورې ډېرې ښځې چې د خپلو شتمنیو څخه یې د عیسی او د
هغه د شاګردانو سره مرسته کوله.

## د بزګر مثال

(متي ۱۳:۱-۹ او مرقوس ۴:۱-۹)

۴ خلک به د یو ښار او بل ښار څخه عیسی ته راتلل او کله چې ګڼ شمېر خلک سره راټول
شول، نو هغه ورته دا مثال راوړ: ۵ «یو بزګر د تخم شیندلو دپاره پټي ته لاړ. کله یې چې تخم
وشینده، نو یو څه یې په لاره کې ولوېد، هغه ترپښو لاندې شو او مرغانو وخوړ. ۶ څه تخم په
تیږو کې ولوېد او کله چې راشین شو، نو د لمدبل د کموالي له امله هغه زر وچ شو. ۷ څه تخم
په اغزو کې ولوېد او اغزي ورسره لوی شول او بوټي یې لاندې کړل. ۸ نور تخم په حاصلخیزه
خاوره کې ولوېد. هغه راشین شو او سل چنده زیات حاصل یې ورکړ.»

کله چې عیسی خپلې خبرې پای ته ورسولې، نو په لوړ اواز یې وویل: «که څوک غوږونه لري، نو
هغه دې واوري.»

## د مثالونو مقصد

(متي ۱۳:۱۰-۱۷ او مرقوس ۴:۱۰-۱۲)

۹ کله چې د عیسی شاګردانو پوښتنه وکړه چې د دې مثال معنی څه ده؟ ۱۰ هغه ځواب ورکړ:
«تاسو ته د خدای د پاچاهۍ په پټو رازونو د پوهېدلو دپاره پوهه درکړل شوې ده، خو نورو ته دا
هرڅه په مثالونو کې ویل کیږي ترڅو د خدای د کلام هغه لیکنه پوره شي چې وایي:

هغوی به ګوري خو هېڅ به ونه ویني. هغوی به واوري، خو هېڅ ورباندې پوه نه شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بزګر د مثال تفسير

(متي ۱۸:۱۳-۲۳ او مرقوس ۱۳:۴-۲۰)

۱۱ د دې مثال معنی دا ده: تخم د خدای کلام دی. ۱۲ هغه تخم چې په لاره کې لوېږي دا هغه
خلک دي چې کلام اوري، خو شيطان راځي او کلام د هغوی د زړونو څخه وړي، ترڅو هغوی
ايمان رانه وړي او خلاصون ونه مومي. ۱۳ کوم تخم چې په تيږو کې لوېږي دا هغه خلک دي
چې په خوشحالی سره کلام اوري او مني يې. خو کلام په هغوی کې ريښې نه وي نيولې. هغوی د
يو څه مودې دپاره ايمان راوړي، خو د ازمېښت په وخت کې يې له لاسه ورکوي. ۱۴ هغه تخم
چې په اغزو کې لوېدلی دی، هغه خلک دي چې کلام اوري خو د ژوند اندېښنې، شتمنې او د ژوند
غوښتنې د هغه د ودې مخه نيسي او مېوه يې هېڅکله نه پخېږي. ۱۵ خو کوم تخم چې په ښې
خاورې کې لوېږي دا هغه خلک دي چې کلام اوري او په خپل صادق او ښه زړه کې يې ساتي او
په صبر سره مېوه ورکوي.

## د څراغ مثال

(مرقوس ۲۱:۴-۲۵)

۱۶ هېڅوک داسې نه کوي چې څراغ بل کړي او هغه د لوښي لاندې پټ کړي او يا يې د کټ
لاندې کېږدي، بلکې هغه په څراغدان باندې ږدي چې هرڅوک رانوځي او د هغه رڼا ووينې. ۱۷
ځکه هېڅ داسې پټ شی نشته چې ښکاره به نه شي او نه داسې پټ راز شته چې څرګند به نه شي.
۱۸ نو پام کوئ چې څنګه يې اورئ، ځکه څوک چې څه ولري نو هغه ته به نور هم ورکړل شي،
خو هغه څوک چې څه نه لري حتی که د هغه په ګومان کوم څه چې لري هغه به هم ترې واخيستل
شي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسی مور او ورونه څوک دي؟

(متي ۴۶:۱۲–۵۰ او مرقوس ۳۱:۳–۳۵)

۱۹ بیا د عیسی مور او ورونه راغلل چې هغه ووینې، خو د زیاتې ګڼې ګوڼې له امله یې ونه شو
کولای چې هغه ته ځان ورسوي. ۲۰ یو چا عیسی ته وویل: «ستا مور او ورونه دباندې ولاړ دي
او غواړي چې تا ووینې.» ۲۱ عیسی په ځواب کې ورویل: «زما مور او ورونه هغه دي چې د
خدای کلام اوري او عمل ورباندې کوي.»

## عیسی توفان ودروي

(متي ۲۳:۸–۲۷ او مرقوس ۳۵:۴–۴۱)

۲۲ یوه ورځ عیسی د خپلو شاګردانو سره په کشتۍ کې سپور شو او هغوی ته یې وویل: «راځئ
چې د بحیرې بلې غاړې ته لاړ شو.» نو هغوی روان شول. ۲۳ کله چې هغوی په کشتۍ کې روان
وو، نو عیسی ویده شو. په دې وخت کې ناڅاپه په بحیره کې سخت باد راوالوت او کشتۍ د اوبو
څخه په ډکېدلو شوه او هغوی د یو لوی خطر سره مخامخ وو. ۲۴ شاګردان عیسی ته ورغلل، هغه
یې راویښ کړ او ورته ویې ویل: «استاذه! استاذه! مونږ ډوبېږو.» عیسی راویښ شو او باد او د اوبو
څپو ته یې حکم وکړ، توفان ودرېده او هرڅه ارام شول. ۲۵ بیا هغه خپلو شاګردانو ته وویل:
«ستاسو ایمان څه شو؟» خو هغوی په وېره او حیرانتیا سره یو بل ته وویل: «دا سړی څوک دی
چې حتی باد او اوبو ته امر کوي او هغوی یې مني؟»

## عیسی پېریانو نیولي سړي ته شفا ورکوي

(متي ۲۸:۸–۳۴ او مرقوس ۱:۵–۲۰)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ بیا عیسی د خپلو شاګردانو سره د جدریانو سیمې ته چې د جلیل ولایت ته مخامخ دی،
ورسېده. ۲۷ څنګه چې عیسی د کشتۍ څخه راښکته شو، نو د هغه ښار د یو سړي سره چې
پېریانو نیولی ؤ، مخامخ شو. زیاته موده کېدله چې هغه لوڅ ګرځېده او په کور کې نه اوسېده، بلکې
په هدیره کې اوسېده. ۲۸ کله چې هغه عیسی ولیده، نو چیغې یې ووهلې او د هغه په پښو کې
پرېوت او په لوړ اواز یې وویل: «ای عیسی، ای د خدای تعالی زویه! زما سره څه کار لرې؟ زه تاته
زاري کوم، ما مه په عذابوه.» ۲۹ هغه ځکه داسې وویل چې عیسی پېریانو ته امر کړی ؤ چې د
هغه سړي څخه راووځي. هغه سړی څو څو ځلې پېریانو نیولی ؤ. خلکو به د هغه لاسونه او پښې
په زنځیرونو تړلې او ځولنې به یې ورته اچولې، خو هغه به ماتولې او پېریانو به هغه دښتې ته بیولو.
۳۰ عیسی د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ستا نوم څه دی؟» هغه ځواب ورکړ: «زما نوم لښکر دی.»
ځکه چې په هغه کې ډېر پېریان وو. ۳۱ پېریانو عیسی ته زاری وکړې چې د ځمکې تل ته د
لېږلو حکم مه راکوه. ۳۲ هلته نژدې د خوګانو یوه لویه رمه وه چې په یوې غونډۍ باندې څرېدله.
نو پېریانو عیسی ته زاري وکړه چې دوی ته اجازه ورکړي چې په خوګانو کې ننوځي، نو هغه ورته
اجازه ورکړه. ۳۳ بیا پېریان د هغه سړي څخه ووتل او په خوګانو کې ورننوتل. ټوله رمه په منډه د
کمر څخه ښکته بحیرې ته ولوېدله او ډوبه شوه.

۳۴ کله چې د خوګانو ساتونکو دا پېښه ولیدله، نو وتښتېدل او دا خبر یې ښار او بانډو ته ورساوه.
۳۵ خلک د دې پېښې د لیدلو دپاره دباندې راووتل. کله چې هغوی عیسی ته راغلل، نو هغه
سړی یې ولیده چې پېریان ورڅخه وتلي وو. هغه د عیسی پښو ته ناست ؤ، کالي یې اغوستي وو او
بېرته خپل عادي حالت ته راغلی ؤ، نو هغوی ووېرېدل. ۳۶ کومو خلکو چې دا پېښه لیدلې وه
هغوی نورو ته وویل چې دا سړی چې پېریانو نیولی ؤ څنګه روغ شو. ۳۷ بیا د جدریان د
شاوخوا سیمو ټولو خلکو د عیسی څخه وغوښتل چې له هغه ځای څخه لاړ شي، ځکه چې هغوی
ډېر وېرېدلي وو. نو عیسی په کشتۍ کې سپور شو چې د بحیرې بلې غاړې ته لاړ شي. ۳۸ بیا
هغه سړي چې پېریان ورڅخه وتلي وو عیسی ته زاري وکړه چې اجازه ورته ورکړي د هغه سره لاړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي، خو عیسی هغه رخصت کړ او ورته ویې ویل: ۳۹ «بېرته خپل کور ته لاړ شه او هغه څه چې
خدای ستا دپاره کړي دي هغه ټولو ته ووایه.» هغه سړی په ټول ښار کې وګرځېد او عیسی چې د
هغه دپاره څه کړي وو هغه یې خلکو ته بیان کړل.

## د عیسی له خوا د ایمان په خاطر شفا ورکول

(متي ۹:۱۸–۲۶ او مرقوس ۵:۲۱–۴۳)

۴۰ کله چې عیسی بېرته راستون شو، نو خلکو ورته تود هرکلی ووایه، ځکه چې هغوی ټول ورته
په انتظار وو. ۴۱ بیا یو سړی چې یایروس نومېده او د یوې کنیسې مشر ؤ، راغی او د عیسی په
پښو کې پرېوت او زاري یې ورته وکړه چې د هغه سره کور ته لاړ شي، ۴۲ ځکه چې د هغه
یوازېنۍ لور چې دولس کلنه وه د مرګ په حالت کې پرته وه.

کله چې عیسی په لاره روان ؤ، خلکو د هرې خوا وربانديې زور راوړ. ۴۳ د هغوی په منځ کې یوه
ښځه وه چې د دولسو کالو راهیسې ورڅخه وینه بهېدله. هغې خپلې ټولې پیسې په ډاکترانو لګولې
وې، خو هېچا د هغې علاج نه شو کولای. ۴۴ هغه د شا له خوا راغله او د عیسی چپنې ته یې
لاس وروړ او سمدلاسه یې وینه ودرېدله. ۴۵ عیسی پوښتنه وکړه: «چا ماته لاس راوړ؟» ټول
منکر شول خو پطروس وویل: «استاذه! ټول خلک درڅخه راتاو دي او د هرې خوا درباندې زور
راوړي.» ۴۶ خو عیسی وویل: «کوم چا راته لاس راوړ، ځکه زه پوه شوم چې زما څخه یو قوت
ووت.» ۴۷ کله چې هغه ښځه پوه شوه چې پټه نه شي پاتې کېدلی نو په رېږدلو شوه، راغله او د
عیسی په پښو کې پرېوتله او د ټولو په مخکې یې وویل چې ولې یې هغه ته لاس وروړ او څنګه
سمدلاسه روغه شوه. ۴۸ عیسی هغې ته وویل: «لورې! ته خپل ایمان روغه کړې. په خیر لاړه
شې.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۹ عیسی لا خبرې کولې چې د کنیسې د مشر له کوره یو سړی راغی او یایروس ته یې وویل:
«ستا لور مړه شوه، استاذ ته نور تکلیف مه ورکوه.» ۵۰ خو کله چې عیسی دا خبره واورېدله، نو
یایروس ته یې وویل: «مه وېرېږه، یوازې ایمان ولره او هغه به راژوندۍ شي.» ۵۱ کله چې عیسی
د یایروس کور ته ننوت نو هغه پرته له پطروس، یوحنا، یعقوب او د هغې انجلۍ د مور او پلاره بل
هېچا ته اجازه ورنه کړه چې دننه ورسره لاړ شي. ۵۲ ټولو د هغې انجلۍ دپاره ژړا او انګولا کوله.
خو عیسی وویل: «مه ژاړئ، هغه مړه نه ده، هغه خو ویده ده.» ۵۳ هغوی ټولو په هغه پورې
وخندل، ځکه هغوی ښه پوهېدل چې هغه مړه ده. ۵۴ خو عیسی هغه انجلۍ له لاسه ونیوله او
ورته نارې یې کړې: «ای انجلۍ! راپاڅېږه.» ۵۵ هغه بېرته راژوندۍ شوه او سمدلاسه راپاڅېدله.
عیسی هغوی ته امر وکړ چې هغې ته یو څه ورکړئ چې ویې خوري. ۵۶ د هغې مور او پلار ډېر
حیران شول، خو عیسی هغوی ته امر وکړ چې د دې پېښې په هکله چاته څه ونه وایي.

## د دولسو رسولانو لېږل

(متي ۵:۱۰–۱۵ او مرقوس ۷:۶–۱۳)

۹ ۱ عیسی خپل دولس رسولان راوغوښتل او هغوی ته یې قدرت او اختیار ورکړ چې پېریان
وباسي او د ناروغیو علاج وکړي. ۲ نو هغوی یې ولېږل چې د خدای پاچاهي اعلان کړي او
ناروغان روغ کړي. ۳ هغوی ته یې وویل: «د سفر دپاره د ځان سره هېڅ شی مه اخلئ. نه امسا،
نه خورجین، نه ډوډۍ، نه پیسې او نه اضافي کالي. ۴ کله چې تاسو کوم کور ته ورشئ، نو ترڅو
پورې چې په هغه ښار کې یئ په هماغه کور کې پاتې شئ. ۵ که چېرې تاسو ته په کوم ځای
کې خوک هرکلی ونه وایي، نو هغه ښار پرېږدئ او د هغه ښار خاورې د خپلو پښو څخه وڅنډئ،
ترڅو د هغوی په خلاف شاهدي وي.» ۶ نو هغوی روان شول، کلي په کلي ګرځېدل او په
هرځای کې یې زېری ورکاوه او خلک یې روغول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د هیرودیس پرېشاني

(متي ۱:۱۴-۱۲ او مرقوس ۱۴:۶-۲۹)

۷ کله چې د جلیل والي هیرودیس د هغو ټولو کارونو څخه چې وشول خبر شو نو ډېر پرېشانه
شو، ځکه چې ځینو خلکو به ویل چې یحیی بېرته راژوندی شوی دی. ۸ نورو به ویل چې
الیاس پیغمبر راښکاره شوی دی او ځینو به ویل چې د پخوانیو پیغمبرانو څخه کوم یو راژوندی
شوی دی. ۹ خو هیرودیس وویل: «ما په خپله د یحیی سر پرې کړی دی، نو بیا دا سړی څوک
دی چې په هکله یې داسې شیان اورم؟» هیرودیس کوښښ کاوه چې عیسی ووینې.

## پنځو زرو کسانو ته خواړه ورکول

(متي ۱۳:۱۴-۲۱ او مرقوس ۳۰:۶-۴۴ او یوحنا ۱:۶-۱۴)

۱۰ کله چې رسولان بېرته راغلل، نو کوم کارونه چې هغوی کړي وو هغه یې عیسی ته بیان کړل.
عیسی هغوی د ځان سره واخیستل او د بیت‌صیدا په نوم ښار ته یوازې لاړل. ۱۱ خو خلک خبر
شول او ورپسې لاړل. عیسی هغوی ته هرکلی ووایه، د هغوی سره یې د خدای د پاچاهۍ په هکله
خبرې وکړې او هغو خلکو ته یې شفا ورکړه چې روغتیا ته یې اړتیا درلودله. ۱۲ کله چې
مازدیګر شو، نو هغه دولس شاګردان عیسی ته راغلل او ورته ویې ویل: «دا خلک رخصت کړه چې
کلیو او شاوخوا باندېو ته لاړ شي چې ځانونو ته خواړه او د شپې تېرولو دپاره ځای پیدا کړي. دلته
هېڅ شی نشته او دا ځای د دښتې په شان دی.» ۱۳ خو عیسی هغوی ته وویل: «تاسو خپله
هغوی ته څه ورکړئ چې ویې خوري.» هغوی وویل: «مونږ سره یوازې پنځه ډوډۍ او دوه ماهیان
دي، نور هېڅ هم نشته. ایا تاسو غواړئ چې مونږ خپله لاړ شو او دې ټولو خلکو ته خواړه واخلو.»
۱۴ (هلته شاوخوا پنځه زره سړي وو.) عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «هغوی پنځوس پنځوس
تنه کېښنوئ.» ۱۵ شاګردانو همداسې وکړل او ټول یې کېښنول. ۱۶ عیسی هغه پنځه ډوډۍ او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوه ماهیان راواخیستل، پورته اسمان ته یې وکتل او د خدای شکر یې وویست. بیا هغه ډوډۍ ماتې
کړې او خپلو شاګردانو ته یې ورکړې چې د خلکو په مخکې یې کېږدي. ۱۷ هغوی ټولو وخوړل
او ماړه شول او د ډوډۍ کومې ټوټې چې پاتې شوې شاګردانو هغه راټولې کړې او د هغو څخه
دولس ټوکرۍ ډکې شوې.

## د عیسی په هکله د پطروس اقرار

(متي ۱۶:۱۳–۱۹ او مرقوس ۸:۲۷–۲۹)

۱۸ یوه ورځ چې عیسی په یو ګوښه ځای کې دعا کوله او شاګردان یې هم هلته وو، د هغوی
څخه یې پوښتنه وکړه: «خلک څه وایي چې زه څوک یم؟» ۱۹ هغوی په ځواب کې وویل:
«ځینې وایي چې ته تعمید ورکوونکی یحیی یې، ځینې وایي چې الیاس نبي یې، او نور وایي چې د
پخوانیو پیغمبرانو څخه کوم یو راژوندی شوی دی.» ۲۰ نو عیسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه:
«تاسو څه وایئ چې زه څوک یم؟» پطروس په ځواب کې وویل: «ته د خدای مسیح یې.»

## عیسی د خپل مرګ په هکله پېشګویي کوي

(متي ۱۶:۲۰–۲۸ او مرقوس ۸:۳۰–۳۸، ۹:۱)

۲۱ بیا عیسی هغوی ته په کلکه حکم وکړ چې په دې هکله چاته څه ونه وایي ۲۲ او ویې ویل:
«دا ضروري ده چې د انسان زوی به ډېر کړاوونه وزغمي او د قوم د مشرانو، مشرانو کاهنانو او د
شریعت د عالمانو له خوا به رد کړای شي. هغه به ووژل شي او په دریمه ورځ به بیا راژوندی شي.»
۲۳ بیا یې هغوی ټولو ته وویل: «که څوک غواړي چې زما د پیروانو څخه اوسي نو باید د خپل
ځان څخه تېر شي، هره ورځ دې خپل صلیب راواخلي او په ما پسې دې راځي. ۲۴ ځکه څوک
چې غواړي خپل ژوند وساتي هغه به له لاسه ورکړي، خو څوک چې خپل ژوند زما په خاطر له

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاسه ورکوي نو وبه يې ساتي. ۲۵ د يو چا دپاره به په دې کې څه ګټه وي چې ټوله نړۍ وګټي،
خو خپل ځان له لاسه ورکړي يا هغه ته زيان ورسوي؟ ۲۶ که څوک په ما او يا زما په
تعليم شرميږي، نو د انسان زوی به هم کله چې د خپل جلال او د پلار او سپېڅلو فرښتو د جلال
سره راشي، په هغه وشرميږي. ۲۷ زه تاسو ته رښتيا وايم چې دلته ځينې داسې خلک ولاړ دي
چې تر هغې پورې به مړه نه شي، ترڅو يې د خدای پاچاهي نه وي ليدلې.»

## د عيسی د څېرې بدلېدل

(متي ۱۷:۱–۸ او مرقوس ۹:۲–۸)

۲۸ د دې خبرو څخه شاوخوا اته ورځې وروسته عيسی پطروس، يوحنا او يعقوب د ځان سره
واخيستل او د دعا دپاره يو غره ته وختل. ۲۹ کله چې عيسی دعا کوله، نو څېره يې بدله شوه او
کالي يې سپين وځلېدل. ۳۰ ناڅاپه هلته دوه سړي راښکاره شول چې د عيسی سره يې خبرې
کولې او هغوی موسی او الياس وو. ۳۱ هغوی په اسماني جلال کې راښکاره شول او د عيسی سره
يې د خدای د هغه مقصد په هکله چې د هغه په مرګ به په اورشليم کې پوره شي، خبرې وکړې.
۳۲ په دې وخت کې پطروس او د هغه ملګري په درانه خوب ويده شوي وو، خو کله چې راويښ
شول، نو د عيسی جلال او هغه دوه سړي چې ورسره ولاړ وو، وليدل. ۳۳ کله چې موسی او
الياس له عيسی څخه تلل، نو پطروس عيسی ته وويل: «استاذه! څومره ښه ده چې موږ دلته يو.
راځئ چې درې خيمې جوړې کړو، يوه تاته، يوه موسی ته او يوه الياس ته.» خو پطروس نه پوهېده
چې څه وايي. ۳۴ هغه لا خبرې کولې چې يوه وريځ راښکاره شوه او په هغوی باندې يې سيوری
وکړ. کله چې شاګردان په وريځو کې راايسار شول، نو ووېرېدل. ۳۵ د وريځې څخه يو اواز راغی
او ويل يې: «دا زما زوی دی چې ما غوره کړی دی، هغه ته غوږ ونيسئ.» ۳۶ کله چې اواز غلی
شو، هغوی وليدل چې عيسی هلته يوازې ؤ. شاګردان غلي پاتې شول او څه چې يې ليدلي وو په
هغه وخت کې يې د هغو په هکله چاته څه ونه ويل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د یو هلک څخه پېریان وباسي

(متي ۱۴:۱۷–۱۸ او مرقوس ۱۴:۹–۲۷)

۳۷ بله ورځ کله چې عیسی د خپلو درېو شاګردانو سره د غره څخه راښکته شو، نو ډېر خلک
راغلل چې د هغه سره وویني. ۳۸ ناڅاپه د هغې ډلې څخه یو سړي چیغه کړه: «ای استاذه! زه
درته زاري کوم چې زما زوی ته یو نظر وګوره، هغه زما یوازېنی زوی دی. ۳۹ په هغه باندې
پېریان راځي او ناڅاپه چیغې ورڅخه وباسي او داسې ټکانونه ورکوي چې د خولې څخه یې ځګونه
روان وي. له ډېرو ځپلو وروسته یې په سختۍ سره پرېږدي. ۴۰ ستا شاګردانو ته مې زاری وکړې
چې پېریان ترې وباسي، خو هغوی ونه شو کولای.» ۴۱ عیسی په ځواب کې وویل: «ای د دې
زماني بې‌ایمانه او بې‌لارې خلکو! ترڅو پورې به زه ستاسو سره یم او ترڅو پورې به تاسو ته
حوصله کوم؟» بیا یې هغه سړي ته وویل: «زوی دې دلته راوله.» ۴۲ هلک لا راروان ؤ چې
پېریانو هغه په ځمکه راګوزار کړ او ویې لړزاوه. عیسی پېریانو ته حکم وکړ چې ترې ووځي او هغه
هلک یې روغ کړ او هغه یې بېرته خپل پلار ته وسپاره. ۴۳ ټول خلک د خدای لویی ته حیران
پاتې شول.

## عیسی د دوهم ځل دپاره د خپل مرګ په هکله پېشګویي کوي

(متي ۲۲:۱۷–۲۳ او مرقوس ۳۰:۹–۳۲)

په داسې حال کې چې ټول خلک د عیسی دې کارونو ته حیران پاتې وو هغه خپلو شاګردانو ته
وویل: ۴۴ «زه چې تاسو ته څه وایم هغه ته په غور سره غوږ ونیسئ: د انسان زوی به خپلو
دښمنانو ته په لاس ورکړل شي.» ۴۵ خو شاګردان په دې پوه نه شول چې د دې خبرې معنی څه
ده. د دې معنی د هغوی څخه پټه ساتل شوې وه چې وربانديې پوه نه شي او هغوی وېرېدل چې په
دې هکله د هغه څخه پوښتنه وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ټولو نه لوی څوک دی؟

(متي ۱۸:۱–۵ او مرقوس ۹:۳۳–۳۷)

۴۶ بیا د شاګردانو ترمنځ دا بحث پیل شو چې په دوی کې څوک تر ټولو لوی دی. ۴۷ عیسی
پوه شو چې د هغوی په زړونو کې څه ګرځي، نو هغه یو ماشوم راوست او په خپل څنګ کې یې
ودراوه ۴۸ او هغوی ته یې وویل: «هرڅوک چې دا ماشوم زما په نوم قبول کړي، نو زه یې قبول
کړی یم او څوک چې ما قبول کړي، نو هغه څوک یې قبول کړی دی چې زه یې رالیږلی یم. ځکه
چې په تاسو ټولو کې تر ټولو کوچنی تر ټولو لوی دی.»

## څوک چې ستاسو مخالف نه دی هغه ستاسو طرفدار دی

(مرقوس ۹:۳۸–۴۰)

۴۹ یوحنا عیسی ته وویل: «استاذه! مونږ یو سړی ولیده چې ستا په نوم یې پېریان ویستل خو
مونږ هغه د دې کار څخه منع کړ، ځکه چې هغه زمونږ د ډلې څخه نه ؤ.» ۵۰ عیسی هغه ته
وویل: «هغه مه منع کوئ، ځکه څوک چې ستاسو مخالف نه دی هغه ستاسو طرفدار دی.»

## د سامرې د یو کلي خلک د عیسی د منلو څخه انکار کوي

۵۱ کله چې هغه وخت رانژدې شو چې عیسی اسمان ته یووړل شي، نو په ټینګې ارادې سره
اورشلیم ته روان شو. ۵۲ هغه د ځان څخه مخکې استازي ولېږل. هغوی لاړل او د سامرې یو
کلي ته ورغلل چې د هغه دپاره تیاری ونیسي. ۵۳ خو د هغه کلي خلکو عیسی قبول نه کړ، ځکه
چې دا ښکاره وه چې هغه د اورشلیم خواته روان ؤ. ۵۴ کله چې د هغه شاګردانو یعقوب او یوحنا
دا ولیدل، نو هغوی وویل: «استاذه! ایا ته زمونږ څخه غواړې چې وواېو د اسمان څخه دې اور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رانازل شي او دا خلک وسوځوي؟» ۵۵ خو عیسی ورته مخ راواړاوه او هغوی یې ورټل. ۵۶
بیا هغوی بل کلي ته لاړل.

## د عیسی څخه د پیروۍ کولو شرطونه

(متي ۸:۱۹–۲۲)

۵۷ کله چې هغوی په لاره روان وو، یو سړي عیسی ته وویل: «هرچېرته چې ځې زه به درپسې
ځم.» ۵۸ عیسی هغه ته وویل: «ګیدړان خپل غارونه لري او مرغان ځالې، خو د انسان زوی
دومره ځای هم نه لري چې خپل سر ورباندې کېږدي.» ۵۹ عیسی یو بل سړي ته وویل: «ما پسې
راځه.» خو هغه سړي وویل: «ښاغلیه! اجازه راکړه چې لومړی لاړ شم او خپل پلار خاورو ته
وسپارم.» ۶۰ عیسی هغه ته وویل: «پرېږده چې مړي خپل مړي ښخ کړي. ته لاړ شه او د خدای
د پاچاهۍ اعلان وکړه.» ۶۱ یو بل سړي وویل: «ای ښاغلیه! زه به تا پسې ځم، خو لومړی اجازه
راکړه چې لاړ شم او د خپلې کورنۍ سره خدای پاماني وکړم.» ۶۲ عیسی هغه ته وویل: «څوک
چې د قلبې کولو په وخت کې شاته ګوري، هغه د خدای د پاچاهۍ وړ نه دی.»

## د دوه اویا شاګردانو لیږل

۱۰ ۱ له هغې وروسته عیسی نور دوه اویا شاګردان وټاکل او هغوی یې دوه دوه تنه د خپل
ځان نه مخکې هر ښار او کلي ته چې غوښتل یې هلته لاړ شي، ولیږل. ۲ هغوی ته یې وویل:
«فصل ډېر دی خو مزدوران لږ دي، نو تاسو د فصل د خاوند څخه وغواړئ چې د حاصلاتو د
راټولولو دپاره نور مزدوران راولیږي. ۳ لاړ شئ، خو ګورئ، زه تاسو لکه د وریو په شان د
لیوانو منځ ته لیږم. ۴ د ځان سره د پیسو کڅوړه یا خورجین او یا څپلۍ مه وړئ. او په لاره کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د چا سره خبرې مه کوئ. ۵ کله چې کوم کور ته ننوځئ، نو لومړی داسې ووایئ: ‹په دې کور
کې دې سلامتي وي.› ۶ که چېرې هلته کوم سوله خوښوونکی کس وي، نو ستاسو سلام به په
هغه باندې وي او که نه، نو هغه سلام به بېرته تاسو ته راوګرځي. ۷ په هماغه کور کې پاتې شئ
او هغوی چې هرڅه درکوي ویې خورئ او ویې وڅښئ، ځکه چې مزدور د خپلې مزدورۍ حقدار
دی. کور په کور مه ګرځئ. ۸ کله چې تاسو کوم ښار ته ننوځئ او هغوی درته هرکلی ووایي، نو
څه چې یې ستاسو په مخکې کېښودل هغه وخورئ. ۹ د هغه ځای ناروغان روغ کړئ او خلکو
ته ووایئ چې د خدای پاچاهي تاسو ته نژدې شوې ده. ۱۰ خو کله چې تاسو کوم ښار ته
ورننوځئ او هغوی درته هرکلی ونه وایي، نو د هغه ښار کوڅو ته ووځئ او ووایئ: ۱۱ ‹مونږ به
ستاسو د ښار خاورې هم چې زمونږ په پښو باندې پرېوتې دي وڅنډو او دا به ستاسو په خلاف
شاهدي ورکوي. خو په دې پوه شئ چې د خدای پاچاهي نژدې شوې ده.› ۱۲ زه تاسو ته وایم
چې د قیامت په ورځ به د سدوم د خلکو سزا د دې ښار د خلکو د سزا څخه کمه وي.

## هغه ښارونه چې خلک یې توبه نه وباسي

(متي ۲۰:۱۱–۲۴)

۱۳ افسوس دې وي په تا ای د خورزین ښاره! افسوس دې وي په تا ای د بیت‌صیدا ښاره! ځکه
که چېرې دا معجزې چې په تاسو کې وښودل شوې، که هغه په صور او صیدون کې ښودل شوې
وای نو هغوی به ډېر پخوا د ویر کالي اغوستي وای، په خپلو سرونو باندې به یې ایرې بادولې او
توبه به یې ویستلې وای. ۱۴ خو د قیامت په ورځ به د صیدون او صور د خلکو سزا ستاسو د سزا
څخه کمه وي. ۱۵ خو ای کپرناحومه! تا غوښتل چې اسمان ته پورته کړای شې؟ خو ته به دوزخ
ته وغورځول شې.»

۱۶ عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «څوک چې ستاسو خبرو ته غوږ نیسي، هغوی زما خبرو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوږ نیسي. څوک چې تاسې نه مني، هغوی ما نه مني او څوک چې ما نه مني نو هغه څوک نه مني
چې زه يې رالېږلی یم.»

## د دوه اویا شاګردانو بېرته راستنېدل

۱۷ بیا هغه دوه اویا شاګردان په خوشحالۍ سره بېرته راستانه شول او ویې ویل: «استاذه! حتی
پېریان هم ستا د نوم په یادولو سره زمونږ تابع کیږي.» ۱۸ عیسی هغوی ته په ځواب کې وویل:
«ما ولیدل چې شیطان څنګه لکه د برېښنا په شان له اسمانه راوغورځېد. ۱۹ واورئ! ما تاسو ته
واک او اختیار درکړی چې ماران او لړمان تر پښو لاندې کړئ او د دښمن ټول قوت مات کړئ. هېڅ
شی تاسو ته زیان نه شي رسولی. ۲۰ خو په دې مه خوشحالېږئ چې پېریان تاسو ته تابع کیږي،
بلکې په دې خوشحاله اوسئ چې ستاسو نومونه په جنت کې لیکل شوي دي.»

## د عیسی خوشحالي

(متي ۱۱:۲۵–۲۷، ۱۳:۱۶–۱۷)

۲۱ په هغه وخت کې عیسی په روح القدس کې خوشحالي وکړه او ویې ویل: «ای پلاره، ای د
ځمکې او اسمان څښتنه! زه ستا شکر کوم چې دا خبرې دې د پوهو او هوښیارو خلکو څخه پټې
کړې او ناپوهو خلکو ته دې ښکاره کړي دي. هو پلاره، دا ستا رضا وه. ۲۲ زما پلار هرڅه ماته
راسپارلي دي. هېڅوک له پلاره پرته زوی نه پېژني او نه څوک پلار بې له زویه پېژني او پرته له هغه
چا چې زوی وغواړي ورته ویې ښایي.»

۲۳ کله چې هغوی یوازې وو، نو عیسی هغوی ته مخ راواړاوه او ورته ویې ویل: «بختورې دي
هغه سترګې چې هغه څه ویني چې تاسو يې وینئ. ۲۴ زه تاسو ته وایم چې ډېرو پیغمبرانو او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاچاهانو دا ارمان درلود چې هغه څه ووېني چې تاسو يې وينئ، خو ويې نه ليدل او هغه څه واوري
چې تاسو يې اورئ، خو هغوی وانه ورېدل.»

## د يو نېک سامري مثال

۲۵ يوه ورځ د شريعت يو عالم راغی او د عيسی څخه يې د ازمېښت دپاره يو سوال وکړ:
«استاذه! زه بايد څه وکړم چې تلپاتې ژوندون وګټم؟» ۲۶ عيسی هغه ته ځواب ورکړ: «په
شريعت کې څه ليکل شوي دي؟ هغه څنګه تعبيروې؟» ۲۷ هغه په ځواب کې وويل: «د خپل
څښتن خدای سره د زړه له کومي، په خپل ټول روح او خپل ټول قوت او ټول عقل سره مينه کوه او
د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مينه کوه.» ۲۸ عيسی ورته وويل: «تا سم ځواب ورکړ.
همداسې کوه، نو ته به ژوندی اوسې.»

۲۹ خو د دې دپاره چې د شريعت عالم دا وښايي چې هغه په حقه دی، نو د عيسی څخه يې
پوښتنه وکړه: «زما ګاونډی څوک دی؟» ۳۰ عيسی داسې ځواب ورکړ: «په يو وخت کې يو سړی
د اورشليم څخه اريحا ته روان ؤ چې په لاره کې داړه مارانو ته په لاس ورغی. غلو هغه سړی لوڅ
کړ، ويې واهه او د مرګ په حالت کې يې پرېښود او لاړل. ۳۱ ناڅاپه يو کاهن په هغه لاره تېرېده،
کله يې چې هغه سړی وليده، نو خپله لاره يې پرېښوده او ورڅخه تېر شو. ۳۲ همدارنګه يو لاوي
چې کله هغه ځای ته راورسېد او هغه سړی يې وليده، نو هغه هم ترې په بله خوا تېر شو او لاړ.
۳۳ خو يو سامري چې په هغه لاره تېرېده هغه ته ورغی او کله يې چې هغه سړی وليده نو زړه
يې ورباندې وسوځېد. ۳۴ هغه ته ورغی، ټپونه يې ورته په شرابو ووينځل او تېل يې ورباندې
واچول او پټۍ يې ورباندې کېښودله. بيا يې هغه په خپل خره باندې سپور کړ او يوې مسافرخانې ته
يې يووړ او هلته يې ورباندې پام کاوه. ۳۵ سبا سهار هغه د سپينو زرو دوه سکې واخيستې او د
مسافرخانې خاوند ته يې ورکړې او ورته ويې ويل: ‹په هغه باندې پام کوه او که نورې پيسې دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورباندې ولګولې نو کله چې بېرته راغلم هغه به هم درکړم.›» ۳۶ بیا عیسی پوښتنه وکړه: «اوس
څه فکر کوې چې په دې درې واړو کې د هغه سړي چې د داړه مارانو لاس ته ورغلی ؤ، ګاونډی
څوک دی؟» ۳۷ د شریعت عالم ځواب ورکړ: «هغه څوک چې په هغه باندې یې رحم وکړ.»
عیسی ورته ووېل: «لاړ شه او ته هم همداسې کوه.»

## عیسی د مرتا او مریم سره لیدنه کوي

۳۸ کله چې عیسی او شاګردان یې په خپله لاره روان شول، هغوی یو کلي ته ورسېدل او هلته
یوې ښځې چې مرتا نومېدله عیسی په خپل کور کې مېلمه کړ. ۳۹ هغې د مریم په نوم یوه خور
درلودله. هغه راغله او د عیسی پښو ته کښېناستله او د هغه خبرو ته یې غوږ نیولی ؤ. ۴۰ مرتا د
ډېرو کارونو له لاسه ستړې او پرېشانه شوه، نو عیسی ته راغله او ورته ویې ویل: «استاذه! ستا دې
ته پام نه دی چې ټول کارونه زه کوم او خور مې راسره مرسته نه کوي؟ هغې ته ووایه چې راشي او
مرسته راسره وکړي.» ۴۱ عیسی هغې ته په ځواب کې ووېل: «مرتا، مرتا! ته د ډېرو شیانو دپاره
اندېښنه کوې او ناارامه یې، ۴۲ خو یوازې یو شی ضروري دی. څه چې مریم خوښ کړي دي
هغه ښه دي او دا به له هغې څخه وانخیستل شي.»

## عیسی خپلو شاګردانو ته د دعا کولو په هکله تعلیم ورکوي

(متي ۶:۹-۱۳، ۷:۷-۱۱)

۱۱ ۱ یوه ورځ عیسی په یو ځای کې دعا کوله. کله چې هغه خپله دعا خلاصه کړه، نو د
شاګردانو څخه یو تن هغه ته ووېل: «ای استاذه! لکه څنګه چې یحیی خپلو شاګردانو ته دعا کول
زده کړي وو، ته یې هم مونږ ته رازده کړه.» ۲ عیسی هغوی ته ووېل: «کله چې تاسو دعا کوئ،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو داسې ووايئ:

‹ای اسماني پلاره!

ستا نوم دې پاک وي،

ستا پاچاهي دې راشي.

٣ زمونږ ورځنی رزق هره ورځ مونږ ته راکړه.

٤ زمونږ ګناهونه وبخښه

ځکه چې مونږ هم هغه خلک بخښو چې زمونږ سره بدي کوي

او مونږ په ازمېښت کې مه اچوه.›»

٥ بیا عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «فرض کړئ که په تاسو کې یو کس په نیمه شپه د خپل
ملګري کور ته ورشي او ورته ووايي: ‹ای ملګریه! ماته درې ډوډۍ په پور راکړه. ٦ زما یو
ملګری چې په سفر کې ؤ زما کور ته راغلی دی او زما سره څه نشته چې د هغه په مخکې یې
کېږدم چې ویې خوري.› ٧ او ستاسو ملګری د کور له دننه څخه تاسو ته ځواب درکړي: ‹ما مه
ناارامه کوه، دروازه اوس بنده ده او زه او زما بچیان په خپلو بسترو کې پراته یو. زه نه شم کولای
چې راپاڅېږم او تاته کوم څه درکړم.› ٨ زه تاسو ته وایم که چېرې هغه د ملګرتیا په خاطر
راپانځیږي او ډوډۍ درنه کړي، خو بیاهم په دې خاطر چې تاسو په سوال کولو نه شرمېږئ، نو هغه
به راپاڅیږي او هرڅه ته چې اړتیا ولرئ تاسو ته به یې درکړي. ٩ همدارنګه تاسو ته وایم چې
وغواړئ نو تاسو ته به درکړل شي، ولټوئ نو پیدا به یې کړئ، دروازه وټکوئ نو درته خلاصه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي. ۱۰ ځکه هرڅوک چې څه وغواړي، نو لاسته به يې راوړي او هرڅوک چې څه ولټوي، نو
پيدا به يې کړي او هرڅوک چې دروازه وټکوي، نو ورته خلاصه به شي. ۱۱ ايا په تاسو کې
داسې پلار شته چې زوی يې ورڅخه ماهي وغواړي او هغه د ماهي په ځای ورته مار ورکړي؟
۱۲ يا هغه ورڅخه هګۍ وغواړي او هغه ورته لړم ورکړي؟ ۱۳ نو تاسو چې دومره بد خلک
يئ، په دې پوهېږئ چې خپلو اولادونو ته څنګه ښه شيان ورکړئ، نو ستاسو اسماني پلار به څومره
زيات روح القدس هغو خلکو ته ورکړي چې ورڅخه يې وغواړي.»

## عيسی او د پېريانو مشر بعلزبول

(متي ۱۲:۲۲-۳۰ او مرقوس ۳:۲۰-۲۷)

۱۴ عيسی د يو سړي څخه ګونګی پېری وويست او کله چې هغه پېری ووت، نو هغه ګونګي
سړي په خبرو پيل وکړ او خلک حيران شول. ۱۵ خو ځينو خلکو وويل چې هغه د پېريانو د مشر
بعلزبول يعنې شيطان په مرسته پېريان وباسي. ۱۶ نورو د ازمېښت په ډول د عيسی څخه اسماني
معجزه وغوښتله. ۱۷ خو عيسی د هغوی په خيالونو پوهېده، نو هغوی ته يې وويل: «په هره
پاچاهۍ کې چې په خپل منځ کې بې‌اتفاقي رامنځته شي هغه له منځه ځي. په هره کورنۍ کې چې
بې‌اتفاقي رامنځته شي، نو هغه کورنۍ ټوټې ټوټې کيږي. ۱۸ او که چېرې شيطان د خپل ځان په
خلاف شي، نو د هغه پاچاهي به څنګه پاتې شي؟ خو بياهم تاسو وايئ چې زه د بعلزبول په مرسته
پېريان وباسم. ۱۹ که چېرې زه د بعلزبول په مرسته پېريان وباسم، نو ستاسو خپل پيروان يې د چا
په مرسته وباسي؟ نو هغوی به ستاسو په هکله قضاوت وکړي. ۲۰ خو که چېرې زه د خدای په
قدرت سره پېريان وباسم، نو په دې پوه شئ چې د خدای پاچاهي تاسو ته راغلې ده.

۲۱ کله چې يو زورور سړی چې په وسله سمبال وي د خپل کور ساتنه کوي، نو د هغه مال او
جايداد به خوندي وي، ۲۲ خو کله چې د هغه څخه کوم زيات زورور سړی په هغه باندې حمله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي او هغه ته ماتې ورکړي، نو د هغه شخه به هغه ټوله وسله چې ورباندې ډاډه ؤ، واخلي او کوم
شیان چې هغه غلا کړي دي هغه به په خپلو کې سره ووېشي.

٢٣ څوک چې زما سره نه دی، هغه زما په خلاف دی او څوک چې زما سره د خلکو په راټولولو
کې مرسته نه کوي، هغه یې خواره واره کوي.

## د پیري بېرته راتلل

(متي ١٢:٤٣–٤٥)

٢٤ کله چې د یو سړي څخه پېری راوځي، نو په دښتو کې سرګردانه ګرځي او د ارام کولو دپاره
ځای لټوي، خو کله چې داسې ځای پیدا نه کړي، نو د خپل ځان سره وایي: ‹زه به بېرته هغه کور ته
لاړ شم چې ورڅخه راوتلی وم.› ٢٥ نو کله چې بېرته راشي، نو هغه کور جارو شوی او منظم
وویني. ٢٦ بیا هغه لاړ شي او تر ځان بد نور اووه پېریان راولي او هغوی ټول راشي، په هغه کس
کې ورننوځي او هلته اوسیږي. نو د هغه حال له مخکې څخه هم خراب شي.»

## ربښتیني خوشحالي

٢٧ کله چې عیسی دا خبرې کولې، د خلکو له منځ څخه یوې ښځې په لوړ اواز هغه ته وویل:
«بختوره ده هغه ښځه چې ته ورڅخه پیدا شوی یې او تاته یې شیدې درکړې دي.» ٢٨ خو
عیسی ځواب ورکړ: «هو، هغه څوک بختور دی چې د خدای کلام اوري او عمل ورباندې کوي.»

## د معجزې غوښتنه

(متي ١٢:٣٨–٤٢)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ کله چې د عیسی په شاوخوا ډېر خلک راټول شول، هغه داسې ووېل: «د دې زمانې خلک
څومره بدکاره دي. هغوی معجزه غواړي، خو یوازېنۍ معجزه چې هغوی ته به وښودل شي هغه د
یونس پیغمبر معجزه ده. ۳۰ لکه څنګه چې یونس پیغمبر د نینوا د خلکو دپاره یوه نښه وه، نو
همداسې به د انسان زوی د دې زمانې د خلکو دپاره یوه نښه وي. ۳۱ د شیبا ملکه به د قیامت په
ورځ راپاڅېږي او د دې زمانې خلک به ملامته کړي، ځکه چې هغه د نړۍ د بل سر څخه راغلې وه
چې د سلیمان د حکمت څخه ډکې خبرې واورې. خو ګورئ اوس دلته یو څوک شته چې د سلیمان
څخه لوی دی. ۳۲ د قیامت په ورځ به د نینوا خلک راپورته شي او د دې زمانې خلک به ملامته
کړي، ځکه چې هغوی د یونس د وعظ په اورېدلو سره توبه وویستله، خو ګورئ څوک چې اوس
دلته دی هغه د یونس نه ډېر لوی دی.

## د بدن څراغ

(متي ۵:۱۵، ۶:۲۲-۲۳)

۳۳ هېڅوک څراغ د دې دپاره نه بلوي چې هغه په یو پټ ځای کې کېږدي او یا یې د یوې کاسې
لاندې کېږدي، بلکې هغه په څراغدان باندې ږدي چې کله خلک راشي، نو رڼا یې ووینې. ۳۴ ستا
سترګې ستا د بدن دپاره لکه د څراغ په شان دي. کله چې دې سترګې روغې وي نو ټول بدن به دې
هم رڼا وي، خو کله چې دې سترګې خرابې وي، نو ستا بدن به هم تیاره وي. ۳۵ نو پام کوه،
هسې نه په تا کې چې کومه رڼا ده هغه تیاره وي. ۳۶ که چېرې ستا ټول بدن د روښنایۍ څخه
ډک وي او یوه برخه یې هم په تیاره کې نه وي، نو ټول بدن به دې داسې روښانه وي لکه څراغ
چې په خپله رڼا تا روښانه کړي.»

## عیسی فریسیان او د شریعت عالمان ملامتوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۱:۲۳-۳۶ او مرقوس ۱۲:۳۸-۴۰)

۳۷ کله چې عیسی خپلې خبرې خلاصې کړې، نو یو فریسي هغه ته د ډوډۍ دپاره بلنه ورکړه.
عیسی د هغه کور ته ورغی او دسترخوان ته کښېناست. ۳۸ کله چې فریسي ولیدل چې عیسی د
خوراک څخه مخکې لاسونه ونه وینځل، نو حیران شو. ۳۹ عیسی هغه ته وویل: «تاسو فریسیان
د خپلو پیالو او قابونو باندینۍ برخې پاکوئ، خو ستاسو زړونه د حرص او بدیو څخه ډک دي. ۴۰
ای کم‌عقلو خلکو! چا چې باندینۍ برخه جوړه کړې ده ایا هغه دننۍ برخه نه ده جوړه کړې؟ ۴۱
خو څه چې ستاسو په پیالو او قابونو کې دي هغه غریبانو ته خیرات ورکړئ، نو بیا به ټول شیان
ستاسو دپاره پاک شي.

۴۲ خو ای فریسیانو! ستاسو په حال دې افسوس وي. تاسو د وېلنې او سپېلنې او نورو بوټو لسمه
برخه ورکوئ، خو په انصاف کولو او د خدای سره په مینه کولو کې بې‌پروایي کوئ. تاسو باید په دې
ټولو باندې عمل کولای او هغه نور مو هم له نظره نه غورځولی.

۴۳ ای فریسیانو! ستاسو په حال دې افسوس وي. تاسو دا خوښوئ چې په کنیسو کې مخکې
ځایونه ونیسئ، او دا خوښوئ چې په بازارونو کې دې درته سلامونه واچول شي. ۴۴ ستاسو په
حال دې افسوس وي. تاسو د هغو بې‌نښو او بې‌شناختو قبرونو په شان یئ چې خلک ورباندې
ګرځي او نه یې پېژني.»

۴۵ د شریعت د عالمانو څخه یو تن عیسی ته په ځواب کې وویل: «استاذه! کله چې داسې خبرې
کوې، نو زمونږ هم سپکاوی کوې.» ۴۶ عیسی ځواب ورکړ: «ای د شریعت عالمانو! ستاسو په
حال دې هم افسوس وي. تاسو خلکو ته داسې بارونه ور په شا کوئ چې په سختۍ سره یې وړي،
خو خپله ورته ګوتې هم نه وروړئ. ۴۷ ستاسو په حال دې افسوس وي. تاسو د هغو پیغمبرانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره زيارتونه جوړوئ چې ستاسو نيکونو وژلي وو. ۴۸ ستاسو نيکونو چې کوم کارونه کړي دي
تاسو په خپله هغه منئ او تصديقوئ. هغوی پيغمبران ووژل او تاسو ورته زيارتونه جوړوئ، ۴۹ له
دې امله خدای په خپل حکمت سره وويل: ‹زه به هغوی ته پيغمبران او رسولان ورولېږم. خو هغوی
به له دوی څخه ځينې ووژني او نور به وځوروي.› ۵۰ نو د دې زمانې د خلکو څخه به د هغو
پيغمبرانو د وينو ځواب چې د نړۍ د پيدايښت راهيسې توی شوي دي وغوښتل شي. ۵۱ د هابيل
له وژلو نيولې د زکريا تر وژلو پورې چې د قربانۍ د ځای او سپېڅلي ځای ترمنځ ووژل شو. هو،
زه تاسو ته وايم چې د دې زمانې خلک به د دې هرڅه دپاره ځواب ورکوي.

۵۲ ای د شريعت عالمانو! ستاسو په حال دې افسوس وي. تاسو د علم د کور د دروازې کيلي
اخيستې ده، په خپله هم نه ورننوځئ او څوک چې ورننوځي هغوی هم نه پرېږدئ.»

۵۳ کله چې عيسی له هغه کوره ووت، د شريعت عالمانو او فريسيانو د هغه سره ډېر سخت
مخالفت پيل کړ او د ډېرو شيانو په هکله يې ورڅخه سختې پوښتنې کولې. ۵۴ هغوی کوښښ
کاوه چې هغه په خپلو خبرو کې راونيسي.

## د منافقت په خلاف خبرداری

(متي ۱۰:۲۶–۲۷)

۱۲ ۱ په دې وخت کې په زرګونو خلک راټول شول او دومره زيات وو چې يو بل يې ترپښو
لاندې کول، نو عيسی لومړی خپلو شاګردانو ته خبرې پيل کړې: «د فريسيانو د خميرې يعنې د
هغوی د منافقت څخه ځانونه ساتئ. ۲ داسې پټ شی نشته چې ښکاره به نه شي او نه داسې پټ
راز شته چې ښکاره به نه شي. ۳ نو هرڅه چې تاسو په تياره کې ويلي هغه به په رڼا ورځ
واورېدل شي او هرڅه چې تاسو د تړلو دروازو شاته يو بل ته په غوږ کې پټ پټ ويلي دي هغه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بامونو څخه په لوړ اواز واورېدل شي.

## د چا نه ووېرېږو

(متي ۲۸:۱۰-۳۱)

۴ ای زما ملګرو! زه تاسو ته وایم د هغو خلکو څخه مه وېرېږئ چې بدن وژني او له هغې
وروسته نور هېڅ نه شي کولای. ۵ خو زه تاسو خبروم چې د چا څخه باید ووېرېږئ. له هغه چا
څخه ووېرېږئ چې د وژلو څخه وروسته دا واک او اختیار لري چې تاسو په دوزخ کې واچوي.
هو، زه تاسو ته وایم چې باید د هغه څخه ووېرېږئ. ۶ ایا پنځه مرغۍ په دوه روپۍ نه
خرڅیږي؟ خو بیاهم له دوی څخه یوه یې هم خدای نه هېروي. ۷ تر دې پورې چې ستاسو د
سر ویښتان هم شمېرل شوي دي. نو هېڅ مه وېرېږئ، تاسو د بېشمېره مرغیو څخه زیات ارزښت
لرئ.»

## د خلکو په مخکې د مسیح په هکله اقرار کول

(متي ۳۲:۱۰-۳۳، ۳۲:۱۲، ۱۹:۱۰-۲۰)

۸ عیسی زیاته کړه: «زه تاسو ته وایم هرڅوک چې د خلکو په مخکې په دې اقرار وکړي چې
هغه زما د پیروانو څخه دی، نو د انسان زوی به هم د خدای د فرښتو په مخکې اقرار وکړي چې
هغه زما د پیروانو څخه دی. ۹ خو هرڅوک چې د خلکو په مخکې زما څخه انکار وکړي، نو د
انسان زوی به هم د خدای د فرښتو په مخکې د هغه څخه انکار وکړي. ۱۰ هرڅوک چې د انسان
د زوی په خلاف کومه خبره وکړي نو هغه به وبخښل شي، خو که څوک د روح القدس په ضد کفر
ووایي هغه به ونه بخښل شي. ۱۱ کله چې هغوی تاسې د محاکمې دپاره کنیسو یا والیانو یا
واکمنانو ته راولي، نو په دې هکله اندېښنه مه کوئ چې د خپل ځان څخه به څنګه دفاع کوئ یا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه به وايئ. ۱۲ ځکه چې په هماغه ساعت به روح القدس تاسو ته وښايي چې څه بايد ووايئ.»

## د يو کم‌عقل شتمن مثال

۱۳ د ګڼې ګوڼې له منځ څخه يو سړي عيسی ته وويل: «استاذه! زما ورور ته ووايه چې زمونږ د
پلار ميراث زما سره ووېشي.» ۱۴ عيسی هغه ته ځواب ورکړ: «ای وروره! زه چا ستاسو ترمنځ
قاضي ټاکلی يم چې ستاسو ميراث ووېشم؟» ۱۵ بيا يې خلکو ته وويل: «پام کوئ او خپل ځانونه
د هر ډول حرص څخه وساتئ، ځکه چې د انسان ژوند په دې نه جوړېږي چې هغه دې ډېره
شتمني ولري.»

۱۶ بيا عيسی هغوی ته دا مثال راوړ: «يو شتمن سړی ؤ چې ځمکه يې لرله او هغې ځمکې ښه
حاصل ورکړ. ۱۷ هغه د خپل ځان سره فکر وکړ او ويې ويل: ‹څه وکړم؟ ما سره دومره ځای
نشته چې خپلې غلې دانې په کې وساتم.› ۱۸ بيا هغه وويل: ‹اوس پوه شوم چې څه وکړم. زه به
خپل ګودامونه وران کړم او د هغو نه به لوی لوی ګودامونه جوړ کړم او خپلې غلې دانې او نور شيان
به په کې ذخيره کړم. ۱۹ بيا به خپل ځان ته ووايم: ای بختور انسانه! تا ډېر زيات ښه ښه شيان
راټول کړي دي چې د ډېرو کلونو دپاره دې بس دي. اوس ارام ژوند تېروه، خوره، څښه او
خوشحاله ګرځه.› ۲۰ خو خدای هغه ته وويل: ‹ای کم‌عقله! همدا نن شپه به دې ساه ووځي، نو دا
ټول شيان چې تا د خپل ځان دپاره ساتلي دي هغه به د چا شي؟› ۲۱ داسې به د هغو خلکو سره
کيږي چې د ځانونو دپاره شتمني راټولوي، خو د خدای په نظر کې به غريب وي.»

## په خدای توکل کول

(متی ۶:۲۵-۳۴)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ بیا عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «نو تاسو ته وایم چې د خپل ژوند په هکله دا اندېښنه مه
کوئ چې څه شی به خورئ او هم د خپل بدن په خاطر چې څه به اغوندئ، ۲۳ ځکه چې ژوند د
خوړو څخه او بدن د کالیو څخه ډېر ارزښتناک دی. ۲۴ کارغانو ته وګورئ. هغوی نه څه کري او
نه څه ربېي، نه د ساتلو دپاره ځایونه لري او نه ګودامونه، خو خدای ورته روزي رسوي. تاسو د
مرغانو څخه ډېر زیات ارزښت لرئ. ۲۵ ایا په تاسو کې څوک کولای شي چې په اندېښنو سره د
خپل عمر یو ساعت هم زیات کړي؟ ۲۶ که چېرې تاسو داسې یو کوچنی کار نه شئ کولای، نو
بیا ولې د نورو شیانو په هکله اندېښنه کوئ؟ ۲۷ ځنګلي ګلانو ته وګورئ چې څنګه لویېږي.
هغوی نه کار کوي او نه د ځانونو دپاره کالي جوړوي. خو تاسو ته وایم چې حتی سلیمان پاچا هم
د خپل ټول شان او شوکت سره د دې ګلانو په شان ښکلی او سینګار شوی نه ؤ. ۲۸ که چېرې
خدای د صحرا واښو ته چې نن دلته دي او سبا ته په تنور کې سوځول کېږي داسې ښکلا ورکوي،
نو هغه به تاسو ته د هغو څخه ښه کالي در نه کړي؟ ستاسو ایمان ولې دومره کمزوری دی؟ ۲۹ نو
اندېښنه مه کوئ چې تاسو به څه خورئ او څه به څښئ. ۳۰ ځکه چې د دې نړۍ خلک د دې
شیانو په هکله اندېښنه کوي. خو ستاسو اسماني پلار پوهېږي چې تاسو دې شیانو ته اړتیا لرئ.
۳۱ د دې په ځای تاسو خپلو ځانونو ته د خدای پاچاهي وغواړئ، نو هغه به تاسو ته دا شیان هم
درکړي.

## اسماني شتمني

(متي ۶:۱۹-۲۱)

۳۲ ای د شاګردانو کوچنی ډلې! مه وېرېږئ، ځکه چې ستاسو د اسماني پلار دا خوښه ده چې
تاسو ته پاچاهي درکړي. ۳۳ هرڅه چې لرئ هغه خرڅ کړئ او پیسې یې غریبانو ته ورکړئ. د
خپلو ځانونو دپاره د پیسو داسې کڅوړې تیارې کړئ چې هېڅکله نه زړېږي یعني په اسمان کې
داسې خزانې جوړې کړئ چې هېڅکله نه کمېږي، ځکه چې هېڅ یو غل ورته نژدې کېدای نه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نه يې چينجي خوړلی شي. ۳۴ ځکه په هرځای کې چې ستاسو خزانه وي، نو ستاسو زړونه به هم هلته وي.

## بېداره نوکران

۳۵ خپلې ملاګانې وتړئ، د کار دپاره تيار اوسئ او څراغونه مو بل وساتئ. ۳۶ د هغو نوکرانو په شان اوسئ چې خپل بادار ته د واده د مېلمستيا څخه د بېرته راتللو په انتظار وي. کله چې هغه راشي او دروازه وټکوي، نو سمدلاسه يې ورته خلاصه کړي. ۳۷ بختور دي هغه نوکران چې کله يې بادار راشي او ووينې چې هغوی بېداره ناست دي. په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې بادار به خپله ملا وتړي، هغوی به دسترخوان ته کښېنوي او رابه شي او د هغوی خدمت به وکړي. ۳۸ بختور دي هغه نوکران چې کله يې بادار په نيمه شپه يا حتی سهار وختي راشي او ووينې چې هغوی بېداره ناست دي. ۳۹ خو تاسو بايد په دې پوه شئ چې که چېرې د کور خاوند پوهېدلی چې غل به کله راځي، نو نه به يې پرېښوده چې د هغه کور ته ورننوځي. ۴۰ نو تاسو هم بايد تيار اوسئ، ځکه چې د انسان زوی به په داسې وخت کې راشي چې تاسو به يې د راتللو انتظار هم نه لرئ.»

## وفادار او بې‌وفا نوکر

(متي ۲۴:۴۵-۵۱)

۴۱ پطروس وويل: «ای استاذه! ايا دا مثال يوازې زمونږ دپاره دی او که د ټولو دپاره؟» ۴۲ عيسی ځواب ورکړ: «نو هغه وفادار او هوښيار نوکر څوک دی چې بادار يې د خپلو نوکرانو په سر وټاکي، ترڅو په خپل وخت هغوی ته خپله برخه خواړه ورکړي؟ ۴۳ بختور دی هغه نوکر چې بادار يې راشي او هغه په خپل کار کې بوخت ووينې. ۴۴ په رښتيا سره زه وايم چې بادار به د خپل ټول مال او جايداد مسووليت هغه ته وسپاري. ۴۵ خو که هغه نوکر د خپل ځان سره ووايي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې بادار به مې دومره زر رانه شي او د نورو ټولو نوکرانو په وهلو ټکولو پيل وکړي، وخوري،
وڅښي او نشې وکړي، ۴۶ نو بادار به يې په داسې ورځ راشي چې هغه به يې انتظار هم نه لري او
په داسې وخت کې به راشي چې هغه به خبر هم نه وي. نو بادار به هغه ته سخته سزا ورکړي او هغه
به په بې‌ايمانانو کې وشمېرل شي. ۴۷ هغه نوکر چې په دې پوهېږي چې خپل بادار يې ترې څه
غواړي، خو بياهم تيار نه دی چې هغه کار وکړي، نو هغه به سخت ووهل شي. ۴۸ خو هغه نوکر
چې په دې نه پوهېږي چې بادار يې څه غواړي او کوم غلط کار وکړي چې د سزا وړ وي، نو لږ به
ووهل شي. چاته چې ډېر ورکړل شي، نو ډېر به ورڅخه غوښتل کېږي. څومره ډېر چې چاته سپارل
کېږي هماغومره ډېر ورڅخه غوښتل کېږي.»

## د عيسی په سبب بېلتون

(متي ۳۴:۱۰–۳۶)

۴۹ عيسی زياته کړه: «زه د دې دپاره راغلی يم چې په ځمکه اور ولګوم او کاشکې دا اور لا
پخوا لګېدلی وای. ۵۰ زه به د يو سخت تعميد څخه تېرېږم او ترڅو پورې چې هغه ترسره شوی
نه وي، زما زړه به څومره ناارامه وي. ۵۱ ايا تاسو ګومان کوئ چې زه د دې دپاره راغلی يم چې
نړی ته سوله راولم؟ نه، د سولې دپاره نه بلکې د بې‌اتفاقۍ اچولو دپاره راغلی يم. ۵۲ ځکه له دې
وروسته چې پنځه تنه په يو کور کې وي سره بېل به شي، درې تنه به د دوه تنو او دوه تنه به د درې
تنو په خلاف شي. ۵۳ پلار به د زوی په خلاف شي او زوی به د پلار په خلاف، مور به د لور او
لور به د مور په خلاف، خواښې به د انږور او انږور به د خواښې په خلاف شي.»

## د وخت پېژندل

(متي ۲:۱۶–۳)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۴ همدارنګه عیسی خلکو ته وویل: «کله چې تاسو ووینئ چې ورېځې د لمر پرېواته له خوا
راپورته کيږي، نو سمدلاسه وایئ چې باران به وشي او همداسې کيږي. ۵۵ کله چې باد د جنوب
له خوا ولګيږي، نو تاسو وایئ چې سخته ګرمي به شي او همداسې کيږي. ۵۶ ای منافقانو! تاسو
کولای شئ چې ځمکې او اسمان ته په کتلو سره د هوا د حالت پېشګويي وکړئ، نو بیا څنګه
اوسنی زمانه نه شئ پېژندلی؟

## د خپل مدعي سره روغه جوړه کول

(متي ۵:۲۵–۲۶)

۵۷ تاسو خپله ولې دا پرېکړه نه شئ کولای چې کومه لاره سمه ده؟ ۵۸ کله چې له خپل مدعي
سره قاضي ته ځئ، نو په لاره کې کوښښ وکړئ چې د هغه سره روغه وکړئ. که نه، نو هغه به مو
قاضي ته راکاږي او قاضي به تاسو پولیس ته وسپاري او په زندان کې به واچول شئ. ۵۹ زه
تاسو ته وایم چې تر هغې پورې به له زندان څخه راخلاص نه شئ چې ترڅو پورې مو د خپل پور
یوه یوه پیسه نه وي ورکړې.»

## توبه وباسئ چې تباه نه شئ

۱۳ ۱ په همدې وخت کې په هغه ځای کې ځینو حاضرینو عیسی د هغو جلیلیانو څخه خبر
کړ چې پیلاتوس هغوی خدای ته د قرباني وړاندې کولو په وخت کې وژلې وو. ۲ عیسی هغوی
ته په ځواب کې وویل: «ایا ګومان کوئ چې دغه جلیلیان د جلیل له نورو ټولو اوسېدونکو څخه
ډېر ګناهکاران وو چې په دې ډول ووژل شول؟ ۳ نه، زه تاسو ته وایم که چېرې تاسو توبه ونه
باسئ، نو تاسو ټول به د هغوی په شان تباه شئ. ۴ یا هغه اتلس تنه چې په سیلوام کې ورباندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برج راوغورځېده او مړه شول، ایا ګومان کوئ چې هغوی د هغو نورو ټولو خلکو څخه چې په
اورشلیم کې اوسېږي ډېر ګناهکاران وو؟ ۵ نه، زه تاسو ته وایم که چېرې توبه ونه باسئ، نو
تاسو ټول به د هغوی په شان تباه شئ.»

## د بې‌مېوې انځر د ونې مثال

۶ بیا عیسی هغوی ته دا مثال راوړ: «یو سړي خپل د انګورو په باغ کې د انځر یوه ونه کرلې وه.
کله چې راغی چې انځران راټول کړي، هېڅ یې په کې پیدا نه کړل. ۷ نو خپل باغوان ته یې
وویل: ‹ګوره، درې کاله کېږي چې راځم او په دې ونه کې مېوه لټوم، خو هېڅ مې په کې پیدا نه کړ.
دا ونه ووهه. دې ونې ولې هسې ځای نیولی دی؟› ۸ خو باغوان ورته ځواب ورکړ: ‹باداره! دا
کال یې هم پرېږده، زه به د هغې شاوخوا ځمکه وکینم او سره به ورته واچوم. ۹ که په راتلونکي
فصل کې یې مېوه ونیوله نو ډېره ښه به وي، که نه نو بیا کولای شې چې ویې وهې.›»

## عیسی د سبت په ورځ یوې ښځې ته شفا ورکوي

۱۰ د سبت په یوه ورځ عیسی په کنیسه کې تعلیم ورکاوه. ۱۱ هلته یوه ښځه وه چې اتلس کاله
کېدل چې پېریانو نیولې وه او هغه یې کمزورې کړې وه. ملا یې ورته داسې کړوپه کړې وه چې
بیخي سمه ودرېدلی نه شوه. ۱۲ کله چې عیسی هغه ښځه ولیدله، نو هغه یې راوغوښتله او ورته
ویې ویل: «ای خورې! ته د خپلې ناروغۍ څخه خلاصه شوې.» ۱۳ بیا یې خپل لاسونه په هغې
باندې کېښودل او هغه سمدلاسه نېغه ودرېدله او د خدای ثنا یې وویله.

۱۴ خو د کنیسې مشر د عیسی په دې کار چې د سبت په ورځ یې ناروغ ته شفا ورکړې وه، خفه
شو او خلکو ته یې وویل: «په هفته کې شپږ ورځې دي چې باید کار وشي، نو په همدې ورځو کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راځئ او شفا مومئ، خو د سبت په ورځ نه.» ۱۵ خو عیسی هغه ته ځواب ورکړ: «ای منافقانو! ایا
تاسو هر یو د سبت په ورځ خپل غویی یا خر د آخور څخه نه ایله کوئ او د اوبو دپاره یې نه
بیایئ؟ ۱۶ نو دا ښځه د ابراهیم لور ده او اتلس کاله کیږي چې د شیطان په بند کې وه. ایا هغه باید
د سبت په ورځ د بند څخه ازاده نه شي؟» ۱۷ د عیسی په دې خبرو د هغه مخالفین خجالته شول،
خو خلک د هغه په دې حیرانوونکي کارونو چې کول یې، خوشحاله شول.

## د شړشمو د تخم مثال

(متي ۱۳:۳۱–۳۲ او مرقوس ۴:۳۰–۳۲)

۱۸ بیا عیسی پوښتنه وکړه: «د خدای پاچاهي د څه شي په شان ده او هغه د څه شي سره پرتله
کړم؟ ۱۹ دا د شړشمو د تخم په شان ده چې یو سړي هغه راواخیست او په خپل پټي کې یې
وکرلو. هغه لوی شو او بوټی ترې جوړ شو او مرغان راغلل او د هغه په څانګو یې ځالې جوړې
کړې.»

## د خمیرې مثال

(متي ۱۳:۳۳)

۲۰ عیسی یوځل بیا پوښتنه وکړه: «د خدای پاچاهي د څه شي سره پرتله کړم؟ ۲۱ دا د هغې
خمیرې په شان ده چې یوه ښځه هغه واخلي او د درې پیمانې اوړو سره یې ګډه کړي، ترڅو هغه
ټول خمیره شي.»

## د تنګې دروازې مثال

(متي ۷:۱۳–۱۴،۲۱–۲۳)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ عیسی اورشلیم ته روان ؤ او په لاره یې په ښارونو او کلیو کې خلکو ته تعلیم ورکاوه. ۲۳
یو چا ورڅخه پوښتنه وکړه: «استاذه! ایا یوازې لږ خلک به خلاصون ومومي؟» عیسی ځواب ورکړ:
۲۴ «زیات کوښښ وکړئ چې له تنګې دروازې څخه وردننه شئ، ځکه زه تاسو ته وایم چې ډېر
خلک به د ننوتلو هڅه وکړي، خو وبه نه شي کړای. ۲۵ کله چې یوځل د کور خاوند راپاڅیږي او
دروازه بنده کړي، نو تاسو به دباندې پاتې شئ او دروازه به ټکوئ او وایئ به چې ای ښاغلیه!
دروازه خلاصه کړه. خو هغه به ځواب درکړي چې زه تاسو نه پېژنم چې له کوم ځای نه راغلي یئ.
۲۶ نو بیا به تاسو وایئ: ‹مونږ تا سره په یو دسترخوان خوړلي او څښلي او تا زمونږ په کوڅو کې
تعلیم ورکاوه.› ۲۷ خو هغه به بیا درته ووایي: ‹زه تاسو نه پېژنم چې له کوم ځای نه راغلي یئ.
ای بدکارانو! زما د مخې نه لیرې شئ.› ۲۸ کله چې تاسو ووینئ چې ابراهیم، اسحاق، یعقوب او
ټول پیغمبران د خدای په پاچاهۍ کې دي خو تاسو ورڅخه شړل شوي یئ، نو بیا به ژاړئ او خپل
غاښونه به چیچئ. ۲۹ خلک به د ختیځ او لوېدیځ او شمال او جنوب څخه راشي او د خدای د
پاچاهۍ په مېلمستیا کې به کښېني. ۳۰ څوک چې اوس وروستي دي، هغوی به اول شي او څوک
چې اول وي هغوی به وروستي شي.»

## د اورشلیم دپاره د عیسی خفګان

(متي ۲۳:۳۷–۳۹)

۳۱ په هماغه وخت کې یو څو فریسیان عیسی ته راغلل او ورته ویې ویل: «دا ځای پرېږده او
کوم بل ځای ته لاړ شه، ځکه چې هیرودیس غواړي تا ووژني.» ۳۲ عیسی هغوی ته وویل: «لاړ
شئ او هغه ګیدړ ته ووایئ چې زه نن او سبا پېریان وباسم او خلک روغوم او په درېمه ورځ به
خپل کار پای ته ورسوم. ۳۳ په هر حال، زه باید نن او سبا او بل سبا خپل سفر ته دوام ورکړم،
ځکه چې دا ناشونې ده چې یو پیغمبر دې د اورشلیم څخه پرته په بل ځای کې ووژل شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ ای اورشلیمه! ای اورشلیمه! ای هغه ښاره چې پیغمبران وژنې او کوم کسان چې د خدای له
خوا درلیږل کیږي، هغه سنګساروې. ما څو څو ځلې وغوښتل چې ستا خلک داسې سره راټول کړم
لکه چرګه چې خپل بچي د خپلو وزرونو لاندې راټولوي، خو تا ونه غوښتل. ۳۵ ګوره، ستاسو
کور تاسو ته خالي پرېښودل کیږي. زه تاسو ته وایم چې نور به ما تر هغې ونه وینئ ترڅو هغه
وخت راشي چې دا ووایئ:

‹مبارک دی هغه څوک چې د څښتن په نوم راځي.›»

## عیسی یو ناروغ سړي ته شفا ورکوي

۱۴ ۱ د سبت په یوه ورځ عیسی د ډوډۍ خوړلو دپاره د فریسیانو د ډلې د یو مشر کور ته
لاړ او هلته خلکو په ځیر هغه ته کتل. ۲ هلته عیسی ته مخامخ یو سړی ولاړ ؤ چې د پړسوب
په ناروغۍ اخته ؤ. ۳ عیسی د شریعت د عالمانو او فریسیانو څخه پوښتنه وکړه: «ایا د سبت په
ورځ د ناروغانو روغول روا دي که نه؟» ۴ خو هغوی غلي پاتې شول. نو عیسی هغه سړی له
لاسه ونیوه، هغه یې روغ کړ او رخصت یې کړ. ۵ بیا عیسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «که
چیرې د سبت په ورځ په تاسو کې د کوم چا زوی یا غویی په څاه کې ولویږي، نو ایا هغه به یې
سمدلاسه راونه باسي؟» ۶ خو د هغوی سره د دې خبرې ځواب نه ؤ.

## عاجزي او مېلمه‌پالنه

۷ کله چې عیسی ولیدل چې ځینو مېلمنو کوښښ کاوه د ځانونو دپاره تر ټولو لوړ ځایونه
ونیسي، نو هغوی ته یې دا مثال راوړ: ۸ «کله چې څوک تاسو ته د واده د مېلمستیا دپاره بلنه
درکړي نو د مجلس په سر کې مه کښېنئ، ځکه کېدای شي چې ستاسو څخه کوم بل ډېر مهم سړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رابلل شوی وي، ۹ او ستاسو کوربه چې تاسو دواړه يې رابللي يئ راشي او درته ووايي: ‹خپل
ځای دې سړي ته پرېږده.› نو بيا به وشرمېږې او مجبوره به شې چې تر ټولو وروستني ځای کې
کښېنې. ۱۰ خو کله چې د چا مېلمه شې، نو لاړ شه او تر ټولو وروستني ځای کې کښېنه، ترڅو
کله چې کوربه راشي او درته ووايي: ‹ای زما ملګريه! پاس کښېنئ.› په دې به د نورو ټولو مېلمنو په
مخکې ستا عزت وشي، ۱۱ ځکه ځوک چې خپل ځان لوی ګڼي، هغه به خوار شي او ځوک چې
خپل ځان عاجز کړي، هغه به سرلوړی شي.»

۱۲ بيا عيسی خپل کوربه ته وويل: «کله چې د غرمې يا د ماښام ډوډۍ دپاره ځوک راغواړې، نو
خپلو ملګرو يا خپلو ورونو يا خپلوانو يا خپلو شتمنو ګاونډيانو ته بلنه مه ورکوه، ځکه چې هغوی
به هم بېرته تاته بلنه درکړي او په دې ډول به ستا بدل پوره کړي. ۱۳ خو کله چې مېلمستيا
ورکوې، نو غريبانو، شلانو، ګوډانو او ړندو ته بلنه ورکړه. ۱۴ نو ته به بختور يې، ځکه چې هغوی
ستا بدل نه شي پوره کولای. خو د قيامت په ورځ به خدای تاته د نېکانو سره اجر درکړي.»

## د لويې مېلمستيا مثال

(متي ۲۲:۱–۱۰)

۱۵ کله چې د حاضرو خلکو څخه يو تن چې په دسترخوان ورسره ناست ؤ دا واورېدل، نو
عيسی ته يې وويل: «بختور دي هغه خلک چې د خدای په پاچاهۍ کې به په مېلمستيا کې کښېني.»

۱۶ عيسی هغه ته وويل: «يو سړي يوه لويه مېلمستيا جوړه کړه او ډېر خلک يې راوبلل. ۱۷
کله چې د ډوډۍ وخت شو، نو خپل نوکر يې مېلمنو پسې ولېږه چې ورته ووايي: ‹راشئ، هرڅه تيار
دي.› ۱۸ خو هغوی ټولو بهانې پيل کړې. لومړني وويل: ‹ما لږه ځمکه اخيستې ده، بايد لاړ شم او
هغه ووينم. مهرباني وکړه زما عذر ومنه.› ۱۹ بل وويل: ‹ما پنځه جوړې غويان اخيستي دي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روان یم چې هغه امتحان کړم، مهرباني وکړه زما عذر ومنه.› ۲۰ او بل یې وویل: ‹ما نوی واده
کړی دی، نو له دې امله نه شم درتللی.› ۲۱ نوکر بېرته راغی او خپل بادار ته یې دا هرڅه وویل.
بادار ډېر په قهر شو او خپل نوکر ته یې وویل: ‹زر زر د ښار لارو او کوڅو ته ووځه او غریبان،
شلان، ړانده او ګوډان راوله.› ۲۲ کله چې نوکر بېرته راستون شو، نو ویې ویل: ‹باداره! ستاسو امر
په ځای شو، خو بیاهم د نورو خلکو دپاره ځای شته.› ۲۳ بیا بادار خپل نوکر ته وویل: ‹د ښار
څخه دباندې سرکونو او کوڅو ته ووځه او خلک په زوره راوله، ترڅو زما کور ډک شي. ۲۴ زه
تاسو ته وایم چې د هغو خلکو څخه چې لومړی مې ورته بلنه ورکړې وه هېڅوک به هم زما د دې
مېلمستیا خوند ونه څکي.›»

## د مسیح د شاګردۍ بیه

(متي ۱۰:۳۷–۳۸)

۲۵ یوځل چې د خلکو یوه لویه ډله د عیسی سره روانه وه، عیسی هغوی ته مخ راواړاوه او ورته
ویې ویل: ۲۶ «که څوک ماته راځي او هغه د خپل مور، پلار، خپلې ښځې او اولادونو، خویندو او
ورونو او حتی د خپل ځان څخه هم زما سره زیاته مینه ونه کړي، هغه نه شي کولای چې زما
شاګرد شي. ۲۷ که چېرې څوک خپل صلیب راوانخلي او ما پسې رانه شي، نو هغه زما شاګرد
کېدای نه شي.

۲۸ فرض کړئ چې په تاسو کې کوم څوک غواړي یو برج جوړ کړي، ایا هغه به لومړی نه کښېني
چې لګښت یې وسنجوي، ترڅو ووینې چې د هغه سره دومره پیسې شته چې هغه ورباندې سرته
ورسوي یا نه؟ ۲۹ که نه، نو بنیاد به یې کېږدي، خو وبه نه شي کولای چې سرته یې ورسوي، نو
هرڅوک چې هغه وګوري وریوري وبه خاندي. ۳۰ هغوی به وایي چې دې سړي د ودانۍ کار پیل
کړ، خو ویې نه شو کولای چې سرته یې ورسوي. ۳۱ یا کوم داسې پاچا به وي چې د بل پاچا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره د جګړې دپاره ځي او پرته له دې چې لومړی کښېني او فکر وکړي چې ايا د خپل لسو زرو
عسکرو سره به وکولای شي د هغه بل پاچا سره چې شل زره لښکر لري، وجنګيږي؟ ۳۲ که
چېرې هغه ونه شي کولای، نو مخکې له دې چې دښمن ورته راورسيږي، هغه به استازي ولېږي او د
سولې د شرطونو په هکله به ورڅخه غوښتنه وکړي. ۳۳ په همدې ډول په تاسو کې هېڅوک تر
هغې زما شاګرد کېدای نه شي، ترڅو هر څه چې لري د هغو ټولو څخه تېر نه شي.

## د بې‌خونده مالګې مثال

(متي ۵:۱۳ او مرقوس ۹:۵۰)

۳۴ مالګه ښه شی دی، خو که په خپله مالګه بې‌خونده شي، نو هغه به څنګه بېرته خپل خوند پيدا
کړي؟ ۳۵ د هغې څخه نور نه د ځمکې دپاره او نه د سرې دپاره کار اخيستل کيږي او خلک هغه
لېرې غورځوي. که څوک غوږونه لري، نو هغه دې واوري.»

## د ورک شوي پسه مثال

(متي ۱۸:۱۲-۱۴)

۱۵ ۱ په دې وخت کې ډېر ماليه ټولوونکي او ګناهکاران عيسی ته ورنژدې شول چې د هغه
خبرې واوري. ۲ خو فريسيانو او د شريعت عالمانو په خپلو کې په ګوربړلو پيل وکړ او ويل يې:
«دا سړی د ګناهکارانو سره ناسته ولاړه کوي او حتی د هغوی سره يوځای ډوډۍ خوري.» ۳ نو
عيسی هغوی ته دا مثال راوړ: ۴ «که چېرې په تاسو کې څوک سل پسونه ولري او يو پسه
ورڅخه ورک شي، نو هغه به څه کوي؟ ايا هغه به هغه نهه نوي پسونه په دښته کې پرېنږدي او د
هغه ورک پسه پسې به لاړ نه شي، ترڅو هغه پيدا کړي؟ ۵ کله چې هغه راپيدا کړي، نو په
خوشحالۍ سره به يې خپلو اوږو ته پورته کړي. ۶ او کله چې کور ته راشي، خپل ټول ملګري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ګاونډیان به سره راټول کړي او هغوی ته به ووايي: ‹زما سره په دې خوشحالۍ کې شریک شئ،
ځکه چې خپل ورک شوی پسه مې ومونډ.› ٧ زه تاسو ته وایم چې په همدې ډول کله چې یو
ګناهکار توبه وباسي، نو په جنت کې به د هغه دپاره د نهه نوي نېکانو په پرتله چې توبې ته اړتیا نه
لري، ډېره خوشحالي وي.»

## د ورکې شوې سکې مثال

٨ عیسی زیاته کړه: «فرض کړئ د یوې ښځې سره د سپینو زرو لس سکې وي او یوه ترې
ورکه شي. ایا هغه به څراغ بل نه کړي، خپل کور به جارو نه کړي او ټول ځایونه به ونه لټوي، ترڅو
هغه راپیدا کړي؟ ٩ کله چې هغه راپیدا کړي، نو خپل ملګرې او ګاونډیان به سره راټول کړي او
هغوی ته به ووايي: ‹زما سره خوشحالي وکړئ، ځکه چې ما خپله ورکه شوې سکه راپیدا کړه.›
١٠ په همدې ډول زه تاسو ته وایم کله چې یو ګناهکار توبه وباسي، نو د خدای فرښتې به د هغه
دپاره خوشحالي کوي.»

## د ورک شوي زوی مثال

١١ بیا عیسی وویل: «یو سړي دوه زامن لرل. ١٢ کشر زوی یې خپل پلار ته وویل: ‹پلاره!
ماته مې خپله برخه جایداد راکړه.› نو هغه سړي خپل جایداد د خپلو دواړو زامنو ترمنځ ووېشه.
١٣ څو ورځې وروسته کشر زوی خپله برخه جایداد خرڅ کړ او پیسې یې واخیستلې او یو لېرې
وطن ته لاړ او خپلې پیسې یې هلته په عیاشۍ کې بېځایه برباد کړلې. ١٤ کله چې هغه خپل
هرڅه مصرف کړل، په هغه وطن کې سخته قحطي راغله او هغه محتاج شو. ١٥ نو هغه لاړ او د
هغه وطن د یو سړي سره نوکر شو او هغه سړي هغه خپلو پټیو ته ولېږه چې خوګان وساتي. ١٦
هغه په دې ارمان ؤ چې خپله ګېډه په هغو خوړو باندې مړه کړي چې خوګانو به خوړل، خو هېچا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته څه نه ورکول. ١٧ په پای کې د هغه عقل سر ته راغی او ویې ویل: ‹زما د پلار مزدوران
دومره زیات خواړه لري چې ورځخه پاتې کیږي او زه دلته د لوږې له لاسه مړ کیږم. ١٨ زه به
لاړ شم او خپل پلار ته به ورشم او ورته به ووایم چې پلاره! ما د خدای او ستا په وړاندې ګناه
کړې ده. ١٩ زه نور د دې وړ نه یم چې ته راته خپل زوی ووایې. ما هم یو له خپلو مزدورانو
څخه وشمیره.› ٢٠ نو هغه پاځېد او د خپل پلار کور ته روان شو. هغه لا کور ته نه ؤ رسېدلی
چې پلار یې هغه د لیرې نه ولیده، زړه یې ورباندې وسوځېده او په منډه منډه د خپل زوی خواته
ورغی. هغه یې په غېږ کې ونیوه او ښکل یې کړ. ٢١ زوی یې وویل: ‹پلاره! ما د خدای او ستا په
وړاندې ګناه کړې ده. زه نور د دې وړ نه یم چې ستا زوی وګڼل شم.› ٢٢ خو پلار یې خپلو
نوکرانو ته وویل: ‹زر شئ. تر ټولو ښه چپنه راوړئ او هغه ته یې واغوندئ. ګوته ورته په لاس کړئ
او څپلی ورته په پښو کړئ. ٢٣ یو چاغ خوسی راولئ او حلال یې کړئ او راځئ چې مېله جوړه
کړو او خوشحالي وکړو. ٢٤ ځکه چې زما دا زوی مړ شوی ؤ او بېرته راژوندی شوی دی. هغه
ورک شوی ؤ، خو اوس پیدا شوی دی.› نو هغوی جشن پیل کړ.

٢٥ خو د هغه مشر زوی په دې وخت کې په پټي کې ؤ. کله چې راغی او کور ته رانژدې شو، نو
د ساز او نڅا اواز یې واورېد. ٢٦ نو یو نوکر یې راوغوښت او پوښتنه یې ترې وکړه: ‹دا څه دي؟›
٢٧ نوکر ځواب ورکړ: ‹ستا ورور راغلی دی او پلار دې یو چاغ خوسی حلال کړی دی، ځکه
چې هغه روغ رمټ بېرته راغلی دی.› ٢٨ خو مشر ورور دومره په قهر شو چې نه یې غوښتل کور
ته ننوځي. پلار یې دباندې راووت او هغه ته یې زاري وکړه چې کور ته ننوځي. ٢٩ خو هغه خپل
پلار ته په ځواب کې وویل: ‹ګوره، کلونه کلونه کیږي چې ما لکه د غلام په شان ستا خدمت کړی
دی او هیڅکله مې ستا د امر څخه سرغړونه نه ده کړې. خو ماته دې یو سېرلی هم نه دی راکړی
چې خپلو ملګرو ته مې مېلمستیا ورکړې وای. ٣٠ خو دې زوی دې خپل ټول جایداد په فاحشو
باندې برباد کړ او کله چې بېرته کور ته راغی، نو تا ورته چاغ خوسی حلال کړ.› ٣١ پلار یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته وویل: ‹زما زویه! ته تل زما سره یې او زه چې هرڅه لرم هغه ستا دي. ۳۲ خو اوس باید
جشن ونیسو او خوشحالي وکړو، ځکه چې ستا دا ورور مړ شوی ؤ، خو اوس بېرته راژوندی شوی
دی. هغه ورک شوی ؤ، خو اوس پیدا شوی دی.›»

## د ځیرک ناظر مثال

۱۶ ۱ عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «یو شتمن سړي یو ناظر درلود. دا سړی خبر شو چې
ناظر د هغه شتمني بېځایه لګوي. ۲ نو هغه یې راوغوښت او ورته ویې ویل: ‹دا څه دي چې ستا
په هکله یې اورم؟ څه چې دې اخیستي او څه چې دې لګولي دي د هغو حساب راکړه، ځکه چې
ته نور نه شې کولای زما ناظر اوسې.› ۳ ناظر له ځان سره وویل: ‹زما بادار ما د خپل کار څخه
شړي، نو اوس به زه څه کوم؟ زه خو دومره تکړه نه یم چې لاړ شم او چېرته لښتې وکینم او په خیر
غوښتلو هم شرمېږم. ۴ اوس پوه شوم چې څه وکړم. کله چې ما د دندې څخه لېرې کړي، نو زه
باید ملګري ولرم چې ماته په خپلو کورونو کې ځای راکړي.› ۵ نو د خپل بادار هر یو پوروړی
یې راوغوښت. لومړي ته یې وویل: ‹زما د بادار څومره پوروړی یې؟› ۶ هغه ځواب ورکړ: ‹سل
پیمانې د زیتونو تېل.› ناظر ورته وویل: ‹خپل حساب راواخله، ژر کښېنه او د هغې په ځای پنځوس
ولیکه.› ۷ بیا یې بل ته وویل: ‹ته څومره پوروړی یې؟› هغه ځواب ورکړ: ‹سل جواله غنم.›
ناظر ورته وویل: ‹خپل حساب راواخله او د هغې په ځای اتیا ولیکه.› ۸ نو بادار یې هغه
بې‌ایمانه ناظر وستایه، په دې خاطر چې هغه په ځیرکی سره داسې کار وکړ، ځکه چې د دې نړی
خلک په خپلو کې په راکړه ورکړه کې د ایماندارانو نه ډېر ځیرک دي.»

۹ عیسی زیاته کړه: «زه تاسو ته وایم چې په خپلې دنیاوي شتمنی د نورو سره مرسته وکړئ
چې خپلو ځانونو ته ملګري پیدا کړئ، نو کله چې هغه شتمني خلاصه شي تاسو ته به په تلپاتې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کورونو کې ځای درکړل شي. ۱۰ څوک چې په لږو شیانو کې صادق وي، نو هغه به په ډېرو شیانو
کې هم صادق وي او څوک چې په لږو شیانو کې صادق نه وي، نو هغه به په ډېرو شیانو کې هم
صادق نه وي. ۱۱ که چېرې په دنیاوي شتمنۍ باندې په تاسو اعتبار ونه شي، نو په اصلي شتمنۍ
به څوک په تاسو اعتبار وکړي؟ ۱۲ که چېرې تاسو د نورو خلکو د شتمنۍ په اړه صادق ونه
اوسئ، نو څوک به تاسو ته هغه شتمني چې ستاسو به وي، درکړي؟ ۱۳ هېڅ غلام نه شي کولای
چې د دوو بادارانو خدمت وکړي، ځکه چې داسې غلام به د یو څخه کرکه کوي او د بل سره به
مینه او یا دا چې یو ته به وفادار وي او بل ته به په سپکه سترګه ګوري. تاسو نه شئ کولای چې هم
د خدای بندګي وکړئ او هم د پیسو بندګي وکړئ.»

## شریعت او د خدای پاچاهي

(متي ۱۲:۱۱-۱۳، ۳۱:۵-۳۲ او مرقوس ۱۱:۱۰-۱۲)

۱۴ فریسیانو چې دا خبرې واورېدلې نو په عیسی باندې یې ملنډې ووهلې، ځکه چې هغوی د
پیسو سره مینه لرله. ۱۵ عیسی هغوی ته وویل: «تاسو داسې خلک یئ چې خپل ځانونه د نورو
په مخکې عادلان ښکاره کوئ، خو خدای ستاسو زړونه ښه پېژني. ځکه کوم شیان چې د انسانانو په
نظر کې ډېر ارزښت لري، خدای هغه بد ګڼي.

۱۶ د یحیی تر راتللو پورې خلکو د تورات او د پیغمبرانو په لیکنو عمل کاوه. له هغې وروسته د
خدای د پاچاهۍ زېرى خپور شو او هرڅوک زیات کوښښ کوي چې هغې ته وردننه شي. ۱۷ د
ځمکې او اسمان له منځه تلل اسانه دي، له دې نه چې د شریعت یو ټکی هم له منځه لاړ شي.

۱۸ هرڅوک چې خپله ښځه طلاقه کړي او د بلې ښځې سره واده وکړي، نو هغه زنا کوي او
هرڅوک چې د طلاقې شوې ښځې سره واده وکړي، هغه هم زنا کوي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شتمن سړي او ايلعازر مثال

۱۹ عيسی وويل: «يو شتمن سړی ؤ چې هره ورځ به يې تر ټولو قيمتي کالي اغوستل او په عيش
او عشرت کې يې ژوند تېراوه. ۲۰ د هغه د دروازې په مخکې به يو سوالګر چې ايلعازر نومېده او
بدن يې له ټپونو ډک ؤ، پروت ؤ ۲۱ او په دې تمه به ؤ چې د هغه شتمن سړي د دسترخوان
څخه په پاتې شويو ټوټو باندې ځان موړ کړي. حتی سپي به راتلل او د هغه ټپونه به يې څټل.

۲۲ داسې وشول چې هغه غريب سړی مړ شو او فرښتو هغه د ابراهيم څنګ ته يووړ. بيا هغه
شتمن سړی هم مړ شو او خاورو ته وسپارل شو. ۲۳ هغه د مړو دنيا ته لاړ او هلته ډېر په عذاب
ؤ. هغه چې پورته وکتل د لېرې نه يې ابراهيم وليده چې ايلعازر يې په خوا کې ؤ. ۲۴ بيا هغه
چيغې کړې او ويې ويل: ‹ای زما نيکه ابراهيمه! په ما رحم وکړه او ايلعازر راولېږه چې خپله ګوته
په اوبو کې لمده کړي او زما ژبه پرې يخه کړي، ځکه چې زه په دې اور کې ډېر په عذاب يم.› ۲۵
خو ابراهيم وويل: ‹زويه! در په ياد کړه، تا په خپل ژوند کې ټول ښه شيان ترلاسه کړل او ټول بد
شيان د ايلعازر په نصيب کې وو. خو اوس هغه دلته ارام دی او ته په عذاب کې يې. ۲۶ برسېره
پردې، زمونږ او ستاسو په منځ کې يوه لويه کنده شته چې له هغې څخه نه څوک درپورې وتلی شي
او نه څوک ترې راپورې وتلی شي.› ۲۷ هغه شتمن سړي وويل: ‹ای زما پلاره ابراهيمه! زه تاته
زاری کوم چې ايلعازر زما د پلار کور ته ولېږه، ۲۸ ځکه چې زه پنځه ورونه لرم. پرېږده چې هغه
لاړ شي او هغوی خبر کړي، هسې نه چې هغوی هم دې د عذاب ځای ته راشي.› ۲۹ ابراهيم
وويل: ‹د هغوی سره د موسی او نورو پيغمبرانو ليکنې شته، نو بايد د هغوی خبرو ته غوږ ونيسي او
عمل پرې وکړي.› ۳۰ شتمن سړي ځواب ورکړ: ‹نه، ای زما نيکه ابراهيمه! خو که له مړو څخه
څوک هغوی ته ورشي، نو هغوی به توبه وباسي.› ۳۱ خو ابراهيم ورته وويل: ‹که چېرې هغوی د
موسی او نورو پيغمبرانو خبرو ته غوږ ونه نيسي، نو که د مړو څخه هم څوک راپاڅېږي، هغوی به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قانع نه شي.›»

## د وسوسه کولو او بخښنې په هکله تعلیم

(متي ۶:۱۸-۲۱،۷-۲۲ او مرقوس ۹:۴۲)

**۱۷** ۱ عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «هرځوک وسوسه کیږي چې ګناه وکړي، خو افسوس
د هغه چا په حال چې د وسوسې سبب کیږي. ۲ د هغه دپاره به دا ښه وي چې د ژرندې پل
ورته په غاړه کې واچول شي او بحیرې ته وغورځول شي، له دې نه چې د دې خلکو څخه چې د
ماشوم په شان په ما باندې ایمان لري، د کوم یو د ګناهکارولو سبب شي. ۳ پام کوئ! که چیرې
ورور دې درسره بدي وکړي، نو هغه ورته او که توبه وباسي، نو ویې بخښه. ۴ او که هغه د
ورځې اووه ځلې درسره بدي وکړي او هر ځل راشي او درته ووایي چې زما توبه ده، نو هغه
وبخښه.»

## قوي ایمان

۵ رسولانو عیسی ته وویل: «زمونږ ایمان قوي کړه.» ۶ عیسی وویل: «که چیرې تاسو د
شړشمو د دانې په اندازه ایمان لرلی، نو تاسو کولای شول د توت دې ونې ته ووایئ چې له بیخه
راووځه او په بحیرې کې راشنه شه. نو هغې به ستاسو خبره منلې وای.

## د یو نوکر وظیفه

۷ فرض کړئ په تاسو کې کوم ځوک نوکر لري چې قلبه کوي یا پسونه ساتي. کله چې هغه د
پټي نه راشي ایا بادار به ورته ووایي چې زر راشه، کښېنه او ډوډی وخوره؟ ۸ هیڅکله نه! د دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ځای به هغه ته ووايي: ‹ماته د ماښام ډوډۍ تياره کړه، ملا دې وتړه او ترڅو پورې چې زه ډوډۍ
خورم زما خدمت کوه، له هغې وروسته کولای شې چې خپله ډوډۍ وخورې.› ۹ ايا بادار به د
هغه نوکر څخه چې د هغه امر يې په ځای کړی دی، مننه وکړي؟ ۱۰ او په همدې ډول کله چې
تاسو هم خپل ټول کارونه چې درته حکم شوی دی سرته ورسوئ، نو ووايئ: ‹مونږ نوکران د
شاباسي وړ نه يو، مونږ يوازې خپله وظيفه سرته رسولې ده.›»

## عيسی لسو جذاميانو ته شفا ورکوي

۱۱ کله چې عيسی اورشليم ته تللو، نو د جليل او سامرې ترمنځ په پوله تېر شو. ۱۲ هغه يو
کلي ته د ننوتلو په وخت کې د لسو تنو سره چې د جذام په ناروغۍ اخته وو، مخامخ شو. هغوی
لېرې ودرېدل ۱۳ او په لوړ اواز يې نارې کړې: «ای عيسی باداره! په مونږ رحم وکړه.» ۱۴
عيسی هغوی ته وکتل او ورته ويې ويل: «لاړ شئ او خپل ځانونه کاهنانو ته وښايئ.» څنګه چې
هغوی روان شول، نو پاک او روغ شول. ۱۵ کله چې په هغوی کې يو تن وليدل چې روغ شوی
دی، نو بېرته راوګرځېد او په لوړ اواز يې د خدای ثنا وويله. ۱۶ هغه د عيسی په پښو کې پرېوت
او د هغه څخه يې مننه وکړه. دا سړی يو سامري ؤ. ۱۷ عيسی وويل: «ايا ټول لس تنه پاک او
روغ نه شول؟ نو بيا هغه نور نهه تنه چېرته دي؟ ۱۸ ايا له دې پردي سړي پرته بل څوک نه ؤ
چې بېرته راغلی وای او د خدای ثنا يې ويلې وای؟» ۱۹ عيسی هغه سړي ته وويل: «پاڅېږه او
لاړ شه، خپل ايمان ته روغ کړې.»

## د خدای د پاچاهۍ راتګ

(متي ۲۴:۲۳–۲۸،۳۷–۴۱)

۲۰ ځينو فريسيانو د عيسی څخه پوښتنه وکړه چې د خدای پاچاهي به کله راشي. عيسی ځواب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړ: «د خدای پاچاهي په داسې ډول نه راځي چې هغه ولیدل شي. ۲۱ نه به هم څوک ووايي
چې ګورئ، دلته ده یا هلته ده. ځکه چې په حقیقت کې د خدای پاچاهي ستاسو په منځ کې ده.»

۲۲ بیا یې شاګردانو ته وویل: «داسې وخت به راشي چې تاسو به په دې ارمان یئ چې هغه ورځ
وګورئ چې د انسان زوی پاچاهي کوي، خو وبه یې نه وینئ. ۲۳ خلک به تاسو ته ووايي چې
وګورئ دلته دی یا وګورئ هلته دی. خو تاسو هغوی پسې مه ځئ. ۲۴ ځکه په کومه ورځ چې د
انسان زوی راځي د هغې برېښنا په شان به وي چې د اسمان له یو سر څخه تر بله سره پورې
ځلیږي. ۲۵ خو لومړی باید هغه ډېر کړاوونه وزغمي او د دې زمانې د خلکو له خوا به رد شي.
۲۶ لکه څنګه چې د نوح په زمانه کې شوي وو، همداسې به د انسان د زوی په زمانه کې هم
وشي. ۲۷ خلکو تر هغې ورځې پورې خوړل، څښل او ودونه به یې کول، ترڅو چې نوح کشتۍ
ته ننوت او سیلاب راغی او ټول یې تباه کړل. ۲۸ د لوط په زمانه کې همداسې شوي وو چې
هغوی به خوړل، څښل، اخیستل او خرڅول، کرنه یې کوله او ودانۍ به یې جوړولې. ۲۹ خو په
هغه ورځ چې لوط د سدوم څخه لاړ، نو د اسمان څخه اور او د ګوګړو باران راواورېد او هغوی
ټول یې تباه کړل. ۳۰ په هغه ورځ چې د انسان زوی راښکاره شي، نو همداسې به وشي.

۳۱ په هغه ورځ څوک چې د بام په سر وي او سامان یې په کوټه کې وي، نو هغه دې د خپل
سامان د وړلو دپاره راښکته نه شي. همدارنګه څوک چې په پټي کې وي، نو خپل کور ته دې ته
بېرته لاړ نه شي. ۳۲ د لوط ښځه در په یاد کړئ چې د هغې سره څه وشول. ۳۳ هرڅوک چې
د خپل ځان د ساتلو کوښښ وکړي، نو هغه به له لاسه ورکړي او څوک چې خپل ځان له لاسه
ورکړي، نو هغه به یې وژغوري. ۳۴ زه تاسو ته وایم، په هغه شپه که چېرې دوه تنه په یو کټ کې
پراته وي، یو به یې بوتلل شي او بل به پرېښودل شي. ۳۵ د دوو ښځو څخه چې یوځای سره
میچن کوي، یوه به یې بوتلل شي او بله به پرېښودل شي. ۳۶ که چېرې دوه سړي په پټي کې وي،
نو یو به یې بوتلل شي او بل به پرېښودل شي.» ۳۷ شاګردانو د هغه څخه پوښتنه وکړه: «چېرته،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای استاذه؟» عیسی په ځواب کې وویل: «چېرته چې مرداره وي، هلته ټپوسان راټولیږي.»

## د یوې کونډې او قاضي مثال

۱۸ ۱ عیسی خپلو شاګردانو ته دا مثال راوړ چې هغوی ته وروښايي چې تل باید دعا وکړي
او هېڅکله ناهیلي نه شي. ۲ هغه وویل: «په یو ښار کې یو قاضي ؤ چې نه له خدایه وېرېده او
نه يې د خلکو پروا لرله. ۳ په همدې ښار کې یوه کونډه وه چې هر وخت به هغه ته راتله او د
خپل حق په خاطر به يې ورته زارۍ کولې او ویل به يې چې زما او زما د دښمن ترمنځ په شخړه
کې زما سره انصاف وکړه. ۴ قاضي ډېره موده نه غوښتل چې کوم کار وکړي، خو اخر هغه د
خپل ځان سره وویل: ‹که څه هم زه نه له خدایه وېرېږم او نه د خلکو پروا لرم، ۵ خو دا چې
دې کونډې ماته سرخوږی پیدا کړی دی، نو زه به د هغې سره انصاف وکړم. که نه، نو هغه به هر
وخت راځي او ما به تنګوي.›»

۶ بیا عیسی وویل: «واورئ چې دا بې‌انصافه قاضي څه وايي. ۷ ایا خدای به د خپلو غوره
شویو خلکو سره چې شپه او ورځ ورته د مرستې په خاطر فریادونه کوي، انصاف ونه کړي؟ ایا د
هغوی سره به په مرسته کولو کې ځنډ وکړي؟ ۸ زه درته وایم چې هغه به زر د هغوی سره
انصاف وکړي. خو کله چې د انسان زوی راشي، نو ایا هغه به د ځمکې په مخ داسې څوک پیدا کړي
چې ایمان ولري؟»

## د یو فریسي او مالیه ټولوونکي مثال

۹ همدارنګه عیسی د هغو خلکو دپاره چې په خپل ځان ډاډمن وو چې نېک خلک دي او نور
يې سپک ګڼل، دا مثال راوړ: ۱۰ «یو وخت دوه تنه چې یو يې فریسي او بل يې مالیه ټولوونکی ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دعا دپاره د خدای کور ته لاړل. ۱۱ فریسي ودرېده او د خپل ځان سره یې داسې دعا وکړه:
‹ای خدایه! ستا شکر کوم چې د نورو په شان حریص، بې‌ایمانه او زناکار نه یم او نه د دې مالیه
ټولوونکي په شان یم. ۱۲ زه په هفته کې دوه ورځې روژه نیسم او څه چې ګټم د هغې لسمه برخه
ورکوم.› ۱۳ خو هغه مالیه ټولوونکی لېرې ولاړ وُ او تر دې چې نه یې غوښتل پاس اسمان ته
وګوري، خو خپله سینه یې وهله او ویل یې: ‹ای خدایه! په ما ګناهکار رحم وکړه.›»

۱۴ عیسی وویل: «زه تاسو ته وایم چې هغه مالیه ټولوونکی چې خپل کور ته لاړ بخښل شوی
دی، نه هغه فریسي. ځکه هرڅوک چې خپل ځان لوی ګڼي، هغه به خوار شي او هرڅوک چې خپل
ځان عاجز کړي، نو هغه به سرلوړی شي.»

## عیسی ماشومانو ته برکت ورکوي

(متي ۱۹:۱۳-۱۵ او مرقوس ۱۰:۱۳-۱۶)

۱۵ ځینو خلکو به عیسی ته خپل ماشومان راوستل چې خپل لاس په هغوی باندې کېږدي. کله
چې شاګردانو دا ولیدل نو هغوی یې ورټل، ۱۶ خو عیسی هغه ماشومان خپل ځان ته راوغوښتل
او ویې ویل: «پرېږدئ چې ماشومان ماته راشي، هغوی مه منع کوئ، ځکه چې د خدای پاچاهي د
همداسې خلکو ده. ۱۷ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې هرڅوک چې د خدای پاچاهي د یو
ماشوم په څېر ونه مني، نو هېڅکله به هغې ته ورننه نه شي.»

## شتمن خلک او د خدای پاچاهي

(متي ۱۹:۱۶-۳۰ او مرقوس ۱۰:۱۷-۳۱)

۱۸ یو یهودي مشر د عیسی څخه پوښتنه وکړه: «ای نېک استاذه! زه باید څه وکړم چې تلپاتې
ژوندون وګټم؟» ۱۹ عیسی هغه ته وویل: «ولې ماته نېک وایې؟ پرته له خدایه بل هېڅوک نېک نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی. ۲۰ ته په حکمونو باندې پوهېږې: زنا مه کوه، قتل مه کوه، غلا مه کوه، د دروغو شاهدي مه
ورکوه او د خپل مور او پلار عزت کوه.» ۲۱ هغه سړي ځواب ورکړ: «ما د ځوانۍ له وخته په
دې ټولو حکمونو عمل کړی دی.» ۲۲ کله چې عیسی دا واورېدل، نو هغه ته یې وویل: «په تا کې
اوس هم د یو شي کمی شته. هرڅه چې لرې هغه خرڅ کړه او پیسې یې په غریبانو باندې ووېشه،
نو ته به په اسمان کې خزانې ولرې، بیا راشه او زما پیروي وکړه.» ۲۳ کله چې هغه سړي دا خبره
واورېدله نو ډېر غمجن شو، ځکه چې هغه ډېر شتمن سړی ؤ. ۲۴ کله چې عیسی ولیدل چې هغه
غمجن شو، نو ویې ویل: «د شتمنو خلکو دپاره د خدای په پاچاهۍ کې ننوتل خومره ګران کار دی.
۲۵ د ستنې د سوري څخه د اوښ تېرېدل اسانه دي، له دې نه چې یو شتمن سړی دې د خدای
پاچاهۍ ته ورننوځي.» ۲۶ کومو خلکو چې دا واورېدل، نو د هغه نه یې پوښتنه وکړه: «نو بیا
څوک کولای شي چې خلاصون ومومي؟» ۲۷ عیسی ځواب ورکړ: «هغه څه چې د انسانانو دپاره
ناشوني دي، هغه د خدای دپاره ممکن دي.»

۲۸ پطروس وویل: «وګوره، مونږ خپل هرڅه پرېښي دي او تا پسې روان شو.» ۲۹ عیسی
هغوی ته وویل: «هو، په یقین سره زه تاسو ته دا وایم هرڅوک چې د خدای د پاچاهۍ دپاره خپل
کور، خپله ښځه، ورونه، مور او پلار او اولادونه پرېږدي، ۳۰ نو هغه به په دې نړۍ کې د هغې څو
چنده بدل ترلاسه کړي او په اخرت کې به تلپاتې ژوندون ولري.»

## عیسی د درېم ځل دپاره د خپل مرګ په هکله پېشګویي کوي

(متی ۲۰:۱۷–۱۹ او مرقوس ۱۰:۳۲–۳۴)

۳۱ بیا هغه خپل دولس شاګردان ګوښه کړل او هغوی ته یې وویل: «واورئ! مونږ اوس اورشلیم
ته ځو او هغه څه چې پیغمبرانو د انسان د زوی په هکله لیکلي دي، هغه به پوره شي. ۳۲ هغه به
غیریهودیانو ته په لاس ورکړل شي. هغوی به وربانديې ملنډې ووهي، سپکاوی به یې وکړي او لاړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به وربانديږي تو کړي. ۳۳ هغه به په دورو ووهي او وبه يې وژني، خو په دريمه ورځ به بيا
راژوندی شي.» ۳۴ خو شاګردان په دې خبرو پوه نه شول، ځکه چې د دې خبرو معنی د هغوی
څخه پټه ساتل شوې وه او هغوی نه پوهېدل چې عيسی د څه شي په هکله خبرې کولې.

## عيسی يو ړوند سوالګر بينا کوي

(متي ۲۹:۲۰-۳۴ او مرقوس ۴۶:۱۰-۵۲)

۳۵ کله چې عيسی د اريحا ښار ته نژدې شو، نو يو ړوند سړی په لاره کې ناست ؤ او خير يې
غوښته. ۳۶ کله چې هغه سړي د ګڼ شمېر خلکو اوازونه چې له هغه ځای څخه تېرېدل واورېدل،
نو پوښتنه يې وکړه: «څه خبره ده؟» ۳۷ هغوی ورته وويل: «ناصري عيسی په دې لاره تېرېږي.»
۳۸ نو هغه چيغې ووهلې: «ای عيسی د داود زويه! په ما رحم وکړه.» ۳۹ کوم خلک چې د
عيسی څخه مخکې روان وو، هغه سړی ورټلو او ورته ويې ويل: «غلی شه.» خو هغه نور هم په
لوړ اواز چيغې کړې: «ای د داود زويه! په ما رحم وکړه.» ۴۰ نو عيسی ودرېده او امر يې وکړ
چې هغه سړی هغه ته راولي. کله چې ورنژدې شو، نو عيسی ورڅخه پوښتنه وکړه: ۴۱ «څه
غواړې چې درته ويې وکړم؟» هغه وويل: «ای ښاغليه! غواړم چې بينا شم.» ۴۲ عيسی هغه ته
وويل: «بينا شه، ته خپل ايمان روغ کړې.» ۴۳ او هغه سمدلاسه بينا شو او په داسې حال کې چې
د خدای ثنا يې ويله، د عيسی پسې روان شو. کله چې خلکو دا هرڅه وليدل، نو ټولو د خدای ثنا
وويله.

## عيسی د زکي کور ته ځي

۱۹ ۱ عيسی اريحا ته ننوت او د ښار له منځه تېرېده، ۲ نو هلته د زکي په نوم يو سړی ؤ
چې د ماليه ټولوونکو مشر او ډېر شتمن ؤ. ۳ هغه غوښتل وګوري چې عيسی به څنګه سړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي، خو د هغه قد ډېر ټيټ ؤ او د خلکو د ګڼې‌ګوڼې له امله يې نه شو کولای هغه وويني. ۴ نو
مخکې يې منډه کړه او د چنار ونې ته وخوت، ترڅو عيسی ووينې څکه چې هغه په هغه لاره
تېرېده. ۵ کله چې عيسی هغه ځای ته ورسېده، نو پورته يې وکتل او زکي ته يې وويل: «ای
زکي! زر راښکته شه، څکه چې زه بايد نن ستا په کور کې مېلمه شم.» ۶ نو زکي په بيړه راښکته
شو او په ډېرې خوشحالۍ سره يې د هغه هرکلی وکړ. ۷ کله چې خلکو دا وليدل، نو په ګوربېدلو
يې پيل وکړ او ويل يې: «هغه د يو ګناهکار سړي کور ته ورغی چې مېلمه يې شي.» ۸ خو زکي
ودرېده او عيسی ته يې وويل: «وګوره ښاغليه! زه مې خپله نيمه شتمني غريبانو ته ورکوم او که د
چا څخه مې په ناحقه کوم څه اخيستي وي، نو څلور چنده ورته بېرته ورکوم.» ۹ بيا عيسی
وويل: «نن دې کور ته خلاصون راغلی دی، څکه چې دا سړی هم د ابراهيم د اولادې څخه دی.
۱۰ څکه چې د انسان زوی راغلی دی چې ورک شوي ولټوي او هغوی وژغوري.»

## د لسو نوکرانو مثال

(متي ۲۵:۱۴–۳۰)

۱۱ هغوی د عيسی خبرو ته غوږ نيولی ؤ چې هغه ورته يو بل مثال هم راوړ، څکه چې هغه
اورشليم ته نژدې ؤ او هغوی ګومان کاوه چې د خدای پاچاهي به همدااوس راښکاره شي. ۱۲
عيسی وويل: «د يوې لويې کورنۍ يو سړی يو لېرې هېواد ته په سفر لاړ چې د پاچاهۍ مقام
ترلاسه کړي او بېرته خپل وطن ته راشي. ۱۳ مخکې له دې چې لاړ شي خپل لس نوکران يې
راوغوښتل او هر يو ته يې يوه يوه د سرو زرو سکه ورکړه او ورته ويې ويل: ‹زما تر بېرته راتللو
پورې ورباندې کاروبار وکړئ.› ۱۴ خو وطندارانو يې چې د هغه څخه يې کرکه کوله، په هغه
پسې خپل استازي ولېږل چې ورته ووايي: ‹موږ نه غواړو چې دا سړی زموږ پاچا شي.› ۱۵ څه
موده وروسته هغه د پاچا په توګه بېرته راستون شو، بيا يې هغه نوکران راوغوښتل چې سکې يې
ورته ورکړې وې، ترڅو معلومه کړي چې په دوی کې هر يو په هغو سيکو باندې څومره ګټه کړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده. ۱۶ لومړی نوکر راغی او ويې ويل: ‹باداره! ستا په يوې سکې ما لس نورې سکې ګټلې دي.›
۱۷ هغه وويل: ‹شاباس، ته ښه نوکر يې. څرنګه چې تا په لږ شي کې خپل ځان اعتباري ثابت کړ،
نو ته به په لسو ښارونو باندې حکومت کوې.› ۱۸ دوهم نوکر راغی او ويې ويل: ‹باداره! ستا د
سرو زرو يوې سکې نورې پنځه سکې ګټه کړې ده.› ۱۹ هغه ته يې وويل: ‹ته په پنځو ښارونو
باندې حکومت کوه.› ۲۰ بيا بل نوکر راغی او ويې ويل: ‹باداره! دا ده ستا د سرو زرو سکه، هغه
مې په دستمال کې تاوه کړې وه او ساتلې مې ده. ۲۱ زه ستا څخه وېرېدم، ځکه چې ته يو سخت
سړی يې. هغه څه ترلاسه کوې چې تا نه دي ګټلي او هغه څه رېبې چې کرلي دې نه دي.› ۲۲
بادار يې ځواب ورکړ: ‹ای بېکاره نوکره! زه تا په خپلو خبرو ملامتوم. ته په دې پوهېدلې چې زه يو
سخت سړی يم او هغه څه ترلاسه کوم چې زما نه دي او هغه څه رېبم چې کرلي مې نه دي، ۲۳
نو زما د سرو زرو سکه دې ولې د صرافانو سره نه ده اېښې چې د بېرته راستنېدلو په وخت کې مې
د سود سره اخيستې وای؟› ۲۴ بيا يې په هغه ځای کې ولاړو کسانو ته وويل: ‹له هغه څخه د
سرو زرو سکه واخلئ او هغه نوکر ته يې ورکړئ چې لس سکې ورسره دي.› ۲۵ خو هغوی ورته
وويل: ‹باداره! د هغه سره خو لا د مخکې نه لس سکې شته.› ۲۶ بادار يې وويل: ‹زه تاسو ته
وايم چې د چا سره چې څه وي نو هغه ته به نور هم ورکړل شي، خو د چا سره چې څه نه وي، نو
څه چې لري هغه به هم ترې واخيستل شي. ۲۷ اوس زما هغه دښمنان چې نه يې غوښتل زه يې
پاچا شم، دلته راولئ او زما په مخکې يې ووژنئ.›»

## عيسی په بريالیتوب سره اورشليم ته ننوځي

(متي ۲۱:۱-۱۱ او مرقوس ۱۱:۱-۱۱ او يوحنا ۱۲:۱۲-۱۹)

۲۸ کله چې عيسی دا خبرې وکړې، نو د خپلو شاګردانو څخه مخکې شو او د اورشليم په لور
روان شو. ۲۹ څنګه چې بيت‌فاجې او بيت‌عنيا ته چې د زيتونو په غره کې وو نژدې شو، نو خپل
دوه شاګردان يې ولېږل، ۳۰ او ورته ويې ويل: «دغه مخامخ کلي ته لاړ شئ. کله چې هغه کلي ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ننوتلئ، نو هلته به یو کوټی ووینئ چې تړل شوی به وي او تراوسه پورې څوک ورباندې سپور
شوی نه دی. هغه راایله کړئ او دلته یې راولئ. ۳۱ که څوک درڅخه پوښتنه وکړي: ‹هغه ولې
ایله کوئ؟› نو داسې ورته ووایئ چې هغه زموږ د استاذ په کار دی.»

۳۲ هغه دوه شاګردان لاړل او لکه څنګه چې عیسی ورته ویلي وو، هرڅه یې هماغه شان ولیدل.
۳۳ کله چې هغوی هغه کوټی ایله کاوه، نو خاوندانو یې ورڅخه پوښتنه وکړه: «دا کوټی ولې ایله
کوئ؟» ۳۴ هغوی ځواب ورکړ: «دا زموږ د استاذ په کار دی.» ۳۵ او هغوی هغه کوټی عیسی
ته راوست، خپلې چپنې یې ورباندې واچولې او عیسی یې ورباندې سپور کړ. ۳۶ کله چې هغه په
لاره تللو، نو خلکو خپل کالي ورته په لاره کې غوړول.

۳۷ کله چې عیسی هغې لارې ته نژدې شو چې د زیتون د غره څخه راښکته شوې وه، نو ټولو
پیروانو یې په خوشحالۍ او لوړ اواز سره د هغو معجزو په خاطر چې هغوی لیدلې وې د خدای د ثنا
په ویلو پیل وکړ. ۳۸ او ویل یې:

«مبارک دی هغه پاچا چې د څښتن په نوم راځي.

سلامتي دې وي په اسمان کې او جلال دې وي څښتن تعالی ته.»

۳۹ د خلکو له منځ څخه ځینو فریسیانو عیسی ته وویل: «استاذه! خپلو شاګردانو ته ووایه چې
غلي شي.» ۴۰ عیسی په ځواب کې وویل: «زه تاسو ته وایم که هغوی غلي شي، نو تیږې به په
چیغو پیل وکړي.»

## عیسی د اورشلیم په حال ژاړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۱ کله چې عیسی اورشلیم ته نژدې شو او ښار یې ولیده، نو ورته په ژړا شو ۴۲ او ویې ویل:
«کاشکې نن تاته هم د سولې او سلامتۍ لار معلومه وای. خو نه، اوس دا لاره ستا د نظر څخه پټه
ده. ۴۳ ځکه چې داسې ورځې به دربانديې راشي چې ستا دښمنان به ستا څخه ګردچاپېره
مورچلې جوړې کړي، ستا نه به راتاو شي او د هرې خوا نه به دې راایسار کړي. ۴۴ هغوی به تا
او ستا خلک د ځمکې سره هوار کړي او په تا کې به یوه تیږه هم د بلې دپاسه پرېنږدي، ځکه چې
تا د خدای د راتللو وخت ونه پېژانده.»

## عیسی د خدای د کور څخه سوداګران شړي

(متي ۲۱:۱۲-۱۷ او مرقوس ۱۱:۱۵-۱۹ او یوحنا ۲:۱۳-۲۲)

۴۵ کله چې عیسی د خدای کور ته ننوت، نو د هغو خلکو په ویستلو یې پیل وکړ چې هلته یې
شیان خرڅول. ۴۶ هغوی ته یې وویل: «د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

زما کور به د دعا کور وي.

خو تاسو ورڅخه د غلو د پټېدلو ځای جوړ کړی دی.»

۴۷ عیسی هره ورځ د خدای په کور کې تعلیم ورکاوه. خو مشرانو کاهنانو، د شریعت عالمانو او
قومي مشرانو هڅه کوله چې هغه ووژني، ۴۸ خو هېڅ یې له لاسه پوره نه ؤ، ځکه چې ټولو
خلکو په ډېر شوق سره د هغه خبرو ته غوږ نیولی ؤ.

## د عیسی د اختیار په هکله پوښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۲۱:۲۳-۲۷ او مرقوس ۱۱:۲۷-۳۳)

۲۰ ۱ يوه ورځ کله چې عيسی د خدای په کور کې خلکو ته تعليم ورکاوه او زېری يې ورته
رسولو، مشران کاهنان او د شريعت عالمان د نورو يهودي مشرانو سره راغلل ۲ او هغه ته يې
وويل: «ته څه حق لرې چې دا کارونه کوې؟ چا تاته دا اختيار درکړی دی؟» ۳ عيسی هغوی ته
په ځواب کې وويل: «زه هم ستاسو څخه يوه پوښتنه کوم، ماته ووايئ چې ۴ د يحيی د تعميد
ورکول د خدای له خوا ؤ يا د انسان له خوا؟» ۵ هغوی په خپل منځ کې بحث وکړ او ويل يې:
«که چېرې ووايو چې د خدای له خوا ؤ، نو هغه به ووايي چې بيا تاسو ولې په هغه باندې ايمان رانه
وړ؟ ۶ خو که چېرې ووايو چې د انسان له خوا ؤ، نو ټول خلک به مونږ سنګسار کړي، ځکه
چې هغوی په دې عقيده دي چې يحيی پيغمبر ؤ.» ۷ نو ځواب يې ورکړ: «مونږ نه پوهېږو چې
د کوم ځای ؤ.» ۸ عيسی هغوی ته وويل: «زه هم تاسو ته نه وايم چې په کوم اختيار دا کارونه
کوم.»

## د انګورو د باغ او باغوانانو مثال

(متي ۲۱:۳۳-۴۶ او مرقوس ۱۲:۱-۱۲)

۹ بيا عيسی خلکو ته دا مثال راوړ: «يو سړي د انګورو باغ جوړ کړ او هغه يې باغوانانو ته په
اجاره ورکړ او په خپله د اوږدې مودې دپاره يو بل وطن ته لاړ. ۱۰ کله چې د انګورو د راټولولو
وخت راورسېد، نو هغه خپل يو نوکر باغوانانو ته ورولېږه چې د باغ د حاصلاتو څخه د هغه برخه
راوړي. خو باغوانانو هغه وواهه او تش لاس يې بېرته ولېږه. ۱۱ بيا هغه بل نوکر ورولېږه، خو
باغوانانو هغه هم وواهه، هغه يې بې‌عزته کړ او تش لاس يې بېرته ولېږه. ۱۲ بيا يې درېم نوکر
ورولېږه، خو هغه يې هم ټپي کړ او دباندې يې وغورځاوه. ۱۳ د باغ خاوند د خپل ځان سره
وويل: ‹اوس څه وکړم؟ زه به خپل ګران زوی ورولېږم، کېدای شي چې د هغه لحاظ وکړي.› ۱۴

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو کله چې باغوانانو هغه ولیده، نو یو بل ته یې سره وویل: ‹دا یې وارث دی. راځئ چې مړ یې
کړو، نو میراث به یې زمونږ شي.› ۱۵ نو هغه یې د انګورو د باغ څخه دباندې وویست او ویې
واژه.»

عیسی پوښتنه وکړه: «د باغ خاوند به اوس د هغوی سره څه کوي؟ ۱۶ هغه به راشي او دا
باغوانان به مړه کړي او د انګورو باغ به نورو ته ورکړي.» کله چې خلکو دا واورېدل، نو ویې ویل:
«خدای دې نه کړي.» ۱۷ عیسی هغوی ته په ځیر سره وکتل او پوښتنه یې وکړه: «نو بیا د زبور د
کتاب د دې برخې معنی څه ده؟

کومه تیږه چې رد کړې ګلکارانو وه

هغه اوس شوه اصلي تیږه د تهداب

۱۸ هرڅوک چې په دې تیږه راولوېږي، نو ټوټې ټوټې به شي او که هغه تیږه په چا باندې
راولوېږي، نو هغه به ذرې ذرې کړي.»

## د مالیې ورکولو په هکله پوښتنه

(متي ۲۲:۱۵-۲۲ او مرقوس ۱۲:۱۳-۱۷)

۱۹ د شریعت عالمانو او مشرانو کاهنانو غوښتل چې په هماغه ساعت عیسی ونیسي، ځکه چې
هغوی پوه شول چې دا مثال یې د دوی په هکله ووایه، خو د خلکو څخه وېرېدل. ۲۰ بیا هغوی
د موقعې په لټه کې وو او ځینې جاسوسان یې چې خپل ځانونه یې صادقان ښودل ولېږل، ترڅو
عیسی په خپلو خبرو کې راونیسي او هغه د روم والي ته چې د قدرت او واک خاوند دی وسپاري.
۲۱ جاسوسانو عیسی ته وویل: «استاذه! مونږ پوهېږو ته چې څه وایې او کوم تعلیم چې ورکوې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه سم دی. ته د هېچا طرفداري نه کوې، بلکې په رښتینولی سره د خدای د لارې تعلیم ورکوې.
۲۲ ایا مونږ ته روا ده چې امپراتور ته مالیه ورکړو که نه؟» ۲۳ عیسی پوه شو چې هغوی
ورسره چل کوي، نو ورته ویې ویل: ۲۴ «ماته د سپینو زرو یوه سکه وښایئ. په هغې باندې د چا
تصویر او د چا نوم دی؟» هغوی ځواب ورکړ: «د امپراتور.» ۲۵ عیسی وویل: «نو بیا څه چې د
امپراتور دي هغه امپراتور ته ورکړئ او څه چې د خدای دي هغه خدای ته ورکړئ.» ۲۶ هغوی
ونه شو کولای چې عیسی د خلکو په مخکې په خپلو خبرو کې راونیسي او د هغه په ځواب حیران
شول، نو غلي پاتې شول.

## د قیامت د ورځې په هکله پوښتنه

(متي ۲۳:۲۲-۳۳ او مرقوس ۱۸:۱۲-۲۷)

۲۷ بیا ځینې صدوقیان چې د مرګ څخه وروسته د بیا راژوندي کېدلو څخه منکر وو، عیسی ته
راغلل او د هغه څخه یې یو سوال وکړ: ۲۸ «استاذه! موسی په شریعت کې مونږ ته لیکلي دي چې
که چېرې د چا ورور مړ شي او ښځه یې ترې پاتې شي او اولاد یې نه وي، نو د دې سړي ورور
باید د هغې کونډې سره واده وکړي، ترڅو د هغه اولادونه پیدا شي او هغه یې د مړه ورور اولادونه
وګڼل شي. ۲۹ نو داسې وشول چې اووه ورونه وو، لومړني یې ښځه وکړه او بې‌اولاده مړ شو.
۳۰ بیا دوهم یې هماغه ښځه وکړه، هغه هم بې‌اولاده مړ شو. ۳۱ بیا درېم هغه وکړه او په همدې
ډول اووه واړو د هغې سره ودونه وکړل او هر یو مړ شو، خو د یو هم اولاد ونه شو، ۳۲ او له ټولو
وروسته هغه ښځه هم مړه شوه. ۳۳ نو د قیامت په ورځ به هغه د کوم یو ښځه وي؟ ځکه چې
اووه واړو د هغې سره ودونه کړي وو.»

۳۴ عیسی ځواب ورکړ: «په دې نړۍ کې نر او ښځې ودونه کوي، ۳۵ خو کوم خلک چې د
راتلونکې نړۍ او د مرګ څخه د بیا راژوندي کېدلو لایق ګڼل شوي دي، هغوی یو د بله سره ودونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه کوي. ۳۶ هغوی به نور نه مړه کیږي، ځکه چې د فرښتو په شان به وي. هغوی د خدای
اولادونه دي، ځکه چې د مړو څخه د تل دپاره راژوندي شوي دي. ۳۷ او دا چې مړي بیا
راژوندي کیږي، موسی دا په خپله د سوځېدونکي بوټي په پېښه کې وښودله او هلته یې څښتن د
ابراهیم خدای، د اسحاق خدای او د یعقوب خدای وباله. ۳۸ هغه د مړو نه بلکې د ژوندیو خدای
دی، ځکه چې د هغه په نظر کې ټول ژوندي دي.» ۳۹ د شریعت ځینو عالمانو وویل: «استاذه!
ډېر ښه ځواب دې ورکړ.» ۴۰ له هغې وروسته نور چا جرات ونه کړ چې د هغه څخه بله پوښتنه
وکړي.

## مسیح د چا زوی دی؟

(متي ۲۲:۴۱-۴۶ او مرقوس ۱۲:۳۵-۳۷)

۴۱ بیا عیسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «هغوی څنګه ویلی شي چې مسیح د داود زوی دی؟
۴۲ ځکه چې خپله داود د زبور په کتاب کې وایي:

څښتن وویل زما بادار ته:

‹کېنېږه زما ښي لاس ته

۴۳ ترڅو چې ستا دښمنان

ستا د پښو لاندې کړم.›

۴۴ نو کله چې داود مسیح ته بادار وایي، بیا دا څنګه کېدای شي چې هغه د داود زوی وي؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د شریعت د عالمانو په خلاف خبرداری ورکوي

(متي ۲۳:۱–۳۶ او مرقوس ۱۲:۳۸–۴۰)

۴۵ په داسې حال کې چې ټولو خلکو د عیسی خبرو ته غوږ نیولی ؤ، خپلو شاګردانو ته یې
وویل: ۴۶ «د شریعت د عالمانو سره احتیاط کوئ. هغوی دا خوښوي چې په اوږدو چپنو کې
وګرځي او په بازارونو کې ورته خلک سلام واچوي او غواړي چې په کنیسو کې په مخکې ځایونو
او په مېلمستیاوو کې په لوړو ځایونو کې کښېني. ۴۷ هغوی د کونډو مالونه خوري او د ځان
ښودنې دپاره اوږدې اوږدې دعاګانې کوي. د داسې خلکو سزا به د ټولو نه سخته وي.»

## د یوې کونډې ښځې نذرانه

(متي ۱۲:۴۱–۴۴)

۲۱ ۱ عیسی شاوخوا وکتل او ویې لیدل چې شتمن خلک خپلې نذرانې د خدای د کور په
خزانه کې اچوي، ۲ او همدارنګه هغه یوه غریبه کونډه ولیدله چې خپلې دوه روپۍ یې په هغې
خزانه کې واچولې. ۳ عیسی وویل: «زه تاسو ته رښتیا وایم چې دې غریبې کونډې د نورو ټولو
څخه زیاتې پیسې واچولې، ۴ ځکه چې هغوی ټولو هغه پیسې واچولې چې د هغوی د اړتیاوو
څخه زیاتې وې، خو دې ښځې د خپلې غریبۍ سره بیاهم هرڅه چې یې لرل واچول.»

## د خدای د کور د ورانېدلو پېشګویي

(متي ۲۴:۱–۲ او مرقوس ۱۳:۱–۲)

۵ ځینو شاګردانو د خدای د کور په هکله خبرې کولې او د هغو ښکلو تیږو او نذرانو صفتونه یې
کول چې د خدای کور ورباندې ښکلی شوی ؤ. عیسی وویل: ۶ «دا شیان چې تاسو یې وینئ،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې وخت به راشي چې په دې کې به يوه تيږه هم په بله تيږه پاتې نه شي او ټولې به راونړېږي.»

## د اخرې زمانې نښې

(متي ۳:۲۴-۱۴ او مرقوس ۳:۱۳-۱۳)

۷ هغوی پوښتنه وکړه: «ای استاذه! دا هرڅه به کله پېښيږي او د دې پېښو د رانژدې کېدلو نښې
به څه وي؟» ۸ عیسی وویل: «پام کوئ چې بې‌لارې نه شئ. ځکه چې ډېر به زما په نوم راشي
او وايي به: ‹زه مسیح یم› او ‹هغه وخت رارسېدلی دی.› خو د هغوی پسې مه ځئ. ۹ کله چې
د جنګونو او ګډوډیو په هکله کوم څه اورئ، نو مه وېرېږئ. ځکه چې لومړی به دا شیان خامخا
پېښیږي، خو دا د دې معنی نه لري چې دا هرڅه به سمدلاسه پای ته ورسیږي.»

۱۰ بیا يې هغوی ته وویل: «یو قوم به د بل قوم سره جنګیږي، یوه پاچاهي به د بلې پاچاهۍ سره
جنګیږي. ۱۱ سختې زلزلې به وشي، په ډېرو ځایونو کې به قحطي او وباګانې راشي او په اسمان
کې به وېرونکې او لویې نښې رابنکاره شي. ۱۲ خو له دې هرڅه نه مخکې به هغوی تاسو
ونیسي او وبه مو ځوروي. تاسو به د محاکمې دپاره کنیسو ته وسپارل شئ او په زندانونو کې به
واچول شئ او زما د نوم په خاطر به د محاکمې دپاره پاچاهانو او والیانو ته بوتلل شئ. ۱۳ دا به
ستاسو دپاره د شاهدۍ ورکولو یوه موقعه وي. ۱۴ په دې هکله ډېر فکر مه کوئ چې د خپلو
ځانونو څخه به څنګه دفاع کوئ. ۱۵ ځکه چې زه به تاسو ته د خبرو کولو حکمت درکړم چې
ستاسو له دښمنانو څخه به هېڅوک ونه شي کولای ستاسو په وړاندې ودرېږي او یا مخالفت وکړي.
۱۶ تر دې چې ستاسو مور او پلار، ورونه، خپلوان او ملګري به ستاسو سره خیانت وکړي او
ستاسو څخه به ځینې ووژل شي ۱۷ او زما د نوم له امله به ټول خلک ستاسو څخه کرکه کوي.
۱۸ خو ستاسو د سر یو ویښته به هم کم نه شي. ۱۹ ټینګ ودرېږئ، نو تلپاتې ژوندون به وګټئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اورشليم د ورانېدلو پېشګويي

(متي ۲۴:۱۵-۲۱ او مرقوس ۱۳:۱۴-۱۹)

۲۰ خو کله چې تاسو ووينئ چې اورشليم د لښکرو له خوا کلابند شوی دی، نو بيا پوه شئ چې د
هغه د ورانېدلو وخت رانژدې شوی دی. ۲۱ نو په هغه وخت کې چې څوک په يهوديه کې وي
هغه دې غرونو ته وتښتي. څوک چې په ښار کې وي، نو د ښار څخه دې ووځي او څوک چې د
ښار څخه دباندې وي هغوی دې ښار ته نه ننوځي. ۲۲ ځکه چې دا به د سزا ورکولو ورځې وي،
ترڅو هغه څه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي پوره شي. ۲۳ افسوس دې وي د هغو
ښځو په حال چې په هغو ورځو کې اميدوارې وي او په هغو ميندو باندې چې خپلو ماشومانو ته
شيدې ورکوي. ځکه چې د ځمکې په مخ به سخت مصيبت راشي او په دې خلکو به د خدای
غضب نازل شي. ۲۴ هغوی به په تورو ووژل شي او ټولو هېوادونو ته به د اسيرانو په توګه بوتلل
شي او اورشليم به د غيريهوديانو له خوا تر پښو لاندې کېږي، ترڅو د غيريهوديانو دوران پای ته ونه
رسيږي.

## د انسان د زوی راتګ

(متي ۲۴:۲۹-۳۱ او مرقوس ۱۳:۲۴-۲۷)

۲۵ په لمر، سپوږمۍ او ستورو کې به نښې راښکاره شي او قومونه به د ځمکې په مخ د بحيرو د
شور او څپو څخه تنګ او پرېشانه شي. ۲۶ خلک به د دې پېښې له وېرې او انديښنې څخه چې
په نړۍ کې رامنځته کېږي بې‌هوښه شي، ځکه چې اسماني موجودات به ولړزول شي. ۲۷ بيا به
هغوی د انسان زوی ووينې چې په ورېځ کې به د قدرت او زيات جلال سره راروان وي. ۲۸ کله
چې دا شيان پيل شي نو تاسو نېغ ودرېږئ او زړور اوسئ، ځکه چې ستاسو خلاصون نژدې دی.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د انځر د ونې څخه عبرت اخیستل

(متي ۲۴:۳۲-۳۵ او مرقوس ۱۳:۲۸-۳۱)

۲۹ بیا عیسی هغوی ته دا مثال راوړ: «د انځر ونې او نورو ونو ته وګورئ. ۳۰ کله چې هغه
غوټۍ وسپړي، نو تاسو خپله وینئ او پوهېږئ چې اوړی رانژدې شوی دی. ۳۱ په همدې ډول
کله چې د دې شیانو پېښېدل ووینئ، نو پوه شئ چې د خدای پاچاهي نژدې شوې ده. ۳۲ په یقین
سره زه تاسو ته دا وایم چې دا نسل به تر هغې پورې له منځه لاړ نه شي، ترڅو دا ټولې پېښې
رامنځته شوې نه وي. ۳۳ ځمکه او اسمان به له منځه لاړ شي، خو زما خبرې به هېڅکله له منځه
لاړې نه شي.

## بېداره اوسئ

۳۴ پام کوئ، خپل زړونه په مېلو، نشو او دنیاوي اندېښنو مه اخته کوئ، هسې نه چې هغه ورځ به
ناڅاپه په تاسو راشي، ۳۵ او لکه د دام په شان به د نړۍ ټول خلک چې په هرځای کې وي راګېر
کړي. ۳۶ نو بېدار اوسئ او هر وخت دعا کوئ، ترڅو دا توان پیدا کړئ چې د دې ټولو شیانو
څخه چې ډېر زر به پېښ شي، وژغورل شئ او د انسان د زوی په مخکې ودرېدلی شئ.»

۳۷ عیسی به د ورځې له خوا د خدای په کور کې تعلیم ورکاوه. ماښام به وتلو او شپه به یې د
زیتون په غره کې تېروله ۳۸ او سهار وختي به ټول خلک د خدای کور ته ورتلل چې د هغه
خبرې واوري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسی د وژلو دسیسه

(متي ۲۶:۱–۵ او مرقوس ۱۴:۱–۲ او یوحنا ۱۱:۴۵–۵۳)

**۲۲** ۱ د فطیرې ډوډۍ اختر چې د فسحې په نامه مشهور ؤ، نژدې شو. ۲ مشرانو کاهنانو
او د شریعت عالمانو هڅه کوله چې یوه لاره پیدا کړي چې عیسی ووژني، خو له خلکو څخه
وېرېدل.

## یهودا اسخریوتي دې ته راضي کېږي چې د عیسی سره خیانت وکړي

(متي ۲۶:۱۴–۱۶ او مرقوس ۱۴:۱۰–۱۱)

۳ بیا شیطان د یهودا اسخریوتي په زړه کې چې د هغو دولسو شاګردانو څخه ؤ، ننوت. ۴
یهودا لاړ او د مشرانو کاهنانو او د خدای د کور د ساتونکو د آمرانو سره یې په دې هکله خبرې
وکړې چې څنګه عیسی هغوی ته په لاس ورکړي. ۵ هغوی ډېر خوشحاله شول او د هغه سره
یې د پیسو وعده وکړه. ۶ نو یهودا ورسره ومنله او د یوې ښې موقعې په لټه کې شو چې کله د
عیسی سره نور خلک نه وي هغوی ته یې په لاس ورکړي.

## د فسحې د اختر تیاری

(متي ۲۶:۱۷–۲۵ او مرقوس ۱۴:۱۲–۲۱)

۷ بیا د فطیرې ډوډۍ د اختر ورځ چې په هغه کې به د فسحې وری قرباني کېده، راورسېدله.
۸ نو عیسی پطروس او یوحنا ولېږل او ورته وېې ویل: «لاړ شئ او زمونږ دپاره د فسحې ډوډۍ
تیاره کړئ چې وېې خورو.» ۹ هغوی ورڅخه پوښتنه وکړه: «په کوم ځای کې غواړې چې تیاره
یې کړو؟» ۱۰ هغه ځواب ورکړ: «ګورئ، څنګه چې ښار ته ننوځئ، نو یو سړی به ستاسو سره
مخامخ شي چې د اوبو منګی به وړي. هغه چې کوم کور ته ننوځي، تاسو هم ورپسې لاړ شئ. ۱۱

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د کور خاوند ته ووایئ: ‹استاذ وايي د مېلمنو کوټه چېرته ده چې زه په کې د خپلو شاګردانو سره
د فسحې ډوډۍ وخورم؟› ۱۲ هغه به تاسو ته پاس په بالاخانه کې یوه لویه فرش شوې کوټه
درونښايي، نو هلته ډوډۍ تیاره کړئ.» ۱۳ هغوی لاړل او ټول شیان یې لکه څنګه چې عیسی
ورته ویلي وو په هماغه ډول ولیدل او د فسحې ډوډۍ یې تیاره کړه.

## د څښتن غوره ماښامی

(متي ۲۶:۲۶–۳۰ او مرقوس ۱۴:۲۲–۲۶ او لومړی قرنتیان ۱۱:۲۳–۲۵)

۱۴ کله چې هغه ساعت راورسېد، عیسی د خپلو رسولانو سره دسترخوان ته کښېناست. ۱۵
هغوی ته یې وویل: «زړه مې ډېر غوښتل چې د کړاوونو د زغملو څخه مخکې ستاسو سره د فسحې
ډوډۍ وخورم. ۱۶ ځکه زه تاسو ته وایم چې ترڅو پورې د فسحې د قربانۍ مقصد د خدای په
پاچاهۍ کې پوره نه شي، تر هغې پورې به نور دا ډوډۍ ونه خورم.» ۱۷ بیا عیسی پیاله
راواخیستله، شکر یې وویست او ویې ویل: «دا واخلئ او په خپل منځ کې یې ووېشئ. ۱۸ ځکه
زه تاسو ته وایم چې له دې وروسته به تر هغې پورې د انګورو شربت ونه څښم، ترڅو د خدای
پاچاهي رانه شي.» ۱۹ بیا هغه یوه ډوډۍ راواخیستله، شکر یې پرې وویست، هغه یې ماته کړه او
هغوی ته یې ورکړه او ویې ویل: «دا زما بدن دی چې ستاسو دپاره ورکول کیږي. زما په یاد
همداسې کوئ.» ۲۰ په همدې ډول د ماښام ډوډۍ څخه وروسته یې پیاله راواخیستله او ویې
ویل: «دا پیاله د خدای او انسانانو ترمنځ نوی لوظ دی چې زما د وینې په وسیله جوړېږي چې
ستاسو دپاره تویيږي. ۲۱ خو ګورئ، هغه څوک چې زما سره به خیانت کوي هغه دلته زما سره په
دسترخوان ناست دی. ۲۲ لکه څنګه چې د خدای له خوا مقرره وه چې د انسان زوی باید مړ
شي، خو افسوس د هغه چا په حال چې د هغه سره خیانت کوي.» ۲۳ بیا هغوی په خپلو کې یو د
بل څخه پوښتنې پیل کړې چې په دوی کې به څوک دا کار کوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د لويۍ په هکله بحث

۲۴ بيا د هغوی ترمنځ ناندرۍ پيل شوې چې په دوی کې به څوک د ټولو څخه لوی وګڼل شي.
۲۵ عيسی هغوی ته وويل: «د غيريهوديانو پاچاهان په خپلو خلکو باداري کوي او واکمنان د
خلکو خيرخواه ګڼل کيږي. ۲۶ خو تاسو داسې مه اوسئ، بلکې په تاسو کې دې تر ټولو لوی خپل
ځان کوچنی وګڼي او مشر دې د خدمتګار په شان وي. ۲۷ خلک څه فکر کوي چې په دوی
دواړو کې کوم يو لوی دی، هغه څوک چې ډوډۍ ته ناست دی او يا هغه څوک چې خدمت کوي؟
په يقين سره هغه څوک چې ډوډۍ ته ناست دی. خو زه ستاسو په منځ کې د يو خدمتګار په شان
يم.

۲۸ خو تاسو زما د ازمېښتونو په وخت کې زما سره ولاړ وئ. ۲۹ لکه څنګه چې زما پلار ماته
د پاچاهۍ حق راکړی دی، زه هم تاسو ته دا حق درکوم. ۳۰ تاسو به زما په پاچاهۍ کې زما په
دسترخوان خورئ او څښئ او په تختونو باندې به کښېنئ او د اسراييلو په دولسو قبيلو باندې به
حکومت کوئ.»

## د پطروس د انکار په هکله د عيسی پېشګويي

(متي ۲۶:۳۱–۳۵ او مرقوس ۱۴:۲۷–۳۱ او يوحنا ۱۳:۳۶–۳۸)

۳۱ عيسی وويل: «ای شمعونه، ای شمعونه! واوره، شيطان وغوښتل چې تاسو ټول وازمايي، ښه او
بد سره بېل کړي لکه څنګه چې بزګر د غنمو څخه بوس بېل کوي. ۳۲ خو شمعونه! ما ستا دپاره
دعا کړې ده چې ايمان دې له منځه لاړ نه شي. کله چې دې توبه وويستله او بېرته ماته
راوګرځېدلې، نو خپل ورونه دې قوي کړه.» ۳۳ پطروس ځواب ورکړ: «ای استاذه! زه ستا سره
زندان او مرګ ته هم تيار يم.» ۳۴ عيسی وويل: «ای پطروسه! زه تاته وايم چې نن شپه به د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چرګ د اذان څخه مخکې درې ځلې وواېې چې ته ما نه پېژنې.»

## د پیسو کڅوړه، خورجین او توره

۳۵ عیسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «کله چې ما تاسو بې د پیسو له کڅوړې، بې‌خورجینې او
بې له څپلیو ولېږلئ، ایا په هغه وخت کې ستاسو سره د کوم شي کمی ؤ؟» هغوی ځواب ورکړ:
«نه.» ۳۶ عیسی وویل: «خو اوس هرڅوک چې د پیسو کڅوړه لري هغه دې د ځان سره واخلي
او همدارنګه خپل خورجین هم. او د هرچا سره چې توره نه وي، نو خپله چپنه دې خرڅه کړي او
یوه توره دې واخلي. ۳۷ ځکه زه تاسو ته وایم چې د خدای د کلام دا لیکنه باید پوره شي چې
وایي:

هغه به په مجرمانو کې وشمېرل شي.

ځکه هرڅه چې زما په هکله لیکل شوي دي هغه به رښتیا شي.» ۳۸ شاګردانو وویل: «ګوره
استاذه! زمونږ سره دلته دوه تورې دي.» عیسی ځواب ورکړ: «دا بس دي.»

## عیسی د زیتون په غره کې دعا کوي

(متي ۲۶:۳۶–۴۶ او مرقوس ۱۴:۳۲–۴۲)

۳۹ عیسی دباندې ووت او د خپل عادت له مخې د زیتون غره ته روان شو او شاګردان یې هم
ورپسې لاړل. ۴۰ کله چې هغه ځای ته ورسېده، نو هغوی ته یې وویل: «دعا وکړئ چې په
ازمېښت کې ونه لوېږئ.» ۴۱ بیا عیسی د هغوی څخه یو څو ګامه لېرې لاړ، په ګونډو شو او دعا
یې وکړه. ۴۲ هغه وویل: «ای پلاره! که چېرې ستا رضا وي، نو دا پیاله زما څخه لېرې کړه. خو
زما رضا نه، بلکې ستا رضا دې پوره شي.» ۴۳ بیا د اسمان څخه یوه فرښته هغه ته راښکاره شوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه ته يې قوت ورکړ. ۴۴ عیسی په ډېر سخت حالت کې ؤ او په ډېر جوش سره يې دعا وکړه
او خولې يې د وينو د څاڅکو په شان په ځمکه باندې څڅېدلې. ۴۵ کله چې عیسی د دعا څخه
راپاڅېده، نو شاګردانو ته راغی او ويې ليدل چې هغوی له غمه ستومانه او ويده شوي وو. ۴۶
هغوی ته يې وويل: «تاسو ولې ويده يئ؟ پاڅېږئ او دعا وکړئ چې په ازمېښت کې ونه لوېږئ.»

## د عیسی سره خيانت کول او نيول

(متي ۲۶:۴۷–۵۶ او مرقوس ۱۴:۴۳–۵۰ او یوحنا ۱۸:۳–۱۱)

۴۷ عیسی لا خبرې کولې چې يوه ډله راغله او يهودا چې د هغو دولسو شاګردانو څخه ؤ، د
هغوی څخه مخکې روان ؤ. هغه عیسی ته ورنژدې شو چې ښکل يې کړي. ۴۸ خو عیسی وويل:
«ای يهودا! ايا په ښکلولو سره د انسان زوی دښمنانو ته په لاس ورکوې؟» ۴۹ کله چې د عیسی
شاګردانو وليدل چې څه کيږي، نو ويې ويل: «استاذه! ايا په تورو يې ووهو؟» ۵۰ د هغوی څخه
يو تن د لوی کاهن په نوکر ګوزار وکړ او د هغه ښي غوږ يې پرې کړ. ۵۱ خو عیسی وويل: «بس
يې دی.» عیسی د هغه سرې په غوږ باندې خپل لاس کېښود او هغه يې روغ کړ. ۵۲ بيا عیسی
مشرانو کاهنانو، د خدای د کور د ساتونکو آمرانو او نورو قومي مشرانو ته چې د هغه د نيولو دپاره
راغلي وو، وويل: «ايا زه کوم داړه مار يم چې د تورو او کوتکونو سره زما د نيولو دپاره راغلي يئ؟
۵۳ زه هره ورځ ستاسو سره د خدای په کور کې وم او تاسو زما د نيولو هڅه ونه کړه. خو دا
وخت چې تياره خپره ده، نو ستاسو وخت دی.»

## پطروس له عیسی څخه انکار کوي

(متي ۲۶:۵۷–۵۸،۶۹–۷۵ او مرقوس ۱۴:۵۳–۵۴،۶۶–۷۲ او یوحنا ۱۸:۱۲–۱۸،۲۵–۲۷)

۵۴ هغوی عیسی ونيوه او د لوی کاهن کور ته يې بوته او پطروس د لېرې نه ورپسې روان ؤ.
۵۵ هغوی د حوېلۍ په منځ کې اور بل کړ او ګردچاپېره ورڅخه کښېناستل او پطروس هم د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی سره کښېناست. ۵۶ په داسې حال کې چې هغه د اور رڼا ته ناست ؤ يوې وينځې هغه
وليده، نو په ځير يې ورته وکتل او ويې ويل: «دا سړی هم د عيسی سره ؤ.» ۵۷ خو پطروس
منکر شو او ويې ويل: «ای ښځې! زه هغه نه پېژنم.» ۵۸ لږ وروسته يو بل سړي هم هغه ته وکتل
او ويې ويل: «ته هم د هغو له ډلې څخه يې.» خو پطروس وويل: «ای وروره! زه نه يم.» ۵۹
شاوخوا يو ساعت وروسته يو بل سړي تاييد کړه او ويې ويل: «په دې کې هېڅ شک نشته چې دا
سړی هم د عيسی سره ؤ، ځکه چې هغه هم جليلي دی.» ۶۰ خو پطروس ځواب ورکړ: «ای
وروره! زه نه پوهېږم چې ته څه وايې.» هغه لا خبرې کولې چې سمدلاسه چرګ اذان وکړ. ۶۱
عيسی مخ راواړاوه او پطروس ته يې وکتل او پطروس ته د عيسی خبرې ور په ياد شوې چې هغه
ته يې ويلي وو: «نن شپه به د چرګ د اذان څخه مخکې درې ځلې ووايې چې ته ما نه پېژنې.»
۶۲ پطروس دباندې ووت او په چيغو چيغو يې وژړل.

## د عيسی سپکاوی او وهل

(متي ۲۶:۶۷–۶۸ او مرقوس ۱۴:۶۵)

۶۳ کومو خلکو چې د عيسی ساتنه کوله په هغه باندې ملنډې ووهلې او ويې واهه. ۶۴ د هغه
سترګې يې وتړلې او پوښتنه يې ترې وکړه: «اوس له غيبو ووايه چې ته چا ووهلې؟» ۶۵ او نورې
ډېرې سپکې خبرې يې هم ورته وکړې.

## عيسی د مذهبي شورا په مخکې

(متي ۲۶:۵۹–۶۶ او مرقوس ۱۴:۵۵–۶۴ او يوحنا ۱۸:۱۹–۲۴)

۶۶ کله چې ورځ شوه نو قومي مشران، د کاهنانو مشران او د شريعت عالمان سره راټول شول او
عيسی يې خپلې شورا ته راوست. ۶۷ هغوی وويل: «مونږ ته ووايه چې ته مسيح يې؟» هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځواب ورکړ: «که زه تاسو ته ووايم، نو په ما به باور ونه کړئ ۶۸ او که زه درڅخه پوښتنه وکړم،
نو تاسو به ځواب رانه کړئ. ۶۹ خو له دې وروسته به د انسان زوی د مطلق قادر خدای ښي
لاس ته ناست وي.» ۷۰ هغوی ټولو وويل: «نو بيا ته د خدای زوی يې؟» عيسی ځواب ورکړ:
«تاسو خپله وايئ چې زه يم.» ۷۱ هغوی وويل: «نور مونږ شاهدانو ته اړتيا نه لرو. مونږ هرڅه د
هغه د خپلې خولې څخه واورېدل.»

## عيسی د پيلاتوس په حضور کې

(متي ۲۷:۱-۲،۱۱-۱۴ او مرقوس ۱۵:۱-۵ او يوحنا ۱۸:۲۸-۳۸)

۲۳ ۱ بيا د شورا ټول غړي پاڅېدل او عيسی يې پيلاتوس ته بوته ۲ او په هغه باندې يې
په تور لګولو پيل وکړ او ويې ويل: «مونږ وليدل چې دې سړي زمونږ قوم بې لارې کاوه او خلک
يې امپراتور ته د ماليې ورکولو څخه منع کول او دعوه کوي چې هغه خپله مسيح يعنې پاچا دی.»
۳ پيلاتوس د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ايا ته د يهوديانو پاچا يې؟» عيسی ځواب ورکړ: «ته په
خپله وايې.» ۴ بيا پيلاتوس مشرانو کاهنانو او حاضرو خلکو ته وويل: «زه په دې سړي کې
هيڅ ډول جرم نه وينم.» ۵ خو هغوی ډېر ټينګار کاوه او ويل يې: «هغه په ټوله يهوديه کې په
تعليم ورکولو سره خلک راپاروي. هغه د جليل څخه پيل وکړ او تر دې ځايه راورسېد.»

## عيسی هيروديس ته لېږل کيږي

۶ کله چې پيلاتوس دا واورېدل، نو پوښتنه يې وکړه: «ايا دا سړی جليلي دی؟» ۷ کله چې
هغه خبر شو چې عيسی د هغې سيمې څخه دی چې د هيروديس تر واکمنۍ لاندې ده، نو هغه يې
هيروديس ته چې په هغه وخت کې په اورشليم کې ؤ، ولېږه. ۸ کله چې هيروديس عيسی وليده
نو ډېر خوشحاله شو، ځکه چې د هغه په هکله يې ډېر څه اورېدلي وو او له ډېرې مودې راهيسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې غوښتل چې عيسی ووينې. هغه په دې تمه ؤ چې د هغه څخه کومه معجزه ووينې. ۹ نو
هيروديس د عيسی څخه ډېرې پوښتنې وکړې، خو عيسی هېڅ ځواب ورنه کړ. ۱۰ مشران کاهنان
او د شريعت عالمان ولاړ وو او په عيسی يې سخت تورونه ولګول. ۱۱ هيروديس او د هغه
عسکرو په عيسی باندې ملنډې ووهلې او د هغه سپکاوی يې وکړ، بيا يې د پاچاهۍ چپنه ورته
ورواغوستله او بېرته يې پيلاتوس ته ورولېږه. ۱۲ په هماغه ورځ هيروديس او پيلاتوس يو د بل
سره ملګري شول، ځکه چې له دې څخه مخکې د هغو دواړو ترمنځ دښمني وه.

## عيسی ته د مرګ سزا ورکول کيږي

(متي ۲۷:۱۵-۲۶ او مرقوس ۱۵:۶-۱۵ او يوحنا ۱۸:۳۹ - ۱۹:۱۶)

۱۳ بيا پيلاتوس مشران کاهنان، د قوم مشران او خلک راوغوښتل ۱۴ او هغوی ته يې وويل:
«تاسو دا سړی ماته راوستلی دی او وايئ چې هغه خلک بې‌لارې کوي. خو اوس ما ستاسو په
مخکې د هغه څخه پوښتنې وکړې او په هغه کې مې هغه جرم ونه مونده چې تاسو پرې تور لګولی
دی. ۱۵ او نه هم هيروديس په هغه کې کومه ګناه وليدله، نو ځکه يې بېرته مونږ ته راولېږه. ښکاره
ده چې هغه داسې کوم کار نه دی کړی چې د مرګ لايق وي. ۱۶ نو زه به هغه د يو څو دورو
وهلو وروسته پرېږدم چې لاړ شي.» [ ۱۷ ځکه په هغه وخت کې داسې رواج ؤ چې په هر اختر
کې يو بندي ازاد شي.]

۱۸ خو ټولو خلکو په يو اواز چيغې کړې: «دا سړی ووژنه! باراباس مونږ ته ازاد کړه.» ۱۹
باراباس يو سړی ؤ چې په ښار کې د بغاوت او قتل په تور زندان ته اچول شوی ؤ. ۲۰ پيلاتوس
چې غوښتل يې عيسی خلاص کړي يوځل بيا هغوی ته خبرې وکړې. ۲۱ خو هغوی چيغې
وهلې: «په صليب باندې يې ځوړند کړه، په صليب باندې يې ځوړند کړه.» ۲۲ پيلاتوس د دريم
ځل دپاره هغوی ته وويل: «ولې؟ څه جرم يې کړی دی؟ ما په هغه کې داسې کوم جرم ونه مونده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د مرګ لایق وګڼل شي. نو زه به هغه د یو څو دورو وهلو وروسته پرېږدم چې لاړ شي.» ۲۳
خو هغوی ټینګار کاوه او په لوړ اواز سره یې چیغې وهلې چې هغه باید په صلیب وځړول شي.
خلکو دومره چیغې ووهلې چې په پای کې د هغوی چیغې بریالی شوې. ۲۴ نو پیلاتوس د هغوی
د غوښتنې سره سم پرېکړه وکړه ۲۵ او باراباس یې چې د بغاوت او قتل له امله زنداني شوی و، د
زندان څخه خلاص کړ او عیسی یې هغوی ته په لاس ورکړ چې هرڅه وغواړي ورسره ویې کړي.

## عیسی په صلیب باندې مېخ کیږي

(متي ۲۷:۳۲-۴۴ او مرقوس ۱۵:۲۱-۳۲ او یوحنا ۱۹:۱۷-۲۷)

۲۶ کله چې عسکرو هغه په صلیب باندې د ځوړندولو دپاره بیولو، نو هغوی د شمعون په نامه یو
سړی چې د قیروان څخه و او د ښار دباندې سیمې څخه ښار ته راروان و، راونیوه. هغه یې مجبور
کړ چې صلیب په اوږه کړي او د عیسی پسې یې یوسي. ۲۷ ګڼ شمېر خلک په عیسی پسې روان
وو چې په هغو کې ښځې هم وې چې ځانونه یې وهل او د هغه دپاره یې ژړا او انګولا کوله. ۲۸
عیسی هغوی ته مخ راواړاوه او ورته ویې ویل: «ای د اورشلیم ښځو! زما دپاره مه ژاړئ، خو د
خپلو ځانونو او خپلو اولادونو دپاره وژاړئ. ۲۹ ځکه چې داسې ورځې راتلونکې دي چې خلک
به وايي چې هغه ښځې بختورې دي چې شنډې دي او هېڅکله یې ماشومان نه دي زېږولي او
هېڅکله یې تی نه دی ورکړی. ۳۰ په هغه وخت کې به خلک غرونو ته وايي چې په مونږ باندې
راولوېږئ او غونډیو ته به وايي چې مونږ پټ کړئ. ۳۱ ځکه که چېرې هغوی د شنې ونې سره
داسې کار کوي، نو د وچې ونې سره به څه کیږي؟»

۳۲ دوه نور مجرمان یې هم د عیسی سره روان کړي وو چې د هغه سره یوځای اعدام شي. ۳۳
کله چې هغوی هغه ځای ته چې د سر د کوپړۍ په نوم یادېده ورسېدل، نو عسکرو عیسی هلته په
صلیب باندې مېخ کړ او هغه دوه مجرمان یې هم ورسره په صلیب وځړول، یو یې د هغه ښي لاس

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته او بل يې د هغه چپ لاس ته. ۳۴ عيسى وويل: «اى پلاره! دوى وبخښه، ځکه دوى نه
پوهيږي چې څه کوي.» عسکرو د عيسى په کاليو باندې پچه واچوله او په خپل منځ کې يې سره
ووېشل. ۳۵ خلک د سيل دپاره هلته ولاړ وو او د يهوديانو مشرانو په هغه باندې ملنډې وهلې او
ويل يې: «هغه نور خلک ژغورل، که چېرې هغه په رښتيا سره د خداى غوره شوى مسيح وي، نو
اوس دې خپل ځان وژغوري.» ۳۶ عسکرو هم په هغه باندې ملنډې ووهلې او هغوى د عيسى
خواته ورنژدې شول او تروه شراب يې ورته ورکړل ۳۷ او ورته ويې ويل: «که چېرې ته د
يهوديانو پاچا يې، نو خپل ځان دې وژغوره.» ۳۸ د هغه د سر دپاسه يوه تخته لګول شوې وه
چې ورباندې ليکل شوي وو: «دا د يهوديانو پاچا دى.»

۳۹ يو له هغو مجرمانو څخه چې هلته ځړول شوى ؤ عيسى ته پېغور ورکړ او ويې ويل: «ايا ته
مسيح نه يې؟ نو بيا خپل ځان او مونږ وژغوره.» ۴۰ خو هغه بل مجرم هغه ورټلو او ورته ويې
ويل: «ايا ته له خدايه نه وېرېږې؟ ځکه چې په تا باندې هم د هغه په شان د مرګ حکم شوى دى.
۴۱ زمونږ سره انصاف شوى دى، ځکه چې مونږ ته د خپلو عملونو سزا راکول کيږي. خو دې
سړي کوم غلط کار نه دى کړى.» ۴۲ بيا هغه وويل: «اى عيسى! کله چې خپلې پاچاهۍ ته
ورسيږې، نو ما هم در په ياد کړه.» ۴۳ عيسى هغه ته وويل: «په يقين سره زه تاته وايم چې ته به
نن زما سره په جنت فردوس کې اوسې.»

## د عيسى مړينه

(متي ۲۷:۴۵-۵۶ او مرقوس ۱۵:۳۳-۴۱ او يوحنا ۱۹:۲۸-۳۰)

۴۴-۴۵ د غرمې شاوخوا دولس بجې وې چې لمر ورک شو او د ماسپښين تر درې بجو پورې
په ټوله سيمه کې تياره خپره شوه او د خداى د کور پرده په منځ کې دوه ټوټې شوه. ۴۶ عيسى په
لوړ اواز چيغه ووهله او ويې ويل: «اى پلاره! زه خپل روح تاته سپارم.» دا يې وويل او ساه يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړه. ۴۷ کله چې رومي منصبدار دا هرڅه ولیدل، نو د خدای ثنا یې وویله او ویې ویل: «بې له
شکه چې دا سړی بې‌ګناه ؤ.» ۴۸ هغه خلک چې دې ننداریې ته راټول شوي وو، کله یې چې دا
پېښه ولیدله، نو له غمه یې خپل ځانونه وهل او بېرته خپلو کورونو ته لاړل. ۴۹ د عیسی ټول
اشنایان او هغه ښځې چې د جلیل څخه هغه پسې راغلې وې په لېرې فاصله کې ولاړې وې او دا
هرڅه یې لیدل.

## د عیسی ښخېدل

(متي ۲۷:۵۷–۶۱ او مرقوس ۱۵:۴۲–۴۷ او یوحنا ۱۹:۳۸–۴۲)

۵۰ هلته د یوسف په نوم یو سړی ؤ چې په یهودیه کې د رامه د ښار څخه ؤ او د یهودیانو د شورا
غړی ؤ. هغه یو نېک او عادل سړی ؤ. ۵۱ خو د هغوی د دې پرېکړې او دې کار سره جوړ نه ؤ
او د خدای د پاچاهۍ په انتظار ؤ. ۵۲ هغه پیلاتوس ته ورغی او د عیسی مړی یې ترې وغوښت.
۵۳ بیا هغه د صلیب څخه مړی راښکته کړ او د کتان په کفن کې یې تاو کړ او په ګټ کې کیندل
شوي قبر کې یې کېښود چې د دې نه مخکې په کې څوک نه ؤ ښخ شوی. ۵۴ دا د جمعې ورځ
وه، یعنې سبت ته د تیارۍ نیولو ورځ وه او د سبت ورځ پیل کېدله.

۵۵ کومې ښځې چې د جلیل څخه د عیسی سره راغلې وې یوسف پسې روانې وې. هغوی قبر
ولیده چې د عیسی مړی په کې څنګه ایښودل شوی ؤ. ۵۶ بیا هغوی بېرته د اورشلیم ښار ته
لاړې او د مړي دپاره یې خوشبویه مسالې او عطر تیار کړل او د شریعت د حکم له مخې یې د سبت
په ورځ ارام وکړ.

## د عیسی بیا راژوندي کېدل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۱:۲۸–۱۰ او مرقوس ۱:۱۶–۸ او یوحنا ۱:۲۰–۱۰)

**۲۴** ۱ د یکشنبې په ورځ سهار وختي ښځو هغه تیار کړي خوشبویه تېل د ځان سره
واخیستل او قبر ته لاړې. ۲ هغوی ولیدل چې تیږه د قبر د خولې نه رغړول شوې وه. ۳ کله
چې دننه ورغلې، نو د عیسی مسیح مړی یې هلته پیدا نه کړ. ۴ هغوی لا حیرانې ولاړې وې
چې ناڅاپه دوه سړي چې ځلېدونکي کالي یې اغوستي وو د هغوی په خوا کې ودرېدل. ۵
ښځې ووېرېدلې او هغوی خپل سرونه ښکته ونیول، نو هغو سړیو ورته وویل: «تاسو ولې ژوندي په
مړو کې لټوئ؟ ۶ هغه دلته نشته، هغه راژوندی شوی دی. څه چې هغه درته په جلیل کې ویلي
وو، هغه در په یاد کړئ ۷ چې د انسان زوی باید ګناهکارانو ته په لاس ورکړل شي، په صلیب
به وځړول شي او په درېیمه ورځ به بیا راژوندی شي.» ۸ بیا هغو ښځو ته د عیسی خبرې ور په
یاد شوې. ۹ کله چې هغوی بېرته د قبر څخه راغلې، نو یوولس رسولان او نور ټول یې د دې
پېښې څخه خبر کړل. ۱۰ دا ښځې مریم مجدلیه، یونا او د یعقوب مور مریم وې او نورو ښځو هم
چې د هغوی سره وې، رسولانو ته دا خبرې وکړې. ۱۱ خو د هغوی خبرې رسولانو ته بې‌معنی
ښکاره شوې او په هغوی یې باور ونه کړ. ۱۲ خو پطروس پاڅېده او د قبر خواته یې منډه کړه.
کله چې ورټیټ شو او دننه یې وکتل، نو له کفن پرته یې نور هېڅ هم ونه لیدل. نو په دې شوې
پېښې حیران شو او خپل کور ته لاړ.

## د عماوس په لاره کې د عیسی لیدل

(مرقوس ۱۲:۱۶–۱۳)

۱۳ په هماغه ورځ د عیسی د پیروانو څخه دوه تنه د عماوس په نوم یو کلي ته چې د اورشلیم
څخه یوولس کیلومتره لیرې دی روان وو. ۱۴ هغوی له یو بل سره د دې ټولو پېښو په هکله
خبرې کولې. ۱۵ هغوی لا یو د بل سره خبرې او بحث کاوه چې خپله عیسی راغی او د هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره یوځای شو. ۱۶ دوی عیسی ولیده، خو د هغوی سترګې داسې شوې لکه چې وتړل شي او
هغه یې ونه پېژانده. ۱۷ عیسی هغوی ته وویل: «تاسو په لاره کې د څه شي په هکله یو د بل سره
بحث کاوه؟» هغوی ودرېدل او غمجن ښکاره کېدل. ۱۸ په دوی کې یو تن چې کلیوپاس نومېده د
هغه څخه پوښتنه وکړه: «ایا ته په اورشلیم کې یوازېنی مسافر یې چې له دې څخه خبر نه یې چې
په تېرو څو ورځو کې هلته څه پېښ شوي دي؟» ۱۹ عیسی پوښتنه وکړه: «څه شوي دي؟»
هغوی ځواب ورکړ: «دا هغه څه دي چې د ناصري عیسی سره وشول. هغه د خدای او ټولو خلکو
په حضور کې په وینا او عمل کې یو زورور پیغمبر ؤ. ۲۰ خو زمونږ مشرانو کاهنانو او واکمنانو
هغه پیلاتوس ته وسپاره چې د مرګ سزا ورته ورکړل شي او هغه یې په صلیب ځوړند کړ. ۲۱
مونږ هیله درلودله چې همدا سړی به اسراییلو ته خلاصون ورکوي، خو نن دریمه ورځ ده چې دا
کار شوی دی. ۲۲ برسېره پردې، زمونږ د ډلې څو ښځو مونږ حیران کړو. هغوی نن سهار وختي د
هغه قبر ته تللې وې، ۲۳ خو د هغه مړی یې پیدا نه کړ. هغوی بېرته راغلې او ویل یې چې په
رویا کې یې فرښتې ولیدلې چې دوی ته یې وویل چې هغه ژوندی دی. ۲۴ بیا زمونږ یو څو
کسان قبر ته لاړل او څه چې هغو ښځو ویلي وو هغه یې ولیدل، خو عیسی یې ونه لیده.»

۲۵ عیسی هغوی ته وویل: «تاسو څومره ناپوهه یئ او د پیغمبرانو د ویناوو په منلو کې زړه نازړه
یئ. ۲۶ ایا دا ضروري نه وه چې مسیح دا کړاوونه ووینې او بیا دې خپل جلال ته ورسیږي؟»
۲۷ بیا عیسی د موسی د تورات څخه نیولې د ټولو پیغمبرانو تر لیکنو پورې چې د خدای په کلام
کې خپله د هغه په هکله لیکل شوي وو، هغوی ته بیان کړل.

۲۸ کله چې دوی د عماوس کلي ته ورنژدې شول، نو عیسی داسې وښودل چې ګوندې هغه نور
هم مخکې ځي. ۲۹ خو هغوی ټینګار وکړ او ویې ویل: «زمونږ سره پاتې شه، ځکه چې ورځ په
تېرېدلو ده او ماښام نژدې دی.» نو عیسی کور ته ننوت چې د هغوی سره پاتې شي. ۳۰ کله چې
عیسی د هغوی سره دسترخوان ته کښېناست نو ډوډی یې راواخیستله، شکر یې پرې وویست، ماته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې کړه او هغوی ته يې ورکړه. ۳۱ ناڅاپه د هغوی سترګې وغړېدلې او عيسی يې وپېژانده، خو
هغه د هغوی د نظر څخه پناه شو. ۳۲ هغوی يو بل ته وويل: «کله چې په لاره کې هغه زمونږ سره
خبرې کولې او د خدای د کلام ليکنې يې راته بيانولې، ايا زمونږ زړونه په جوش رانغلل؟»

۳۳ هغوی سمدلاسه راپاڅېدل او بېرته اورشليم ته لاړل. هلته يې وليدل چې يوولس رسولان او
نور خلک سره راټول شوي وو ۳۴ او ويل يې چې عيسی په رښتيا راژوندی شوی او شمعون ته
ښکاره شوی دی. ۳۵ نو په لاره کې چې څه شوي وو هغو دواړو شاګردانو هغوی ته بيان کړل او
ورته ويې ويل چې څنګه يې عيسی د ډوډۍ ماتولو په وخت کې وپېژانده.

## عيسی خپلو شاګردانو ته ځان ښکاره کوي

(متي ۲۸:۱۶–۲۰ او مرقوس ۱۶:۱۴–۱۸ او يوحنا ۲۰:۱۹–۲۳ او د رسولانو عملونه ۱:۶–۸)

۳۶ هغوی لا د دې پېښو په هکله خبرې کولې چې ناڅاپه عيسی د هغوی په منځ کې ودرېده او
هغوی ته يې وويل: «په تاسو دې سلامتي وي.» ۳۷ هغوی ټکان وخوړ او سخت ووېرېدل، ځکه
ګومان يې کاوه چې د مړي ارواحويني. ۳۸ خو عيسی هغوی ته وويل: «ولې دومره وارخطا يئ؟
ستاسو په زړونو کې ولې داسې شکونه پيدا کيږي؟ ۳۹ زما لاسونو او پښو ته وګورئ او وګورئ
چې دا زه خپله يم. په ما لاس کېږدئ نو بيا به پوه شئ، ځکه چې ارواح غوښه او هډوکي نه لري او
لکه څنګه چې تاسو يې وينئ، زه يې لرم.» ۴۰ کله چې هغه دا وويل، نو خپل لاسونه او پښې يې
هغوی ته وښودلې. ۴۱ هغوی د ډېرې خوشحالۍ او حيرانتيا له امله نه شو کولای چې بياهم په
دې باور وکړي، نو عيسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «ايا ستاسو سره دلته د خوړلو دپاره څه
شته؟» ۴۲ هغوی ورته يوه ټوټه کباب شوی ماهي ورکړ، ۴۳ نو هغه يې واخيست او د هغوی په
مخکې يې وخوړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۴ بیا عیسی هغوی ته وویل: «دا زما هغه خبرې دي چې کله زه ستاسو سره وم او تاسو ته به
مې ویل چې هغه څه چې د موسی په تورات، د پیغمبرانو په لیکنو او د زبور په کتاب کې زما په
هکله لیکل شوي دي، باید رښتیا شي.» ۴۵ بیا یې د هغوی ذهنونه روښانه کړل، ترڅو د خدای په
کلام پوه شي ۴۶ او هغوی ته یې وویل: «همدارنګه لیکل شوي دي چې مسیح باید کړاوونه
وویني او مړ شي او په دریمه ورځ به بیا راژوندی شي، ۴۷ او د هغه په نوم به ټولو قومونو ته دا
پیغام ورسول شي چې توبه وباسي او خدای به یې ګناهونه وبخښي او پیل به یې له اورشلیم څخه
وي. ۴۸ تاسو د دې ټولو شیانو شاهدان یئ. ۴۹ او ګورئ، هغه څه چې زما پلار یې وعده کړې
ده، درلیږم. خو باید تر هغې پورې په دې ښار کې پاتې شئ، ترڅو په تاسو باندې اسماني قوت نازل
شي.»

## اسمان ته د عیسی ختل

(مرقوس ۱۶:۱۹–۲۰ او د رسولانو عملونه ۱:۹–۱۱)

۵۰ بیا عیسی هغوی د ښار څخه دباندې تر بیت‌عنیا پورې بوتلل، خپل لاسونه یې پورته کړل او
هغوی ته یې برکت ورکړ ۵۱ او په داسې حال کې چې هغوی ته یې برکت ورکاوه د هغوی څخه
بېل شو او اسمان ته پورته یووړل شو. ۵۲ هغوی ورته سجده وکړه او په ډېرې خوشحالۍ سره
بېرته اورشلیم ته راستانه شول. ۵۳ هغوی خپل ټول وخت د خدای په کور کې خدای ته په ثنا
ویلو تېر کړ.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.